# د حضرت يشعياه نبی کِتاب ـ ماخذ انبياء

## پېژندګلو

د حضرت يشعياه په دې کِتاب کښې د هغوئ دپاره يوه سخته دهمکی ده چا چې د خُدائ پاک پېغام نظرانداز کړو خو دې سره سره د معافئ او اُميد پېغام بيا هم په کښې موجود دے. د يشعياه اولنی ۳۹ بابونو کښې د يهوداه خلاف د عدالت سخت پېغامونه دی او ورته د توبې او پاکوالی دعوت دے. خلقو په ظاهره د خُدائ پرستئ شکل جوړ کړے وو خو زړونه يې د ګناه نه ډک وُو. خُدائ پاک هغوئ له د حضرت يشعياه په ذريعه خبردارے ورکړو، چې راشی د خپلو ګناهونو اقرار وکړی او خپل ځانونه پاک کړی، خو خلقو د هغهٔ پېغام ته غوږ ونهٔ نيولو. حضرت يشعياه د هغوئ په حقله پېشګوئې وکړه چې طاقتور قوم اسور به په هغوئ حمله وکړی او بنديوان به يې بوځی. هغه هم دا اميد ورکوی چې يوه ورځ به خلاصونکے هغوئ بچ کړی. په آخری ۲۷ بابونو کښې د خُدائ پاک د معافئ، تسلئ، او اُميد ذکر دے کله چې خُدائ پاک د حضرت يشعياه په وسيلې خبرې کوی، او ورته د حضرت عيسیٰ مسيح په راتلو کښې د خلاصون او برکت منصوبه ښکاره کوی. کله چې اِسرائيل پستئ طرف ته روان وو نو حضرت يشعياه ورته د اسوريانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د حملې د خطرې په حقله وفرمائيل خو اِسرائيل د هغۀ خبردارى نه اِنکار وکړو او راتلونکى تباهئ ته يې هيڅ غور ونۀ کړو. هغۀ ورته خبردارے ورکړو چې د يهوداه د خلقو ګناه به په هغوئ د خُدائ پاک عدالت راولى، او هغۀ ورته دا هم وفرمائيل چې خُدائ پاک قادر مطلق دے او هغه به دوئ د جلاوطنئ نه د فارس د خورس بادشاه په وسيلې واپس راولى. دا کِتاب د يوې هستئ په حقله خبرې کوى چې ډېر غمونه به برداشت کړى، هغه به زمونږ د ګناهونو په بدل کښې زخمى کړے شى، او په تاريخ کښې به راشى چې هغه زمونږ خلاصونکے دے. په آخرى بابونو کښې خُدائ پاک د يو نوى تخليق په حقله ښائسته بيان کوى په کوم کښې به چې خُدائ پاک د بادشاه په شان حکمرانى کوى، د بدعملو عدالت به کوى او ابدى امن به قائموى. د حفظ کولو دپاره ۴۱:۱۰ آيت "يريږئ مۀ، زۀ ستاسو مل يم. زۀ ستاسو خُدائ پاک يم، د څۀ نه هم مۀ وارخطا کيږئ. زۀ به تاسو مضبوط کړم او طاقت به درکړم، زۀ به په خپل زورَور ښى لاس سره ستاسو حِفاظت کوم."

## اول باب

١ ① په دې کِتاب کښې د يهوداه او د يروشلم په حقله هغه
پېغامونه دى کوم چې خُدائ پاک د آموص زوئ يشعياه
باندې په هغه وخت کښې ښکاره کړل کله چې عُزياه، يوتام،
احاز او حزقياه د يهوداه بادشاهان وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# یو سرکشه قوم

۲ مالِک خُدائ وفرمائیل، "اے زمکې او آسمانه، زۀ چې
څۀ وایم نو هغه واورئ. ما چې د کومو بچو پالنه کړې ده او
خیال مې ساتلے دے نو هغوئ زما خِلاف بغاوت کړے
دے. ۳ غوَیے خپل مالِک پېژنی او خر د خپل مالِک اخور
پېژنی. خو بنی اِسرائیل خپل مالِک نۀ پېژنی، زما خلق د عقل
نه خلاص دی." ۴ اے ګناهګار قومه، تاسو خپلو ګناهونو
رالاندې کړی یئ. بدعمله نسله، بدکرداره بچو، تاسو خپل
مالِک خُدائ رد کړے دے. کوم چې د بنی اِسرائیلو مقدس
خُدائ پاک دے او تاسو د هغۀ نه مخ اړولے دے. ۵ تاسو
خپله سرکشی ولې نۀ پرېږدئ؟ تاسو غواړئ چې نوره سزا هم
درته مِلاو شی؟ ستاسو سرونه په زخمونو باندې پټ دی او
ستاسو زړونه بیمار دی. ۶ د سر نه واخله تر پښو پورې
ستاسو په بدن کښې یو ځائ هم روغ نشته. تاسو ټول ټکېدلی
یئ، زخمی یئ او تغمې درباندې ولاړې دی. نۀ ستاسو زخمونه
صفا کړے شوی دی، او نۀ ورباندې مرهم پټۍ شوې ده. ۷
ستاسو مُلک شاړ شوے دے، ستاسو ښارونه سوزولے
شوی دی. ستاسو په وړاندې د پردی مُلک خلق ستاسو پټی
لوټ کوی، او هر څۀ چې وینی هغه تباه کوی. ۸ صرف
صیون لور باقی پاتې ده، لکه چې د انګورو په باغ کښې د
څوکیدار جومپړی پاتې وی یا د بادرنګو په پټی کښې یو څپر
بې‌اسرې وی، او د محاصرې لاندې بې‌اسرې ښار وی. ۹
کۀ مالِک خُدائ ربُ الافواج یو څو کسان ژوندی نۀ وے
پرېښے، نو یروشلم به د سدوم او عموره په شان تباه شوے
وو. ۱۰ اے یروشلمه، ستا حکمرانان او ستا خلق د سدوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د عموره په شان دی. چې مالِک خُدائ درته څۀ فرمائی نو
هغې ته غوږ ونیسه او چې خُدائ پاک درته څۀ ښودنه کوی
نو هغې ته توجو وکړه. ١١ مالِک خُدائ فرمائی، ”کۀ تاسو
بےشمېره قربانیانې پېش کړئ نو زما پرې څۀ؟ زۀ د ښو
څناورو وازګې او د ګډانو د سوزېدونکو قربانو نه پوزې له
راغلے یم. په دې زۀ نۀ خوشحالېږم چې تاسو ما ته د غوَیانو،
ګډو او د چېلو وینې پېش کوئ. ١٢ کله چې تاسو زما
حضور ته راځئ نو ولې ستاسو خیال دا دے څۀ چې زۀ دا
غواړم چې ستاسو څناور دې زما په دربار کښې ګرځی؟ ١٣
تاسو چې ما له کومې نذرانې راوړئ دا بےفائدې دی. تاسو
چې د خوشبویۍ کومې مصالحې سوزوئ نو د هغې نه زۀ
نفرت کوم. زۀ ستاسو د نوې میاشتې اخترونه، ستاسو د
سبت ورځې او ستاسو مذهبی اجتماعګانې نۀ شم برداشت
کولے، دا هر څۀ ستاسو د ګناهونو په وجه خراب شوی دی.
١٤ ستاسو د نوې میاشتې د اخترونو او ستاسو د مقدسو
ورځو نه زۀ نفرت کوم، دا په ما باندې یو بوج جوړ شوے
دے او د دې برداشت کولو نه زۀ تنګ راغلے یم. ١٥ کله
چې تاسو د دُعا دپاره لاسونه پورته کړئ، نو زۀ به ستاسو نه
مخ واړوم. تاسو چې هر څومره دُعاګانې وکړئ، نو زۀ به یې
نۀ قبلوم، ځکه چې ستاسو لاسونه په وینو رنګ دی. ١٦ اول
ولامبئ او خپل ځان صفا کړئ. خپلې بد عملی زما د سترګو
نه لرې کړئ. آو، نور بد عمل مۀ کوئ، ١٧ نیکی کول زده
کړئ. او ګورئ چې اِنصاف کیږی، د چا سره چې ظلم
شوے وی د هغوئ مدد کوئ، یتیمانانو له خپل حقُونه
ورکوئ او د کونډو د حق دِفاع کوئ.“ ١٨ مالِک خُدائ
فرمائی، ”راځئ چې اوس دا مسئله حل کړُو. اګر چې ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګناهونو تاسو تک سرۀ داغی کړی یئ، خو زۀ به تاسو صفا
کړم او لکه د واورې په شان به مو سپین کړم، اګر چې
ستاسو داغونه تک سرۀ دی، خو تاسو به د وړۍ په شان تک
سپین شئ. ۱۹ خو کۀ تاسو خپلې رضا سره تابعدار یئ، نو
چې زمکه کوم ښۀ څیزونه پیدا کوی، هغه به تاسو خورئ.
۲۰ خو کۀ تاسو اِنکار او سرکشی کوئ، نو د تُورې لاندې به
ګېر شئ او مړۀ به شئ. دا د مالِک خُدائ د خولې کلام
دے.“

## د ګناه نه ډک ښار

۲۱ هغه ښار چې په یو وخت کښې وفادار وو اوس د
کنجرې په شان شوے دے. په یوه زمانه کښې دا د صداقت
او اِنصاف نه ډک وو، خو اوس په کښې صرف قاتِلان پاتې
دی. ۲۲ اے یروشلمه، ستا خالص سپین زر اوس د ملاوټ
نه ډک دی، او ستا بهترینو میو کښې اوبۀ ګډې شوې دی.
۲۳ ستا مشران باغیان شوی دی او د غلو ملګری شوی
دی، هغوئ هر وخت تُحفې او رشوتونه اخلی. هغوئ په
عدالت کښې هیڅکله د یتیمانانو دفاع نۀ کوی او نۀ هغوئ ته
د کونډو فریاد را رسی. ۲۴ نو هغې ته غوږ ونیسئ څۀ چې
مالِک خُدائ ربُ الافواج، د بنی اِسرائیلو خُدائ تعالیٰ
فرمائی، ”زۀ به خپلو دشمنانو نه انتقام واخلم، او مخالفینو نه
به بدل واخلم. ۲۵ زۀ به ستاسو خِلاف خپل طاقت استعمال
کړم. زۀ به تاسو داسې صفا کړم لکه څنګه چې اوسپنه په
اور کښې صفا کیږی او زۀ به ستاسو نه ټول ملاوټ لرې
کړم. ۲۶ زۀ به تا له هغه شان قاضیان او مشیران درکړم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه څنګه چې دې پخوا لرل. نو بيا به يروشلم د صادقانو او
وفادارو خلقو ښار وبللے شى.“ ٢٧ مالِک خُدائ به اِنصاف
سره يروشلم بيا آباد کړى او چې څوک هلته توبه وباسى هغه
به بچ کړى. ٢٨ خو مالِک خُدائ به هغه هر يو کس ريزې
ريزې کړى څوک چې ګناه کوى او د هغهٔ خِلاف بغاوت
کوى، او څوک چې مالِک خُدائ ته شا کړى نو هغه به تباه
شى. ٢٩ د ځېرى د مقدسو ونو عبادت سره به چې تاسو
خوشحالېدئ نو د هغې په وجه به تاسو وشرمېږئ، او کوم
باغونه چې تاسو د بُت پرستئ دپاره غوره کړى دى نو د هغې
په وجه به تاسو وشرمېږئ. ٣٠ تاسو به د ځېرى د داسې
ونې په شان يئ چې پاڼې يې اوچې شوى وى او د يو داسې
باغ په شان به يئ چې هيڅ اوبهٔ په کښې نهٔ وى. ٣١ نو هغه
تکړه سړى به لکه د بوسو په شان وى او د هغوئ بد عملونه
به د اور د بڅرکى په شان وى. دواړه به يو ځائ داسې اور
واخلى چې هيڅ څوک به يې مړ کولے نهٔ شى.

## يروشلم به د ابدى امن مرکز وى

٢ ١ دا هغه پيغام دے چې خُدائ پاک د آموص زوئ
يشعياه باندې د يهوداه او يروشلم په حقله نازل کړو. ٢ په
راتلونکى وخت کښې، په کوم غرهٔ باندې چې د مالِک خُدائ
کور جوړ دے، هغه به د ټولو نه اوچت غر وى، د غرونو په
ټولو غونډو باندې به دا د برج په شان اوچت وى. او ټول
قومونه به د سېلاب په شان ور روان وى، ٣ او د ډېرو
قومونو خلق به راشى او وبه وائى، ”راځئ چې د مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غر ته وخېژُو، او چې د بنی اِسرائیلو د خُدائ پاک کور ته لاړ
شُو، هلته به هغه مونږ ته خپلې لارې وښائی، او مونږ به د هغهٔ
په لارو ځو.“ ځکه چې د صیون نه به د هغهٔ تعلیمات راوځی،
او د هغهٔ کلامِ به د یروشلم نه راځی. ۴ مالِک خُدائ به د
قومونو اِنصاف وکړی او د هغوئ په مینځ کښې به لانجې
هوارې کړی. هغوئ به د خپلو تُورو نه د یوې خولې جوړې
کړی او د خپلو نېزو نه به د بوټو قینچیانې جوړې کړی.
قومونه به هیڅکله بیا جنګ له لاړ نهٔ شی، او نهٔ به بیا دوئ د
جنګ تربیت حاصلوی. ۵ نو اے د یعقوب اولاده، راځئ
چې مونږ د مالِک خُدائ په رڼا کښې ګرځُو. ۶ اے مالِکه
خُدایه، تا خپل خلق، د یعقوب اولاد رد کړے دے. ځکه چې
هغوئ خپل مُلک د نمرخاتهٔ د طرف د جادوګرئ نه ډک
کړے دے. د فلستیانو په شان هغوئ هم فالګرو له ځی او د
بل مُلک خلقو سره غاړه غتې اوسیږی. ۷ د هغوئ مُلک د
سپینو زرو او سرو زرو نه ډک دے او د هغوئ خزانې نهٔ
ختمیږی. د هغوئ مُلک د آسونو نه ډک دے او د هغوئ
جنګی ګاډئ بےشمېره دی. ۸ د هغوئ مُلک د بُتانو نه ډک
دے او هغوئ داسې څیزونو ته سجدې لګوی چې هغوئ په
خپلو لاسونو جوړ کړی دی. ۹ نو په دې وجه به هغوئ
بےعزته او سپک شی. اے مالِکه خُدایه، هغوئ مهٔ معاف کوه.
۱۰ په غارونو کښې ورننوځئ او د مالِک خُدائ د یرې نه او
د هغهٔ د شان او شوکت نه ځان په خاورو کښې پټ کړئ.
۱۱ د انسان مغروره سترګې به ټیټې کړے شی او د انسان
لوئی به په عاجزئ بدله شی. نو په هغه ورځ به صرف د مالِک
خُدائ ثناء صِفت کیږی. ۱۲ په هغه ورځ به مالِک خُدائ
ربُ الافواج ټول طاقتور خلق او هغه هر څوک چې مغروره یا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوئ وی، هغه ټول به عاجزه کړی. ۱۳ هغه به د لبنان لوړ
لوړ دِیار او د بسن د مُلک د ځېرې ټولې ونې تباه کړی. ۱۴
هغه به اوچت غرونه او د غرونو اوچتې غونډۍ هوارې کړی،
۱۵ هغه به هر یو اوچت برج او د هرې قلعې مضبوط
دېوالونه هوار کړی. ۱۶ هغه به ټول لوئ سمندری جهازُونه
او ټولې ښائسته کشتۍ ډوبې کړی. ۱۷-۱۸ د انسان غرور به
په عاجزۍ بدل شی او د انسان لوئی به خاورې ایرې شی.
بُتان به په مکمله توګه ورک شی او په هغه ورځ به صرف د
مالِک خُدائ ثناء صِفت کیږی. ۱۹ چې کله مالِک خُدائ د
دُنیا یرولو دپاره پاڅی نو خلق به د غرونو په غارونو کښې
پټیږی او په زمکه کښې به په سوړو کښې پټیږی، د دې دپاره
چې د مالِک خُدائ د دهشت او جلال نه وتښتی. ۲۰ کله
چې هغه ورځ راشی، نو هغوئ چې کوم د سپینو زرو او سرو
زرو بُتان جوړ کړی وی چې عبادت یې وکړی نو هغه به
وغورزوی. او هغوئ به منږکانو او ښاپیرکانو ته پرېږدی. ۲۱
چې کله مالِک خُدائ د دُنیا یرولو دپاره پاڅی نو خلق به د
غرونو په غارونو کښې پټیږی او په زمکه کښې به په سوړو
کښې پټیږی، د دې دپاره چې د مالِک خُدائ د دهشت او
جلال نه وتښتی. ۲۲ په انسان باندې توکل مهٔ کوه، د هغوئ
ژوند د یوې لحظې دے او د هغې قدر څهٔ دے؟

## په یروشلم کښې تباهی

۳ ۱ مالِک خُدائ، ربُ الافواج به د یروشلم او یهوداه نه
هغه هر څهٔ لرې کړی چې په هغې پورې د خلقو ژوند تړلے
دے. هغه به د هغوئ نه خوراک او د څښلو اوبهٔ واخلی، ۲

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغوئ نه به باتوران او فوجيان، قاضيان او پيغمبران،
فالګران او مشران، ۳ فوجي آفسران، معتبر کسان،
مشيران، ماهر کاريګران او جادوګران واخلي. ۴ زۀ به
هلکان د هغوئ مشران جوړ کړم، او ماشومان به په هغوئ
حکومت کوی. ۵ خلق به يو بل سره زياتے کوی. هر يو
سړے به په بل سړی او هر يو ګاونډی به په بل ګاونډی رُعب
اچوی. ځوانان به د خپلو مشرانو بےعزتی کوی او بدکرداره
خلق به د عزتمندو بےعزتی کوی. ۶ په هغه وخت کښې به
يو کس خپل ورور ته ووائی، ”تر اوسه پورې تا سره څادر
شته نو په دې وجه راشه او زمونږ مشر جوړ شه. او د
کنډراتو د دې ډيری ذمه واری اوچته کړه.“ ۷ خو هغه به
ورته په جواب کښې وائی، ”نه، زۀ ستاسو علاج نۀ شم
کولے. نۀ ما سره خوراک شته او نۀ ما څادر شته. ما د
عوامو مشر مۀ جوړَوئ.“ ۸ بےشکه چې يروشلم په لړزان
دے. او په يهوداه زوال راغلے دے. هغوئ چې هر څۀ وائی
او کوم عمل کوی هغه د مالِک خُدائ خِلاف دے، هغوئ په
جار بار د مالِک خُدائ خلاف بغاوت کوی. ۹ د هغوئ
مخونو نه د هغوئ ملامتيا څرګنده ده. هغوئ د سدوم د خلقو
په شان په جار بار ګناه کړې ده. په هغوئ افسوس. هغوئ په
خپله تباهی په ځان باندې راوستلې ده. ۱۰ صادقانو له
خوشخبری ورکړه چې هغوئ بختور دی، ځکه چې هغوئ به
د خپلو اعمالو د ښې ميوې نه خوند واخلي. ۱۱ خو بدعمله
خلق تباه دی، هغوئ چې د نورو خلقو سره څۀ سلوک کړے
وی نو هم هغه شان عمل به د هغوئ سره هم وشی. ۱۲
ځوانان زما د خلقو سره زياتے کوی، او ښځې په هغوئ
باندې حکومت کوی. اے زما خلقو، خپلو مشرانو تاسو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غلطه لار باندې روان کړی يئ، او هغوئ ستاسو لارې ستاسو
نه ګډې وډې کړې دی.

## د مالِک خُدائ د خپلو خلقو عدالت کول

۱۳ مالِک خُدائ په خپل عدالت کښې تيار دے، او د خلقو د
عدالت دپاره ولاړ دے. ۱۴ مالِک خُدائ د خپلو خلقو
آفسران او مشران راولی چې د هغوئ عدالت وکړی. د هغوئ
خِلاف د مالِک خُدائ دا اِعتراض دے، "تاسو زما د انګورو
باغ تباه کړے دے او د غريبانانو نه لوټ کړے شوے مال
ستاسو په کورونو کښې دے. ۱۵ تاسو دا حق نۀ لرئ چې
زما خلقو له رګړه ورکړئ او د غريبانانو پوزې زمکې پورې
راکاږئ. ما مالِک خُدائ، ربُ الافواج دا فرمائيلی دی."

## د يروشلم ښځو دپاره خبردارے

۱۶ مالِک خُدائ فرمائی، "ګورئ، د يروشلم ښځې ښومره
مغروره دی. هغوئ هسکه غاړه نيولې وی او روانې وی.
هغوئ تل نخرې کوی. هغوئ د نازونو او نخرو قدمونه اخلی
او پانزيبونه شړنګوی. ۱۷ زۀ به د هغوئ په سرونو باندې
دانې راوخېژوم او ګنجې به يې کړم." ۱۸ داسې ورځ راروانه
ده چې مالِک خُدائ به د يروشلم د ښځو نه هغه هر څۀ
واخلی په څۀ چې هغوئ ځانونه ښائسته کوی، پانزيبونه،
هارونه، د سپوږمۍ په شان کالے، ۱۹ والۍ، بنګړی، نقابونه،
۲۰ لوپټې، ګونګروګان، کمربندې، د عطرو بوتلې، تعويذونه،
۲۱ ګوتمې، نتکۍ، ۲۲ ښائسته جامې، چُوغې، شالونه،
پرسونه، ۲۳ شيشې، د کتان جامې، پړُونی او بُرقعې. ۲۴ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عطرو د خوشبو په ځائ به د هغوئ نه بدبوئ خېژی، د
کمربند په ځائ به هغوئ د ځان نه پړی تاو کړی وی، د
ښائسته زلفو لرلو په ځائ به هغوئ ګنجې شی، د قیمتی
جامو په ځائ به هغوئ د ټاټ جامې اغوستې وی. د هغوئ
حُسن به په شرم بدل شی. ۲۵ د ښار سړی به په تُوره وژلے
شی، ستاسو تکړه سړی او سپاهیان به په جنګ کښې مړۀ
شی. ۲۶ د ښار دروازې به ژړا او ماتم کوی او ښار به په
خپله د هغه ښځې په شان وی چې یواځې پاتې شی او په
زمکه کښېنی.

۴ ۱ کله چې هغه وخت راشی، نو اووۀ ښځې به یو سړی
راونیسی او ورته به ووائی، "مونږ به په خپله د خپل ځان
دپاره د جامو او روټۍ اِنتظام کوُو، خو چې مونږ صرف ستا
په نوم پورې تړلې یُو چې تۀ زمونږ خاوند یې، او داسې به
مونږ د شرم نه بچ شُو."

## د یروشلم بحال کېدل

۲ هغه وخت راروان دے چې د مالِک خُدائ خانګه به د
هغه مُلک هر یو بوټے او ونه لویه او ښائسته کړی. نو چې
کوم اِسرائیلیان ژوندی پاتې وی نو هغوئ ټول به خوشحاله
وی او په هغه فصلونو به فخر کوی چې په هغه مُلک کښې
پیدا کیږی. ۳ هر څوک چې په یروشلم کښې پاتې وی، نو
خُدائ پاک به د هغۀ دپاره ژوند غوره کړے وی نو هغه به
مقدس ګڼلے شی. ۴ مالِک خُدائ به د صیون ښار د
ښځې ګندګی ووینځی، هغه به د یروشلم نه د وینې داغونه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عدالت روح سره او د اور روح سره صفا کړی. ۵ بیا د
صیون په غرۀ او په هغه ټولو خلقو چې هلته راغونډ وی، په
هغوئ به مالِک خُدائ د ورځې وریځ راولېږی او د شپې به
وریاندې لوګے او ځلېدونکے اور راولېږی. د خُدائ پاک
جلال به هغه ټول ښار پټ کړی او د هغې حِفاظت به وکړی.
۶ د هغۀ جلال به په هغه ښار باندې لکه د خېمې په شان
وی چې د ورځې د ګرمئ نه سورے جوړ کړی او دا به د امن
ځائ وګرځوی او د باران او طوفان نه به یې محفوظ وساتی.

## د انګورو د باغ سندره

**۵** ۱ راځئ چې زۀ د خپل محبوب دپاره سندره وایم، دا
زما د دوست او د هغۀ د انګورو د باغ سندره ده. زما د
دوست د انګورو یو باغ وو، چې دا باغ په یوه زرخېزه غونډئ
باندې وو. ۲ هغۀ زمکه وکنستله او د هغې نه یې کانړی صفا
کړل، هغۀ د بهترینو انګورو بوټی وکَرل. او د دې باغ په مینځ
کښې یې د حِفاظت دپاره د څوکیدارئ یو برج جوړ کړو، هغۀ
د انګورو نه د رس ویستلو دپاره د کانړی نه لنګرئ جوړه کړه.
هغۀ د ښو انګورو د پخېدو انتظار وکړو، خو چې کله انګور
پاخۀ شول نو هغه ټول تراوۀ وُو. ۳ نو اوس، اے د یروشلم
او د یهوداه اوسېدونکو خلقو، زما او زما د انګورو د باغ په
مینځ کښې فیصله وکړئ. ۴ داسې څۀ شته چې ما د دې
باغ دپاره نۀ وی کړی؟ نو بیا چې ما د دې باغ نه د خوږو
انګورو توقع ساتله، نو دې تراوۀ ولې ونیول؟ ۵ نو زۀ به
اوس تاسو ته ووایم، چې زۀ به د دې خپل باغ سره څۀ کوم.
د دې نه ګېرچاپېره چې کوم باړ دے هغه به ترې نه اخوا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړم، د دې د حِفاظت دېوالونه به راوغورزوم او ځناور به
ورپرېږدم چې وې خوری او د پښو لاندې يې کړی. ۶ زۀ به
د هغې زمکه شاړه کړم. نۀ به يې په بوټو کښې قينچی کيږی
او نۀ به ورته ګوډ کيږی، هلته به ازغی او مرکونډۍ زرغونې
شی. زۀ به وريځې هم منع کړم چې په دې باندې باران نۀ
ورَوی. ۷ د اِسرائيل قوم د مالِک خُدائ ربُ الافواج د
انګورو باغ دے، او د يهوداه خلق د انګورو هغه بوټی دی چې
هغۀ په خوشحالۍ کَرلی دی. د هغۀ د دوئ نه طمع وه چې
اِنصاف به کوی، خو په ځائ د دې هغوئ ظلمونه کول. هغۀ
ترې نه د صداقت طمع لرله، خو په ځائ د دې هغۀ د ژړا
چغې واورېدې.

## د بدو عملونو دپاره عدالت

۸ په تاسو افسوس، تاسو نور نور کورونه او پټی اخلئ. خو
په آخر کښې به د نورو خلقو دپاره ځائ پاتې نۀ شی او
صرف تاسو به په هغه مُلک کښې اوسيږئ. ۹ ما اورېدلی
دی چې مالِک خُدائ ربُ الافواج قسم خوړلے دے چې،
”يقيناً چې د ډېرو کورونو نه به کنډرې جوړې شی، او په دې
غټو او ښائسته کورونو کښې به هيڅوک نۀ اوسيږی. ۱۰ په
شل جريه زمکه باندې چې کوم د انګور باغ کَرلے شوے وی
نو هغه به صرف دوويشت ليټره مے پېدا کوی. يو سل او
شپېتۀ کلو تخم به صرف شپاړس کلو غله پېدا کوی.“ ۱۱ په
تاسو افسوس څوک چې سحر وختی پاڅئ او په شرابو
څښلو باندې شروع وکړئ او په ماښام کښې تر ناوخته پورې
مے څښئ او ځانونه نشه کوئ. ۱۲ ستاسو په محفلونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې تاسو سره رباب، بینجو، تمبلونه، شپېلۍ او مے وی. دا
خو ستاسو په خیال کښې هم نۀ راځی چې مالِک خُدائ څۀ
کوی. او څۀ چې هغه کوی نو تاسو د هغې لحاظ نۀ کوئ.
۱۳ نو ځکه زما قوم به د خپلې ناپوهۍ له وجې جلاوطن
کړے شی. ستاسو مشران به د لوږې نه مړۀ شی او ستاسو
عوام به د تندې نه مړۀ شی. ۱۴ تورو خاورو هغوئ ته خپله
خولۀ کولاو نیولې ده دپاره د دې چې د یروشلم غټ خلق او
عوام، مست او شور جوړونکی خلق به ژوندی تېر کړی. ۱۵
هر یو کس به سپک کړے شی او څوک چې مغرور وی نو
هغوئ ټول به عاجزان کړے شی. ۱۶ خو مالِک خُدائ ربُ
الافواج د خپلې لویئ اظهار د هغه کار په کولو سره کوی چې
کوم د اِنصاف وی او د خُدائ پاک راستی به د هغۀ د
پاکوالی څرګندونه کوی. ۱۷ د ښار په کنډرو کښې به
ګډُوری وابښۀ خوری او د چېلو بچو ته به په کښې د څرن
زمکه ملاویږی. ۱۸ په تاسو افسوس څوک چې د شګی مزی
پورې خپل ګناهونه راکاږئ، او څوک چې د غوَیانو د ګاډۍ
په شان خپله بدعملې ځان پسې راکاږئ. ۱۹ تاسو وایئ،
"مالِک خُدائ دې زر زر خپل کار وکړی چې مونږ دا وګورو.
او چې د بنی اِسرائیلو مقدس ذات کومه منصوبه جوړه کړې
ده هغه دې زر سر ته ورسوی چې مونږ ته د هغې پته ولګی."
۲۰ په تاسو افسوس دے. تاسو بدو ته ښۀ وایئ او ښو ته بد
وایئ. تاسو تیارۀ نه رڼا جوړَوئ او د رڼا نه تیارۀ جوړَوئ.
کوم څیز چې تریخ وی نو د هغې نه خوږ جوړَوئ او چې کوم
خوږ وی نو د هغې نه تریخ جوړَوئ. ۲۱ په تاسو افسوس
دے. ستاسو خیال دا وی چې تاسو عقلمند یئ او خپل ځان
ډېر زیات هوښیار ګڼئ. ۲۲ په تاسو افسوس دے. د میو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څښلو کښې خو تاسو ډېر تکړه يئ. او د شرابو په ګډولو
کښې تاسو ښۀ ځوانی ښايئ. ۲۳ خو د رشوت په وجه تاسو
مجرمان آزادوئ او د بې‌ګناه خلقو حقُونه خورئ. ۲۴ نو
اوس، لکه څنګه چې خسنې او اوچ واښۀ ټسېږی او په اور
کښې ايرې کيږی، نو داسې ستاسو جرړې به ورَستې شی او
ستاسو غوټۍ به اوچې شی او هوا به يې يوسی. دا ځکه چې
تاسو د مالِک خُدائ د ربُ الافواج شريعت رد کړے دے، او
د بنی اِسرائيلو د مقدس ذات حکم ته مو سپک کتلی دی. ۲۵
نو ځکه مالِک خُدائ خپلو خلقو ته سخت په قهر دے او
خپل لاس يې اوچت کړے دے چې هغوئ له سزا ورکړی.
غرونه به وخوځيږی او چې څوک مړۀ شی نو د هغوئ لاشونه
به په کوڅو کښې د ګند په شان پاتې شی. خو د مالِک خُدائ
غصه به بيا هم نۀ وی سړه شوې او هغۀ به د سزا دپاره لاس
اوچت کړے وی. ۲۶ هغه به يو لرې قوم ته د راغوښتلو
دپاره اِشاره وکړی. هغه هغوئ ته شپيلے ووهی چې د دُنيا د
لرې سر نه راشی. او هغوئ زر زر او په منډه منډه راشی.
۲۷ د هغوئ يو کس به هم نۀ ستړے کيږی، او نۀ به تيندکونه
خوری. نۀ به هغوئ د خوب دپاره ودريږی او نۀ د آرام دپاره.
نۀ به هغوئ ملابند سپړی او نۀ به هغوئ د خپل پېزار تسمې
پرانيزی. ۲۸ د هغوئ غشی به تېرۀ وی او د هغوئ ليندې به
د ويشتلو دپاره تيارې وی. د هغوئ د آسونو د نالونو نه به
بڅرکی الوځی او د هغوئ د جنګی ګاډو پايې به د هوا په شان
تاويږی. ۲۹ هغوئ د ازمرو په شان غړمبيږی، د داسې
ازمرو په شان غړمبيږی چې ښۀ په ځوانی کښې وی. هغوئ
غړمبار سره خپل ښکار راونيسی او يو خوا ته يې وړی او
هيڅ څوک هم نۀ وی چې يې ترينه خلاص کړی. ۳۰ په دغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځ به هغوئ په خپل دشمن باندې وغړمبيږی داسې لکه چې
د سمندر چپې شور کوی. که څوک هغه مُلک ته وګوری نو
صرف تيارې او مصيبتونه به ورته ښکاری. او د وريځې د
خوريدو په وجه به رڼا په تيارې بدله شی.

## د خُدائ پاک حضرت يشعياه راغوښتل

۶ ۱ په کوم کال چې عُزياه بادشاه مړ شو، نو ما مالِک
خُدائ وليدو چې په اوچت او د لوئې مرتبې په تخت ناست
وو. او د هغهٔ د چُوغې لمن سره د هغهٔ کور ډک شو. ۲ د
هغهٔ نه ګېرچاپېره بلېدونکے مخلوق ولاړ وو او د هر يو شپږ
شپږ وزر وُو. دې هر يو خپل مخ په دوو وزرو باندې پټ
کړے وو، په دوو وزرو باندې يې پښې پټې کړې وې او د دوو
وزرو نه يې د الوتلو کار اخستلو. ۳ هغوئ يو بل ته نعرې
وهلې، "مقدس، مقدس، مقدس. مالِک خُدائ ربُ الافواج مقدس
دے. د هغهٔ د جلال نه دُنيا ډکه ده." ۴ د هغوئ د آوازونو
شور د خُدائ پاک د کور چوکاټونه ولړزول او د مالِک
خُدائ کور د لوګی نه ډک شو. ۵ نو ما ووئيل، "په ما
افسوس، زهٔ تباه شوم، ځکه چې زما شونډې په ګناه ککړې
دی، او د کومو خلقو سره چې زهٔ اوسېږم د هغوئ شونډې
هم ګنده دی. خو بيا هم ما په خپلو سترګو هغه بادشاه ليدلے
دے چې هغه مالِک خُدائ ربُ الافواج دے." ۶ نو بيا د
هغه بلېدونکی مخلوق نه يو زما طرف ته راوالوتلو. هغهٔ يوه
بَله سکروټه راروانه کړې وه، هغهٔ دا د قربانګاه نه د يوې
چمټې سره راخستې وه. ۷ هغهٔ زما شونډو له بَله سکروټه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورورله او وې فرمائيل، ”دا سکروټه ستا د شونډو سره
لګېدلې ده، نو په دې وجه ستا قصور ختم شو او ستا
ګناهونه معاف شول.“ ٨ بيا ما د مالِک خُدائ آواز
واورېدو چې وې فرمائيل، ”زهٔ څوک ولېږم؟ زمونږ د طرف
نهٔ به څوک ځى؟“ نو ما ورته په جواب کښې ووئيل، ”زهٔ
حاضر يم. ما ولېږه.“ ٩ نو هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”لاړ
شه او دې قوم ته دا پېغام ورسوه، ”هر څومره کهٔ تاسو
واورئ خو تاسو به پرې پوهه نهٔ شئ، هر څومره کهٔ ورته
ګورئ نو تاسو به پرې پوهېږئ نه.“ ١٠ د هغوئ زړونه
سخت کړه، د هغوئ غوږونه کاڼهٔ کړه او د هغوئ سترګې
ړندې کړه، داسې نهٔ وى چې هغوئ په خپلو سترګو وګورى
او په خپلو غوږُونو واورى او خپلو زړونو کښې پوهه شى او
زما طرف ته شفا دپاره راتاو شى.“ ١١ ما ترې نه تپوس
وکړو، ”اے مالِکه خُدايه، دا به تر کومې پورې وى؟“ هغهٔ راته
وفرمائيل، ”دا به تر هغې پورې وى چې ښارونه يې تباه او
خوشې شى او چې د کورونو نه يې خلق ختم شى او زمکه يې
شاړه شى. ١٢ تر هغې چې مالِک خُدائ هغوئ تر لرې لرې
پورې وزغلوى او ټول مُلک يې خوشے پاتې شى. ١٣ کهٔ په
هغه مُلک کښې صرف لسمه حِصه خلق هم پاتې وى، نو هغه
به بيا وسوزولے شى. هغه به د څېړۍ د ونې په شان داسې
کټ شى چې صرف مونډ يې باقى پاتې شى.“ دا مونډ به يو
مقدس تخم وى.

## د احاز بادشاه دپاره يو پېغام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ۱ کله چې د عُزیاه نمسی او د یوتام زوئ احاز بادشاه
په یهوداه باندې بادشاهی کوله، نو د شام بادشاه رضین او د
اِسرائیل بادشاه د رملیاه زوئ فقح په یروشلم باندې حمله
وکړه، خو هغوئ د دې ښار قبضه کولو کښې ناکامه شول.
۲ کله چې دا خبر د یهوداه بادشاه ته ورسېدو چې د شام
فوجیان اِسرائیل سره په جنګ کښې ملګری شوی دی، نو
هغه او د هغهٔ ټول خلق دومره زیات وېرېدل او داسې
ولړزېدل لکه چې په طوفان کښې ونې خوځیږی. ۳ نو
مالِک خُدائ یشعیاه ته وفرمائیل، "خپل زوئ شیاریشوب
ځان سره روان کړه او احاز بادشاه سره مِلاوېدو له لاړ شه.
تهٔ به هغهٔ سره په هغه سړک باندې مِلاو شې چرته چې
دهوبیان جامې وینځی او د هغه نِهر لاندې سر سره په کوم
چې د تالاب نه اوبهٔ راکوزیږی. ۴ هغهٔ ته ووایه چې، ویښ
اوسه او په قلار شه او نهٔ چې وېرېږی او نهٔ پرېشانه شې. د
رضین بادشاه، شامیانو او د رملیاه د زوئ غصه د اور د هغه
دوو لرګو په شان هیڅ هم نهٔ ده چې په مړ کېدو بدل وی. ۵
شام، سره اِسرائیل او د رملیاه زوئ ستا خِلاف منصوبه
جوړه کړې ده، او وائی، ۶ راځئ چې مونږ په یهوداه باندې
حمله وکړُو، خلق ویروو او قبضه یې کړُو، او بیا به د طابئیل
زوئ په تخت باندې کښېنوو. ۷ خو مالِک خُدائ فرمائی
چې، د هغوئ منصوبه به ناکامه شی. او دا به نهٔ کیږی. ۸
ولې چې د شام مشر دمشق دے او د دمشق مشر صرف
رضین دے. او ترڅو چې د اِسرائیلو خبره ده، نو هغه به په
پینځو شپېتو کالو کښې ټوټې ټوټې او په مکمل طور تباه شی.
۹ د اِسرائیل مشر سامریه دے او د سامریه مشر د رملیاه
زوئ دے. کهٔ په ایمان قائم پاتې نهٔ شوئ، نو یقیناً چې پخپله

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به قائم پاتې نۀ شئ.“ ۱۰ مالِک خُدائ احاز له يو بل پېغام
ولېږلو، ۱۱ ”د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک نه وغواړه
چې يوه نښه درته وښائی. کۀ هغه د آسمان نه پاس وی او کۀ
د عالمِ ارواح نه لاندې وی.“ ۱۲ خو احاز ورته اِنکار وکړو
او وئيل يې چې، ”نه، نۀ به زۀ نښه غواړم او نۀ به مالِک
خُدائ آزمائيم.“ ۱۳ نو په دې خبره يشعياه ورته وفرمائيل،
”اے د داؤد بادشاه اولاده، په کولاو غوږونو واورئ. ولې دا
کافی نۀ ده چې تاسو د انسان صبر تمام کړئ؟ اوس تاسو
زما د خُدائ پاک صبر هم تامامول غواړئ څۀ؟ ۱۴ ښه نو
بيا ګورئ، مالِک خُدائ به په خپله تاسو ته يوه نښه وښائی.
يوه پېغله به اُميدواره شی او چې زوئ يې پېدا شی نو
”عمانوايل“ يعنې، ”خُدائ زمونږ مل دے“ نوم به پرې کېږدی.
۱۵ په هغه وخت کښې چې کله هغه دومره شی چې ملائی او
شات خوړے شی نو د خپل ښۀ او بد فېصله به په خپله
کولے شی. ۱۶ هغه وخت به لا راغلے هم نۀ وی چې هغه د
خپل ښۀ او بد فېصله پخپله کوی، نو د هغه دوو بادشاهانو
مُلکونه به خوشې او برباد شی کوم چې تاسو يروی. ۱۷ نو
مالِک خُدائ به په تا، ستا په خلقو او په ټول شاهی خاندان
داسې سخت وخت راولی چې د کله نه اِسرائيل د يهوداه نه
جدا شوے دے نو تر نن ورځې پورې نۀ دے راغلے. هغه به
د اسور بادشاه راولی چې په تاسو باندې حمله وکړی. ۱۸
کله چې هغه وخت راشی، نو مالِک خُدائ به د مِصريانو د
راغوښتو دپاره شپېلۍ ووهی چې د نيل درياب د لرې غاړو نه
د مچانو په شان راشی او اسوريانو ته به شپېلۍ ووهی چې د
شاتو د مچو په شان د خپل مُلک نه راشی. ۱۹ هغوئ ټول به
راشی، د ژورو وادۍ باندې او په غارونو او ګټو باندې او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ازغو په هر يو بوټے او په ولاړو اوبو باندې به کښېنى. ۲۰
کله چې هغه وخت راشى، نو مالِک خُدائ به د اسور بادشاه
د نائى په توګه د فرات سيند د بلې غاړې نه راولى او هغه به
ستاسو ږيرې، سر او په بدنونو وېښتهٔ کل کړى. ۲۱ په هغه
وخت چې کوم يو کس سره يوه سخئ او يو دوه ګډې چېلۍ
پاتې وى نو هغه به خوش قسمته وى. ۲۲ دا به دومره زيات
پئ ورکوى چې د هغهٔ ضرورت به ښهٔ پوره کوى. آو، چې په
هغه مُلک کښې څوک هم ژوندى پاتې وى نو هغوئ به ملائى
او شات خورى. ۲۳ کله چې هغه وخت راشى، نو د انګورو
هغه ښهٔ باغونه، چې په هر يو کښې يو زر د انګورو بوټى وى
او د هر يو باغ قيمت د سپينو زرو يو زر سيکې وى، نو هغه
به هم د ازغو او غنو نه ډک وى. ۲۴ خلق به هلته د غشو او
ليندو سره د ښکار دپاره ځى. آو، هغه ټول مُلک به د ازغو او
غنو نه ډک وى. ۲۵ په کومو غونډو باندې چې د فصلونو
دپاره کوداله کيده نو هغه به هم د ازغو نه داسې ډک وى چې
هيڅ څوک به هلته نهٔ شى تلے. هغه به يو داسې ځائ جوړ
شى چې چرته څاروى او ګډې څرېږى.“

## د حضرت يشعياه زوئ د خلقو دپاره يوه نښه

۸ ۱ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، ”د ليکلو دپاره يوه لويه
تخته واخله او په هغې باندې صفا صفا دا وليکه چې، د تيزئ
مال غنيمت او زر زر لوټ مار.“ ۲ ما د اورِياه اِمام او د
يبرکياه زوئ زکرياه په وړاندې دا وليکل او دا دواړه کسان
ايمانداره ګواهان وُو. ۳ بيا زهٔ د خپلې پيغمبرې ښځې سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځملاستم، هغه اُمیدواره شوه او يو زوئ مو پېدا شو، نو
مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، "په هغۀ باندې "د تېزئ مال
غنيمت او زر زر لوټ مار" نوم کېږده. ۴ د هغې نه وړاندې
چې ماشوم دومره لوئ شی چې ابو او امی وئيلے شی، نو د
دمشق ټول مال دولت او د سامريه ټول مال غنيمت به د
اسور بادشاه لوټ کړے وی."

## د اسور د بادشاه راتلل

۵ نو مالِک خُدائ يو ځل بيا ما سره کلام وکړو. هغۀ
وفرمائيل، ۶ "دې خلقو د شيلوخ قلارې روانې اوبۀ رد
کړې دی او د رضين بادشاه او فقح بادشاه نه يرېدلی دی.
۷ نو په دې وجه به زۀ، مالِک خُدائ د اسور بادشاه او د
هغۀ ټول لښکر راولم چې په يهوداه حمله وکړی. د هغۀ لښکر
به داسې وړاندې راشی لکه چې د فرات د سيند اوبۀ د غاړو
نه راوړېدلې وی. ۸ هغوئ به د سېلاب په شکل کښې د
يهوداه نه تېر شی، اے عمانوايله، اوبۀ به لکه د مرغۍ د وزرو
په شان خورې وی او ستا ټول مُلک به يې نيولے وی. او
خلق به يې تر مرۍ مرۍ پورې پټ کړی وی." ۹ اے
قومونو، په يره يره کښې راغونډ شئ. اے د دُنيا لرې مُلکونو
واورئ. د جنګ دپاره تيار شئ، خو تاسو به چخنې کړے
شئ. آو، تيار شئ، خو تاسو به چخنې کړے شئ. ۱۰ تاسو
چې څۀ منصوبې هم جوړَوئ هغه به بېفائدې وی. تاسو چې
څۀ فيصله هم کوئ هغه به ناکام کيږی، ځکه چې خُدائ پاک
زمونږ مل دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ پیغمبر له خبردارے ورکول

۱۱ مالِک خُدائ زهٔ کلک ونیولم او خبردارے یې راکړو چې
په هغه لار به نهٔ ځې چې په کومه به نور خلق تلل. هغهٔ
وفرمائیل، ۱۲ ”هره خبره سازش مهٔ ګڼه څنګه چې یې دا
قوم ګڼی او د هغه څیزونو نه مهٔ یرېږه چې کوم نه دوئ
یرېږی. ۱۳ مالِک خُدائ، ربُ الافواج مقدس ګڼئ، د هغهٔ نه
دهشت خورئ او د هغهٔ نه یره کوئ. ۱۴ بیا به هغه تاسو
محفوظ ساتی. خو هغه به د اِسرائیل او د یهوداه دپاره یو
داسې کاڼے وی چې د تیندک باعث به جوړېږی، او خلق به
پرې تیندک وخوری او راوبه غورزېږی. او د یروشلم د خلقو
دپاره به هغه یو دام او یو جال جوړ شی. ۱۵ په هغوئ کښې
به ډېر تیندک وخوری راوبه غورزېږی او ټوټې ټوټې به شی.
هغوئ به په دام کښې راګیر شی.“

## د مړو د روحونو سره د مشورې کولو خِلاف خبردارے

۱۶ د څهٔ تعلیم چې ما ورکړو، نو هغه دې په طومار کښې
درج کړے شی او زما شاګردانو له دې ورکړے شی. ۱۷ زهٔ
به د مالِک خُدائ انتظار کوم او د هغهٔ نه به اُمید ساتم، اګر
چې هغهٔ د یعقوب خاندان رد کړے دے. ۱۸ زهٔ دلته د هغه
بچو سره یم چې کوم مالِک خُدائ ما له راکړی دی. هغه
مالِک خُدائ، ربُ الافواج چې د هغهٔ تخت د صیون په غر
باندې دے، هغهٔ مونږ اِسرائیل له د نښې او خبرداری په توګه
رالیږلی یُو. ۱۹ کهٔ څوک تاسو ته ووائی چې، ”د قسمت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښودونکو او مړو روحونو سره خبرو والا نه پته وکړئ، د
هغوئ نه چې په نرى آواز سره يا په ګونګسو کښې خبرې
کوى،" هغوئ به وائى، "د هر څۀ نه به ښۀ نۀ وى چې خلق د
خپلو معبودانو سره مشوره وکړى؟ د ژوندو د خاطره مونږ د
مړو د روحونو سره ولې مشوره ونۀ کړُو؟" ۲۰ د مالِک
خُدائ هداياتو او تعليماتو ته ګورئ. هغه خلق څوک چې د
هغۀ د کلام په مطابق پيغام نۀ اوروى نو د هغوئ مستقبل ښۀ
نۀ وى. ۲۱ هغوئ به په هغه مُلک کښې سرګردانه ګرځى،
اوږى او بې‌حوصلې به وى. د لوږې نه به غصه وى او خپل
بادشاه او خُدائ پاک ته به کنځل کوى. هغوئ کۀ آسمان ته
سترګې پورته کړى ۲۲ يا کۀ زمکې ته ګورى، خو هغوئ ته
به د پريشانئ، مصيبت او تيارې نه بغير هيڅ هم نۀ ښکارى،
په تکه توره او يروونکې تيارۀ کښې به وغورزولے شى.

## د راتلونکى مسيح رڼا

۹ ۱ نو د هغوئ دپاره به دا مصيبت تر هميشه پورې
جارى نۀ وى. د زبولون او نفتالى علاقه ته په يو وخت کښې
سپک کتلے شول، خو په راتلونکى وخت کښې به دا علاقه
عزتمنده شى، نمرخاتۀ طرف ته د مديترانى سمندر نه واخله د
درياب طرف ته د اُردن نه پورې او داسې ګليل به هم عزتمند
شى، چرته چې غېريهوديان اوسيږى. ۲ کوم خلق چې په
تيارۀ کښې ګرځېدل، نو هغوئ يوه لويه رڼا ليدلې ده، او
هغوئ څوک چې په تورو تيارو کښې اوسېدل، پرې نُور
ځليږى. ۳ تا د هغوئ قوم لوئ کړے دے او لويه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالي دې ورکړې ده. تا چې څهٔ کړي دي نو په هغې
باندې هغوئ خوشحالي کوي، هغوئ دومره خوشحالي کوي
لکه چې خلق يې د فصل د ريبلو په وخت کوي، او يا چې
کله مالِ غنيمت تقسيميږي. ۴ تهٔ به د هغوئ د غلامۍ جغ
مات کړې او د هغوئ د اوږو نه به دروند بوج واخلې. او د
ظالمانو زور به ختم کړې داسې لکه څنګه چې تا د ميديان
لښکر تباه کړے وو. ۵ د هر يو جنګيالي فوجي پېزار او د
هغوئ هغه ټولې جامې چې په وينو داغدارې دي، هغه به په
اور وسوزولے شي. ۶ زمونږ دپاره يو ماشوم پېدا شوے
دے. مونږ له يو زوئ راکړے شوے دے. او حکمراني به د
هغهٔ په اوږو وي. هغه به په دې نومونو سره يادېږي، "عظيم
مشير،" "خُدائ تعالىٰ،" "ابدي پلار" او "د امن شهزاده." ۷
د هغهٔ شاهي طاقت به زياتيږي، د هغهٔ بادشاهي به تل په امن
کښې وي. هغه به د داؤد نه پس بادشاه وي، د هغهٔ د بادشاهۍ
بنياد به په صداقت او اِنصاف باندې قائم وي، د اوس نه
واخله تر هميشه هميشه پورې به د هغهٔ بادشاهي قائمه وي. د
مالِک خُدائ ربُ الافواج غېرت به هم دغه شان وکړي.

## مالِک خُدائ به اِسرائيل له سزا ورکوي

۸ مالِک خُدائ د يعقوب خلاف کلام کړے دے، او هغه په
اِسرائيل مسلط دے. ۹ د اِسرائيل ټول خلق او هغه هر يو
کس چې په سامريه کښې اوسيږي، هغوئ ته به پته ولګي چې
دا هغهٔ کړي دي. خو اوس هغوئ مغروره او خود غرضه
دي. هغوئ وائيل، ۱۰ "زمونږ د خښتو عمارتونه
راغورزيدلي دي، خو مونږ به دا بيا د تراشلے شوو کاڼو نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړ کړُو. د چِنار ونې راماتې شوې دی، خو مونږ به د دې په
ځائ د دِيار ښائسته ونې ولګوو.“ ۱۱ خو مالِک خُدائ د
هغوئ دشمنان راپارولی دی چې په هغوئ باندې حمله
وکړی. ۱۲ د نمرخاتهٔ طرف ته شام او د نمرپرېواتهٔ طرف
ته فلستيه خولهٔ پرانستلې ده چې اِسرائيل ژوندے تېر کړی.
خو د مالِک خُدائ غصه تر اوسه پورې سړه نهٔ ده، او هغهٔ د
سزا دپاره تر اوسه پورې لاس اوچت نيولے دے. ۱۳ اګر
چې مالِک خُدائ ربُ الافواج هغوئ له سزا هم ورکړې ده،
خو د اِسرائيل خلقو توبه نهٔ ده ويستلې، او هغوئ هغهٔ ته
واپس نهٔ دی راګرځېدلی. ۱۴ صرف په يوه ورځ کښې به
مالِک خُدائ د اِسرائيل مشرانو او خلقو له داسې سزا
ورکړی چې د سر نه واخله تر بېخه پورې به ټول ختم کړی.
۱۵ مشران او عزتمند خلق د سر په شان دی او هغه
پېغمبران د بېخ په شان دی چې د چا تعليمات د دروغو نه
ډک وی. ۱۶ د قوم مشرانو خلق بېلارې کړی دی او د
تباهۍ په طرف يې روان کړی دی. ۱۷ نو مالِک خُدائ به د
قوم د ځوانانو نه خوشحاله نهٔ وی او هغه به په کونډو او
يتيمانانو باندې هم رحم نهٔ کوی، ځکه چې ټول خلق د خُدائ
نه اوړېدلی دی او بدعمله شوی دی او هغوئ چې څهٔ هم وائی
هغه بدی وی. خو د مالِک خُدائ غصه به بيا هم نهٔ سړېږی
او هغهٔ به د سزا ورکولو دپاره خپل لاس اوچت کړے وی.
۱۸ د خلقو بدعملی د هغه اور په شان بلېږی کوم چې د
ازغو بوټې او غنې سوزوی. دا د ځنګل د هغه اور په شان
بلېږی کوم چې پاس په هوا کښې د لوګی ستنه جوړوی. ۱۹
د مالِک خُدائ ربُ الافواج غصې سره به ټول مُلک وسوزی
او په خلقو باندې به يې اور بَل وی او يو کس به په بل هيڅ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترس نۀ کوی. ۲۰ هغوئ به خپل ګس طرف ته ګاونډيانو
باندې حمله وکړی خو بيا به هم اوږې وی، په خپل ښې
طرف ګاونډيانو باندې به حمله وکړی خو بيا به يې هم لوږه
نۀ ختميږی. په آخر کښې به هغوئ خپل بچی هم وخوری.
۲۱ منسی به په اِفرائيم او اِفرائيم به په منسی حمله وکړی،
بيا به هغوئ يو ځائ په يهوداه حمله وکړی. خو د مالِک
خُدائ غصه لا سړه نۀ ده، او هغۀ د سزا ورکولو دپاره لاس
اوچت نيولے دے.

۱۰ ۱ په تاسو افسوس، تاسو د بې اِنصافئ قانون
جوړَوئ او د ظلم فتوې ورکوئ. ۲ او د دې په وجه
غريبانانو خلقو له موقع نۀ ورکوئ چې هغوئ ته خپل حق
مِلاو شی او د هغوئ سره اِنصاف وشی. او د دې قانون په
وجه کونډې ستاسو په چال کښې راګيرې شی او يتيمان لوټ
کوئ. ۳ د عدالت په ورځ به تاسو څۀ کوئ؟ کله چې د يو
لرې مُلک نه په تاسو يو افت راشی نو تاسو به څۀ کوئ؟ د
مدد دپاره به تاسو کوم ځائ ته منډې وهئ؟ تاسو به خپل مال
دولت چرته پټوئ؟ ۴ هيڅ به پاتې نۀ شی، يا خو به تاسو د
قيديانو په مينځ کښې د يرې نه زيږې داړې نيولې وی او يا به
په جنګ کښې ووژلے شئ. خو د مالِک خُدائ غصه به بيا
هم نۀ سړيږی، هغۀ به تاسو له د سزا درکولو دپاره خپل لاس
اوچت کړے وی.

## د اسور بادشاه سره د خُدائ پاک عدالت

۵ بيا مالِک خُدائ وفرمائيل، "اے اسوريانو، زۀ اسور د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چُوکې په توګه استعمالوم چې هغه خلقو له سزا ورکړم چې
زۀ چا ته غصه يم. ۶ ما اسوريان ورولېږل چې په دې
بې‌دينه قوم باندې حمله وکړی، دا هغه خلق دی چې زۀ يې
غصه کړے يم. ما هغوئ د دې دپاره ورلېږل چې هغوئ
وشوکوی او لوټ يې کړی او هغه خلق د لارې د خاورې په
شان د پښو لاندې کړی.“ ۷ خو د اسور بادشاه په خپل
زړۀ کښې د ظلم نه ډکې منصوبې لرلې. د هغۀ اراده دا وه
چې ډېر قومونه تباه کړی. ۸ هغۀ وئيل چې، ”زما هر يو
فوجی مشر بادشاه دے. ۹ ما د کلنو، کرکميس، حمات
او د ارفاد ښارونه فتح کړی دی. ما سامريه او دمشق فتح
کړے دے. ۱۰ ما ډېر حکومتونه قابو کړی دی د چا
معبودان چې د يروشلم او سامريه د بُتانو نه بهتر وُو. ۱۱ ما
سامريه او د دې ټول بُتان تباه کړی دی او اوس به زۀ
يروشلم او د هغې ټول بُتان هم تباه کړم.“ ۱۲ خو مالِک
خُدائ وفرمائيل، ”کله چې زۀ هغه کار ختم کړم چې د
صيون غر او د يروشلم سره يې کوم، نو زۀ به د اسور بادشاه
له د هغۀ د لافو او ټول غرور په وجه سزا ورکړم.“ ۱۳ د
اسور بادشاه به په خپلو لافو کښې وئيل، ”دا هر څۀ ما په
خپل لاس کړی دی، ځکه چې زۀ ډېر هوښيار يم. ما د قومونو
په مينځ کښې سرحدونه ختم کړی دی او د هغوئ خزانې مې
لوټ کړی دی او د يو تکړه غوَيی په شان مې د هغې
بادشاهان تباه کړی دی. ۱۴ ما د دُنيا قومونو نه دولت
داسې اخستے دے لکه چې څوک د جالې نه هګۍ راوچتوی
او ما داسې ټول مُلکونه هم را اوچت کړی دی، داسې يو وزر
هم نۀ وو چې زۀ يې يرولے وے او نۀ داسې مخُوکه وه چې
په ما باندې چغېدلے وے.“ ۱۵ خو مالِک خُدائ فرمائی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”ولې يو تبر دا دعویٰ کولے شی چې دا د هغه سړی نه تکړه
دے چې څوک دا تبر استعمالوی؟ ولې يو آرا دا دعویٰ
کولے شی چې دا د هغه سړی نه تکړه ده چې څوک دا
استعمالوی؟ يوه چُوکه سړے نۀ راپورته کوی بلکې سړے
چُوکه راپورته کوی.“ ١٦ نو په دې وجه به مالِک خُدائ رب
الافواج يو داسې مرض راولېږی چې د اسور ځربه جنګيالی
به اوچ کلک شی. او د هغوئ لوئی به د اور په لمبو وسوزوی.
١٧ هغه مقدس ذات کوم چې د بنی اِسرائيل رڼا ده، هغه به
د اور په شان شی. هغه به د يوې لمبې په شان شی، صرف په
يوه ورځ کښې به د اسور د ازغو او غنو بوټی وسوزی. ١٨
لوئ لوئ ځنګلونه او دا زرخېز پټی به بېخی داسې تباه شی
لکه چې يو سخت مرض يو کس تباه کوی. ١٩ صرف د
شمېر يو څو ونې به پاتې وی چې يو ماشوم يې هم شمېرلے
شی.

## د بنی اِسرائيلو د ډېرو لږو کسانو توبه ويستل

٢٠ په هغه وخت به ژوندی پاتې شوی اِسرائيليان يعنې د
يعقوب د خاندان بچ شوی خلق نور په هغه قوم باندې اعتبار
نۀ کوی چا چې دوئ وهلی وی. هغوئ به د زړۀ د اخلاصه په
مالِک خُدائ باندې ايمان ولری، کوم چې د بنی اِسرائيلو
مقدس ذات دے. ٢١ باقی پاتې به راوګرځی، د يعقوب باقی
پاتې حِصه به خُدائ تعالیٰ ته راوګرځی. ٢٢ اګر چې
اِسرائيل به د سمندر د شګو په شان بې‌شمېره وی، خو
صرف يوه وړه پاتې شوې حِصه به راوګرځی. مالِک خُدائ د
خپلو خلقو د تباه کولو صحيح فيصله کړې ده. ٢٣ نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بےشکه چې مالِک خُدائ پاک، ربُ الافواج به په ټول مُلک
باندې تباهى راولى، لکه څنګه چې هغهٔ فرمائيلى دى.

## د مالِک خُدائ اسوريانو له سزاورکول

۲۴ مالِک خُدائ پاک ربُ الافواج فرمائى، ”اے په صيون
کښې زما خلقو، د اسوريانو نه مهٔ يرېږئ، اګر چې هغوئ په
تاسو پسې ځُوکه او ډنډه راخلى لکه څنګه به چې مخکښې
مِصريانو درسره کول. ۲۵ ډېر لږ وخت پس به زهٔ تاسو له
سزا درکول بند کړم او بيا به زهٔ هغوئ ته غصه شم او تباه به
يې کړم. ۲۶ زهٔ مالِک خُدائ ربُ الافواج به زما په خپله
کوړه هغوئ داسې ووهم لکه څنګه مې چې د ميديان خلق د
عوريب ګټ سره وهلى وُو. زهٔ به اسوريانو له هغه شان سزا
ورکړم لکه څنګه مې چې د مِصريانو لښکر په سمندر کښې
ډوب کړے وو. ۲۷ کله چې هغه وخت راشى، نو زهٔ به تاسو
د اسوريانو د زور نه خلاص کړم او د هغوئ جغ به ستاسو د
غاړو نه لرې کړم.“

## د حمله کوونکو حمله

۲۸ د دشمن لښکر د عيات ښار قبضه کړے دے. هغوئ د
مجرون نه تېر شوى دى. او هغوئ خپل سامانونه په مِکماس
کښې پرېښى دى. ۲۹ هغوئ د درې نه اوړېدلى دى او شپه
به په جبعه کښې تېروى. د راما په ښار کښې خلق يرېدلى دى
او د ساؤل بادشاه د ښار جبعې خلق تښتېدلى دى. ۳۰ د
جليم خلقو چغې ووهئ. د ليس خلقو غوږ ونيسئ. او د
عنتوت خلقو جواب راکړئ. ۳۱ د مدمينه خلق وتښتېدل او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جیبیم خلق د پناه دپاره منډې وهی. ۳۲ دشمن نن د نوب په
ښار کښې دے او هغه د یروشلم په ښار کښې د صیون لور
غر ته د دهمکئ دپاره خپل لاس خوځوی. ۳۳ خو ګورئ،
مالِک خُدائ ربُ الافواج به هغوئ داسې لاندې راوغورزوی
لکه چې د ونو نه څانګې څوک ماتوی. د هغوئ لوئ لوئ او
مغروره خلق به راغورزولی وی. ۳۴ هغه به تبر سره د ځنګل
ونې راوغورزوی، داسې لکه څنګه چې د لبنان غټې ونې
راغورزولے شوې وی.

## د امن بادشاهی

۱۱ ۱ د یَسی مونډ به راوټوکیږی، او د هغې د جرړو نه
به څانګه راوخېژی. ۲ د مالِک خُدائ روح به د هغهٔ سره
وی، او دا به د پوهې او حِکمت روح وی، د مشورې او د
قوت روح، د عِلم او د مالِک خُدائ نه د یرې روح، ۳ او
هغهٔ ته به د مالِک خُدائ په تابعدارئ کښې خوشحالی
ملاویږی. هغه به د خلقو په ظاهر صورت او د اورېدو په
خبرو باندې عدالت نهٔ کوی، ۴ هغه به اِنصاف سره د
غریبانانو عدالت کوی، او هغه به اِنصاف سره د بې‌اسری
خلقو فیصله کوی. د هغهٔ د کلام زور سره به زمکه رپیږی او
د هغهٔ د خولې یو پوکے به بدعمله تباه کوی. ۵ صداقت به
د هغهٔ ملاتړ وی او وفاداری به د هغهٔ کمربند وی. ۶
شرمخان او ګډې به په یو ځائ په سکون سره اوسیږی، او
پړانګ به د چېلو د بچو سره ملاست وی. د غواګانو او زمرو
بچی به په یو ځائ خوراک کوی، او یو وړوکے ماشوم به دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بوتلے راوستے شی. ۷ غواګانې او مېلوګان به په يو ځائ
خوراک کوی، او د هغوئ بچی به په يو ځائ په امن سره
پراتۀ وی. او زمرے به د غوَيی په شان بوس خوری. ۸ د
پيو ماشوم به د مار سوړې سره لوبې کوی او لږ لوئ ماشوم
به د زهرژن مار سوړه کښې لاس اچوی. ۹ د خُدائ پاک
په مقدس غر به هيڅ تباهی نۀ کيږی او نۀ به چا ته نقصان
رسی، ځکه چې هغه مُلک به د مالِک خُدائ د عِلم نه داسې
ډک وی لکه سمندرونه چې د اوبو نه ډک دی.

## د جلاوطن شوو خلقو راواپس کېدل

۱۰ په هغه وخت به د يَسی د جرړې نه راټوکېدلې څانګه د
قومونو دپاره د يوې جنډې نښه وی. قومونه به د هغې نه
رهنمائی غواړی، او د هغې د استوګنې ځائ به جلالی وی.
۱۱ کله چې هغه ورځ راشی، نو مالِک خُدائ به يو ځل بيا د
خپل طاقت نه کار واخلی او خپل هغه خلق به خپلو کورونو
ته راولی کوم چې په اسور، مِصر، فتروس، ايتهوپيا، عيلام،
بابل او د حمات په مُلکونو کښې او د سمندر په غاړو کښې
پاتې شوی وُو. ۱۲ مالِک خُدائ به د نښې دپاره يوه جنډا
راواخلی چې قومونو ته وښائی چې هغه يو ځل بيا د اِسرائيل
او د يهوداه خوارۀ وارۀ خلق راغونډوی او د دُنيا د څلورو
واړو سرونو نه يې واپس راولی. ۱۳ د اِسرائيل حسد به ختم
شی او د يهوداه د دشمنانو نام و نشان به ختم شی. اِسرائيل
به د يهوداه نه نور نفرت نۀ کوی او نۀ به يهوداه د اِسرائيل
سره دشمنی کوی. ۱۴ هغوئ به په يو ځائ د نمرپرېوتۀ
طرف په فلستيانو باندې حمله وکړی او چې د نمرخاتۀ طرف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته کوم خلق اوسیږی نو هغوئ به لوټ کړی. هغوئ به د ادوم
او موآب په خلقو باندې فتح حاصله کړی او د عمون خلق به
د هغوئ تابعدار شی. ۱۵ مالِک خُدائ به بحرِقُلزم اوچ کړی
او هغه به خپل لاس د فرات سیند طرف ته اوچت کړی او
یوه ګرمه هوا به راولیږی او د دې نه به اووهٔ واړهٔ نِهرونه جوړ
کړی، چې هغوئ په اوچه زمکه په آسانئ تېر شی. ۱۶ هلته
چې د هغهٔ کوم خپل خلق یعنې بنی اِسرائیلیان ژوندی پاتې
وی نو د هغوئ دپاره به یو لوئ سړک وی چې د اسور نه به
ووځی، هغسې لکه څنګه چې د هغوئ پلار نیکهٔ دپاره یوه لار
جوړه وه کله چې هغوئ د مِصر نه روان شول.

## د شکرانې حمدوثناء

۱۲ ۱ په هغه ورځ به تاسو وایئ، "اے مالِکه خُدایه، زهٔ
ستا ثناء صِفت کوم. تهٔ ما ته غصه وې، خو اوس ستا غصه
سړه شوې ده او تهٔ ما له تسلی راکوې. ۲ ګورئ، خُدائ
پاک زما خلاصونکے دے، زهٔ به په هغهٔ توکل کوم او نهٔ به
یرېږم. ځکه چې مالِک خُدائ ما له طاقت راکوی او زما
حفاظت کوی، هغه زما خلاصونکے دے." ۳ په
خوشحالئ سره به تاسو د خلاصون د چشمې نه اوبهٔ
راوباسئ. ۴ په هغه ورځ به تاسو وایئ، "د مالِک خُدائ
شُکر ادا کړئ. هغهٔ ته د مدد دپاره آواز وکړئ. هغهٔ چې څهٔ
کړی دی نو ټولو قومونو ته ووایئ. هغوئ ته ووایئ چې د هغهٔ
نوم څومره لوئ دے. ۵ مالِک خُدائ چې کوم لوئ لوئ
کارونه کړی دی نو د هغې په وجه د هغهٔ حمدوثناء کوئ. او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولې دُنيا ته دې د دې خبر ورسيږی. ٦ اے د صيون خلقو
په اوچت آواز د خوشحالۍ نعرې ووهئ. د بنی اِسرائيلو
مقدس ذات ډېر لوئ دے، او هغه د خپلو خلقو په مينځ کښې
اوسيږی."

## د بابل خِلاف پېشګوئي

١٣ ١ دا د بابل په حقله يو پېغام دے چې د آموص
زوئ يشعياه ته ښکاره شو. ٢ په اوچت غر د جنګ جنډا
اوچته کړه. هغوئ ته چغه ووهه او لاسونو سره اِشاره ورکړه
چې راشی او د هغه مغروره ښار په دروازو کښې ورداخل
شی. ٣ ما مالِک خُدائ دا فوجيان راغوښتی دی، آو، ما دا
تکړه جنګياليان راغوښتی دی چې زما غصه ښکاره کړی،
او چې زما لوئی وشی نو هغوئ به خوشحالی وکړی. ٤ په
غرونو باندې شور ته غوږ ونيسئ، د خلقو لوئې ګڼې آوازونو
ته غوږ ونيسئ، د قومونو او د بادشاهو د خلقو د راغونډېدو
آواز ته غوږ ونيسئ. مالِک خُدائ ربُ الافواج د جنګ دپاره
لښکر تياروی. ٥ هغوئ د لرې لرې مُلکونو او د دُنيا د
سرونو نه راځی. دوئ د مالِک خُدائ وسله ده چې د هغهٔ
غصه ښکاره کړی او هغه ټول مُلک برباد کړی. ٦ ژاړئ
او فرياد ونه کوئ. د مالِک خُدائ د قيامت ورځ رانزدې ده،
هغه ورځ رانزدې ده چې په هغه ورځ به قادر خُدائ تباهی
راولی. ٧ د هر يو کس لاسونه به کار پرېږدی او ټول خلق
به بې حوصلې شی. ٨ هغوئ ټول به ويرېږی په دردونو
کښې به راګير شی، داسې دردونه به وی لکه چې د يوې ښځې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ماشوم پېدا کېږی. هغوئ به په یره یره کښې یو بل ته ګوری
او د یرې په وجه به د هغوئ مخونه زېړ شی. ۹ ګورئ، د
مالِک خُدائ ورځ راروانه ده، د هغهٔ د سخت قهر او غصې
یوه سخته ورځ راروانه ده. د زمکې نه به بیابان جوړ شی او
هر یو ګناهګار به تباه شی. ۱۰ ټول ستوری او د ستورو
قبیلې به ځلېدل بس کړی، نمر چې راخېژی نو دا به تور وی
او د سپوږمۍ رڼا به ختمه شی. ۱۱ مالِک خُدائ وفرمائیل،
”د دُنیا د بدۍ له وجې به زهٔ دې له سزا ورکړم، او بدعمله
خلقو له به د هغوئ د ګناهونو سزا ورکړم. زهٔ به د مغرورانو
غرور ختم کړم، او د ظالمانو لوئی به خاورې کړم. ۱۲ زهٔ
به انسانان د خالص سرو زرو نه زیات نایاب کړم، او خلق
به د اوفیر د سرو زرو نه هم لږ وی. ۱۳ په هغه ورځ چې زهٔ
مالِک خُدائ ربُ الافواج خپله غصه څرګندوم نو زهٔ به
آسمانونه ولړزوم او زمکه به د خپل ځائ نه وخوځی. ۱۴ په
بابل کښې به خلق داسې منډې وهی لکه چې هوسۍ د
ښکاریانو نه منډې وهی یا ګډې د شپون نه بغېر روانې وی،
او هغوئ به خپل وطن او خپل قوم ته واپس د تلو کوشش
کوی. ۱۵ هر څوک چې ګېر شی په تُوره به ووهلے شی، او
هر څوک چې ونیولے شی نو په تُوره باندې به ووژلے شی.
۱۶ د هغوئ د سترګو په وړاندې به د هغوئ د بچو نه په
وهلو وهلو باندې ساه وویستلے شی او د هغوئ کورونه به
لوټ کړے شی او د هغوئ د ښځو سره به په زور زنا وشی.“
۱۷ مالِک خُدائ وفرمائیل، ”زهٔ میدیانیان راپارومه چې په
بابل باندې حمله وکړی، ځکه چې هغوئ نهٔ د سپینو زرو
پرواه ساتی او نهٔ هغوئ دپاره سرهٔ زر څهٔ معنیٰ لری. ۱۸
هغوئ به د خپلو غشو او لیندو سره زلمی ووژنی. هغوئ به په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تېِ رَوړُونکو ماشومانو او په نورو ماشومانو هيڅ رحم او ترس
نۀ کوى. ﴿١٩﴾ د ټولو نه ښائسته بادشاهى د بابل ده، د هغې
ځائ خلق په بابل باندې فخر کوى. خو مالِک خُدائ به بابل
هغه شان تباه کړى لکه څنګه چې يې سدوم او عموره تباه
کړى وُو. ﴿٢٠﴾ هلته به بيا هيڅ څوک هم نۀ اوسيږى. دا به بيا
کله هم آباد نۀ شى. نۀ به عرب هلته خېمې لګوى او نۀ به
شپانۀ خپلې رَمې ودروى. ﴿٢١﴾ دا به يو داسې ځائ وى چرته
چې ځنګلى ځناور اوسيږى او چرته چې ګونګا خپلې جالې
جوړوى. هلته به شترمرغ اوسيږى او ځنګلى چېلۍ به په هغه
کنډرو کښې ټوپونه وهى. ﴿٢٢﴾ د دې په مينارو او محلونو
کښې به د ځنګلى سپو او د ګيدړانو آوازونه وى. د بابل وخت
رارسېدلے دے. او د دې وخت تقريباً د ختمېدو والا دے.“

## د جلاوطنۍ نه راواپس کېدل

١٤ ﴿١﴾ خو مالِک خُدائ به يو ځل بيا د يعقوب په اولاد
باندې رحم وکړى، او اِسرائيل به بيا خپل غوره شوے قوم
وګڼى. هغه به هغوئ واپس راولى چې په خپل مُلک کښې بيا
آباد شى او د پردى مُلک خلق به راځى او د هغوئ سره به په
اتفاق اوسيږى. ﴿٢﴾ ډېر قومونه به د بنى اِسرائيلو مدد وکړى
چې هغوئ خپل هغه مُلک ته واپس راشى کوم چې مالِک
خُدائ هغوئ له ورکړے دے. او هلته به هغه قومونه د وينځو
او نوکرانو په توګه د بنى اِسرائيلو خِدمت کوى. کومو خلقو
چې په يو وخت کښې بنى اِسرائيليان نيولى وُو نو اوس به بنى
اِسرائيليان هغه خلق ونيسى او د بنى اِسرائيلو خلق به په هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلقو حکومت کوی چا چې په یو وخت کښې په هغوئ ظلم
زياتے کولو.

## د بابل د بادشاه زوال

۳ په هغه ورځ به مالِک خُدائ تاسو له د تکليفونو او
پرېشانو نه آرام درکړی او د هغه سخت کار نه به مو خلاص
کړی چې د ستاسو نه په زور اخستے شو. ۴ نو تاسو به د
بابل بادشاه پورې ټوقې کوئ او وايئ به چې، ”هغه ظالم
بادشاه غورزېدلے دے. او د هغهٔ غصه ختمه شوې ده. ۵
مالِک خُدائ د بدعملو طاقت ختم کړے دے او د حکمرانانو
اختيار يې مات کړے دے ۶ چا چې به په غصه کښې په
خلقو باندې ظلم زياتے کولو او چې هغوئ کوم قومونه فتح
کړی وُو نو د هغوئ خِلاف يې هيڅکله ظلم نهٔ بس کولو. ۷
نو په آخر کښې به ټوله دُنيا د امن او سکون نه خوند اخلی او
هر طرف ته به د خوشحالئ سندرې وی. ۸ د سبر ونې او
د لبنان د دِيار ونې په هغه بادشاه باندې خوشحاله دی چې د
چا بادشاهی ختمه شوې ده، ځکه چې داسې څوک نشته چې
دا ونې ووهی. ۹ د مړو دُنيا بادشاه ته د پخير راغلې دپاره
خپل ځان تياروی. کوم کسان چې په دُنيا کښې طاقتور وُو نو
د هغوئ روحونه به بادشاه ته ودرېږی. د بادشاهانو روحونه
به د هغوئ د تختُونو نه ستا ليدو ته ودرېږی. ۱۰ هغوئ ټول
به هغهٔ ته آواز وکړی چې تهٔ هم زمونږ په شان کمزورے يې.
تهٔ هم زمونږ په شان يې. ۱۱ ستا شان او شوکت تا سره ښخ
شوے دے، او ستا د بينجو ساز خاموش شوے دے. تهٔ د
وړو چينجو په بستره ملاست يې او د چينجو په کمبله پټ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یې. ۱۲ اے ځلېدونکی ستوریه، اے د سحر زویه. اوس د
آسمان نه راپرېوتے یې. په تېره زمانه کښې تا قومونه فتح
کول، خو اوس تهٔ په خاوره کښې غورزولے شوے یې. ۱۳
تا په زړهٔ کښې وئیل چې بره آسمان ته به وخېژم او په اوچتو
ستورو به خپل تخت ولګوم، په شمال کښې به په هغه غر د یو
بادشاه په شان کښېنم چرته چې معبودان راغونډیږی. ۱۴ تا
ووئیل چې پاس وریځو ته به وخېژم او د خُدائ تعالىٰ په شان
به شم. ۱۵ خو تهٔ لاندې د مړو د دُنیا هغه د ټولو نه ژورې
کندې ته ویشتلے شوے یې. ۱۶ څوک هم چې تا ووینی نو
هغوئ به غور سره تا ته ګوری او سوچ به کوی چې، ولې دا
هغه سړے دے چا چې زمکه خوځوله او بادشاهۍ به یې
لړزولې؟ ۱۷ ولې دا هم هغه سړے دے چا چې ښارونه تباه
کړل او دُنیا یې په بیابان بدله کړه؟ ولې دا هغه سړے دے
چې هغهٔ هیڅکله هم خپل قېدیان نهٔ آزادول چې خپلو کورونو
ته لاړ شی؟ ۱۸ د دُنیا ټول بادشاهان په خپلو ښائسته
ښائسته قبرونو کښې پراتهٔ دی، ۱۹ ستا خو قبر هم نشته او
لاش دې لکه د بېکاره څانګې په شان بهر غورزولے شوے
دے. ستا لاش د فوجیانو په هغه لاشونو کښې پټ دے کوم
چې په جنګ کښې وژلے شوی دی. او تهٔ د هغوئ سره د
کاڼو یوې کندې ته غورزولے شوے یې او د پښو لاندې کړے
شوے یې. ۲۰ ستا جنازه به د نورو بادشاهانو په شان عزت
سره نهٔ کیږی، ځکه چې تا خپل مُلک تباه کړے دے او خپل
خلق دې وژلی دی. د بدعمله کس اولاد به هیڅکله هم د عزت
سره نهٔ یادیږی. ۲۱ د دې سړی زامن ووژنئ، پرېږدئ چې د
هغوئ د پلار نیکهٔ د ګناه په وجه مړهٔ شی. داسې نهٔ وی چې
هغوئ بیا په دُنیا باندې فتح حاصله کړی او دُنیا د هغوئ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښارونو نه ډکه شی.“

## د خُدائ پاک د بابل تباه کول

٢٢ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، ”زهٔ پخپله د بابل
خلاف راوچت شوے یم. زهٔ به د دوئ اولاد تباه او برباد
کړم. ما، مالِک خُدائ دا وئیلی دی. ٢٣ بابل به زهٔ په نمژنه
زمکه بدل کړم او هلته به ګونګا مارغان اوسیږی. زهٔ به په
بابل باندې داسې جارُو ووهم چې هغه به د ځان سره هر څهٔ
جارُو کړی. زهٔ، مالِک خُدائ، ربُ الافواج دا اعلان کوم.“

## د خُدائ پاک د اسور تباه کول

٢٤ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا قسم کړے دے، ”ما چې
کومه منصوبه جوړه کړې ده نو هغه به پوره شی. ما چې د
څهٔ اراده کړې ده نو هغه به کیږی. ٢٥ زهٔ به په خپل مُلک
اِسرائیل کښې اسوریان تباه کړم او زهٔ به هغوئ په خپلو
غرونو کښې د پښو لاندې کړم. د هغوئ جغ به زما د خلقو نه
اخوا شی او بوج به د هغوئ د اوږو نه اوچت شی. ٢٦ د
ټولې دُنیا دپاره دا زما منصوبه ده او ما خپل لاس د ټولو
قومونو خلاف اوچت کړے دے.“ ٢٧ مالِک خُدائ ربُ
الافواج دا فیصله کړې ده، نو څوک دا رد کولے شی؟ هغهٔ
خپل لاس اوچت کړے دے، څوک دا راپسارولے شی؟

## د خُدائ پاک د فلستیه تباه کول

٢٨ دا پیغام په هغه کال باندې راغلے وو په کوم کال چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

احاز بادشاه مړ شو. ۲۹ اے فلستيانو، په دې باندې
خوشحاليږئ مۀ چې په کومه چوکه به تاسو وهل خوړل هغه
ماته شوې ده، ځکه چې د دغه مار نه به زيات زهرژن مار
پيدا شى، يوه داسې اژدها چې تاسو به تباه کړى. ۳۰
غريبانان به خوراک وکړے شى او ضرورتمند به په محفوظ
ځائ کښې آرام وکړے شى. خو ستاسو بېخ به د سخت قحط
سره ختم کړم او چې کوم ژوندى پاتې شى هغوئ به تباه
کړم. ۳۱ اے د ښار دروازو ژاړئ. اے ښاره ماتم کوه. اے
فلستيانو د يرې نه ريږيږئ. د شمال طرف نه د لوږى په شان
وريځ راروانه ده، دا د داسې فوجيانو لښکر دے چې په
صفونو کښې يې يو بُزدل هم نشته. ۳۲ د فلستيه نه چې کوم
پېغام وړُونکى مونږ له راځى نو هغوئ له څۀ جواب ورکړُو؟
مونږ به ورته وايو چې مالِک خُدائ صيون د دې دپاره
محفوظ کړے دے، چې د هغۀ په خلقو کښې مظلومان هلته
پناه واخلى.

## د جلاوطنۍ نه راواپس کېدل

۱۵ ۱ دا پېغام د موآب په حقله دے. په يوه شپه د
موآب ښار عار تباه شوے دے. په يوه شپه د موآب ښار قير
تباه شوے دے. ۲ د ديبون خلق غر ته ختلى دى چې په
خپله عبادتخانه کښې ژړا وکړى. د موآب خلق به د نبو او
ميدبا په ښارونو د خفګان نه ژړا کوى، هغوئ د خفګان نه
خپل سرونه او ږيرې کلې کړې دى. ۳ په لارو کوڅو کښې
خلقو د ټاټ جامې اغوستې دى، د ښار په چوکونو کښې او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کورونو په چتونو باندې خلق ژړا او ماتم کوی. ۴ د
حسبون او اِلیعالی خلق په ژړا دی او د هغوئ ژړا تر یهض
پورې اورېدے شی. د موآب فوجیان په یره کښې نعرې وهی،
او هغوئ بېحوصلې شوی دی. ۵ زما زړهٔ د موآب دپاره
ژاړی. خلق د ضُعر ښار او عجلتشلیشیاه ښار ته تښتېدلی
دی. خلق په ژړا کښې د لوحیت په طرف خېژی، هغوئ د
حورونایم په لار په چغو چغو ژاړی. ۶ د نِمریم اوبهٔ اوچې
شوې دی او د دې واښهٔ اوچ شوی دی ټول شینکے ختم
شوے دے او یو شین بوټے هم پاتې نهٔ دے. ۷ نو په دې
وجه خلق د خپل ټول مال دولت او سامان سره خاروَلو د
وادئ نه تېرېږی. ۸ د موآب د حد ټولو پولو سره د ژړا
آوازونه راتمبیږی. دا ژړا د اجلائم او بیر ایلیم په ښارونو
کښې اورېدلے شی. ۹ د دیبون ښار سره سیند په وینه
باندې سور دے او خُدائ پاک به د هغه ځائ په خلقو باندې
د هغې نه هم زیات مصیبت راولی. ازمری به په هغوئ حمله
وکړی چې څوک د موآب نهٔ بچ وتې وی او په هغوئ هم
څوک چې لا په مُلک کښې وی.

## موآبیان د نااُمیدئ په حالت کښې

# ١٦

١ د سلع نه د مُلک حکمران ته په کلنګ کښې
ګډُوری ورولېږه. دا د صحرا په لاره د صیون لور غرهٔ ته
ورولېږه. ۲ د موآب ښځې د ارنون سیند په غاړه باندې د
هغه مارغانو په شان دی چې د جالې نه شړلے شوی وی.
۳ هغوئ ژاړی او وائی، ”زمونږ مدد وکړئ، زمونږ
دشمنانو نه زمونږ حِفاظت وکړئ. د هغوئ د حملې نه مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بچ کړئ. اوس چې موښږ راتښتېدلی یُو نو موښږ سره دوکه مهٔ
کوئ. ۴ زموښږ مهاجر پرېږدئ چې ستاسو په مُلک کښې
ایسار شی. څوک چې هغوئ تباه کول غواړی هغوئ نه ورله
پناه ورکړئ.“ ظلم زیاتے او تباهی به ختم شی او څوک چې
د نقصان رسولو کوشش کوی نو هغوئ به مخ د زمکې نه
ورک شی. ۵ بیا به د داؤد د اولاد یو کس بادشاه شی او
هغه به په وفادارئ او مینې سره په خلقو باندې حکومت
کوی. هغه به په صحیح کار کولو کښې تېزی کوی او ګوری
به چې د اِنصاف نه کار اخستے شوے دے. ۶ موښږ د
موآب د غرور په حقله اورېدلی دی. هغوئ مغروره، کبرژن،
خود غرضه او سپین سترګې دی. خو د هغوئ لاپې عبث دی.
۷ د موآب خلق په خپل حال باندې ژاړی، هغوئ په سلګو
سلګو د قیرحراست ښار کشمش یادوی، د هغوئ حالت
بدترین دے. ۸ د حسبون پټی او د سبماه د انګورو باغونه
تباه شوی دی، دا د انګورو هغه باغونه وُو چې د شرابو سره
به یې د قومونو حکمرانان نشه کېدل. په یو وخت کښې د
یعزیر ښار پورې او په صحرا کښې نمرخاتهٔ طرف ته او
نمرپرېواتهٔ طرف ته د مړ دریاب بلې غاړې پورې د دې
څانګې رسېدلې دی. ۹ خو اوس زهٔ د سبماه د انګورو
باغونو دپاره هم هغه شان ژاړم لکه څنګه چې د یعزیر دپاره
ژاړم. د حسبون او اِلیعالی دپاره زما اوښکې توئیږی، ځکه
چې د فصل لَو نهٔ کیږی چې خلق ورسره خوشحاله شی. ۱۰
د باغونو نه خندا او خوشحالی غیبه شوې ده. د انګورو په
باغونو کښې یو کس هم آوازونه نهٔ کوی او نهٔ سندرې وائی.
هیڅ څوک هم انګور نهٔ چخنی کوی چې رس ترینه وباسی،
ولې چې ما د خندا نعرې ختمې کړې دی. ۱۱ زړهٔ مې لکه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رباب په ساز کښې د موآب د غمه چوی، او زما زړهٔ د
قیرحراست دپاره غمژن دے. ١٢ د موآب خلق هسې خپل
ځانونه ستړی کوی او هغوئ په غرونو باندې زیارتونو او
خپلو عبادتخانو ته د سوال دپاره ځی، دا به دوئ له هیڅ فائده
ورنهٔ کړی. ١٣ دا هغه پېغام وو چې مالِک خُدائ د موآب په
حقله مخکښې ورکړے وو. ١٤ او اوس مالِک خُدائ
فرمائی، ”پوره په درې کاله کښې به د موآب لوئ مال دولت
ختم شی. او د دې د ډېرو خلقو نه به صرف یو څو ژوندی
پاتې شی، او هغوئ به ډېر کمزوری وی.“

## د خُدائ پاک شام او اِسرائیل له سزا ورکول

١٧ ١ دا د دمشق په حقله پېغام دے، ”د دمشق ښار به
تباه شی، او دا به تش د کنډرو یو ډېرے پاتې شی. ٢ د
عروعیر ښارونه به د همېشه دپاره په کنډرو بدل شی. دا به د
ګډو او څاروو دپاره د څرن زمکه وګرځی، چې هیڅ څوک به
یې ترې نه نهٔ شړی. ٣ د اِسرائیل پاخهٔ ښارونه به تباه شی
او د دمشق بادشاهی به ختمه شی. کوم شامیان چې ژوندی
پاتې وی نو هغوئ به د بنی اِسرائیلو په شان د شرم سره مخ
شی. ما مالِک خُدائ، ربُ الافواج دا فرمائیلی دی. ٤ په
هغه ورځ به د اِسرائیل دبدبه ختمه شی او د دې مالداری به په
غریبئ بدله شی. ٥ اِسرائیل به د یو داسې پټی په شان وی
چې غله ترې نه ریبلے شوې او راغونډه کړے شوې وی، دا
به داسې وی لکه چې د رفائیم په وادئ کښې یو پټے شاړ
پروت وی او چې د دې نه هر څهٔ وړلے شوی وی. ٦ خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صرف يو څو کسان به پاتې شى او اِسرائيل به د زيتُونو د
داسې ونې په شان وى چې د هغې نه ټول زيتون راټول کړے
شوى وى خو صرف دوه درې دانې يې په آخرى سر باندې او
يا يو څو يې په لاندې څانګو کښې پاتې وى. ما مالِک خُدائ د
بنى اِسرائيلو خُدائ پاک دا فرمائيلى دى.“ ۷ په هغه وخت
به خلق په خپل خالِق بهروسه کوى، او هغوئ به د بنى
اِسرائيلو په مقدس ذات منحصر وى. ۸ هغوئ چې په خپلو
لاسونو کومې قربانګاه جوړې کړې دى هغوئ به په دې
باندې نور يقين نۀ ساتى، او د اشيرې بُت په نښو او د
خوشبودارو مصالحو سوزولو په قربانګاه باندې به يې
اعتبار ختم شى. ۹ په هغه وخت به د هغوئ پاخۀ ښارونه
شاړ او ويجاړ شى او د هغه ښارونو په شان به په کنډرو بدل
شى لکه څنګه چې حِويانو او اموريانو په هغه وخت کښې
پرېښى وُو چې هغوئ د بنى اِسرائيلو نه تښتېدل. ۱۰
افسوس، تاسو خپل د خلاصون خُدائ پاک هېر کړے دے
او هغه مضبوط ګټ درته نۀ دے ياد چې تاسو پرې پناه
اخستے شئ. خو تاسو د پردى مُلک د معبود د عبادت دپاره
ښائسته باغونه کَرلى دى. ۱۱ خو چې کله تاسو کَرلى وى نو
کۀ هم په هغه سحر دا غوټۍ او ګلونه هم شى، نو هيڅ پېداوار
به يې نۀ وى. تشه بيمارى او لاعلاجه درد به درته ملاوېږى.

## د دشمن د قومونو شکست خوړل

۱۲ بې‌شمېره قومونه د سمندر د شور په شان شور کوى،
هغوئ داسې شور کوى لکه چې لوئې لوئې چپې په خپلو کښې
جنګېږى. ۱۳ اګر کۀ هغوئ د سمندر د تېزو چپو په شان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شور کوی، خو خُدائ پاک به هغوئ خاموش کړی او هغوئ
به وتښتی. هغوئ به داسې تښتی لکه څنګه چې هوا بوس
زغلی، یا څنګه چې دوړې په طوفان کښې الوځی. ۱۴ په
ماښام کښې به اِسرائیل سخت ویریږی، خو تر سحره به د
هغوئ ټول دشمنان مړهٔ وی. دا به د هغوئ قسمت او اَنجام
وی چې څوک زمونږ د لوټ کولو کوشش کوی.

## د خُدائ پاک ایتهوپیا له سزا ورکول

۱۸ ۱ په هغه مُلک افسوس په کوم کښې چې د وزر
آواز اوریدلے شی، او چرته چې د ایتهوپیا سیندونه بهیږی.
۲ د هغه مُلک نه د نیل دریاب ته سفیران په داسې کشتو
کښې ځی چې د لوخو نه جوړې وی. اے تیزو پیغام وړونکو،
ځئ. هغه لوړو لوړو او د هوارې څرمنې خلقو له پیغام یوسئ
د چا نه چې ټوله دُنیا یریږی، هغه مضبوط او جنګیالی قوم له
پیغام یوسئ، د چا مُلک چې په سیندونو باندې تقسیم دے.
۳ څوک چې په زمکه اوسیږی نو هغوئ ټول دا واورئ.
هغه نښې ته وګورئ چې د غرونو په سرونو به ښکاره شی. او
چې بیګل غږیږی نو غوږ ورته ونیسئ. ۴ مالِک خُدائ ما
ته وفرمائیل، ”زهٔ به خپل د استوګنې ځائ نه په خاموشۍ
سره ګورمه. خو زما دا خاموشی به داسې وی لکه د تکنې
غرمې د شُغلې په شان یا د لَو په وخت د سحر د پرخې په
شان.“ ۵ د انګورو راټولولو نه مخکښې، کله چې دا ټول
ګلونه وغورزوی او انګور په پخېدو وی، نو مالِک خُدائ به
حبشیان داسې په آسانۍ سره تباه کړی لکه چې د بوټو
قینچیانې د انګورو د بوټی نه څانګې پرې کوی. ۶ د هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د فوجیانو لاشونه به مارغانو او ځنګلي ځناورو ته پراتهٔ وی.
په اوړی کښې به هغوئ د مارغانو خوراک وی او په ژمی
کښې به د ځناورو خوراک وی. ۷ یو وخت به هغه
مضبوط او جنګیالی قومونه چې اوچت او هوارې ځرمنې
دی، د چا نه چې ټوله دُنیا یریږی مالِک خُدائ ربُ الافواج ته
به د هغه مُلک نه نذرانې راوړی، کوم مُلک چې په سیندونو
باندې تقسیم شوے دے. هغوئ به د صیون ښار ته راشی،
چرته چې مالِک خُدائ ربُ الافواج استوګنه کوی.

## د خُدائ پاک مِصریانو له سزا ورکول

۱۹ ۱ دا پیغام د مِصر په حقله دے. ګورئ، مالِک
خُدائ مِصر ته د تېزې وریځې دپاسه راروان دے. د
مِصریانو بُتان د هغهٔ په وړاندې لړزیږی او د مِصر خلق خپله
حوصله بائیلی. ۲ مالِک خُدائ فرمائی، "زهٔ به په مِصر
کښې خانه جنګی راولم نو ورور به د ورور خِلاف شی او
ګاونډی به د ګاونډی خِلاف شی. ښار به د ښار خِلاف شی او
بادشاهی به د بادشاهئ خِلاف شی. ۳ مِصریان به حوصله
بائیلی او زهٔ به د هغوئ منصوبې ګډې وډې کړم. هغوئ به د
بُتانو، د مړو د روحونو والا نه او فالګرو نه مشورې اخلی.
۴ زهٔ به مِصر یو ظالم مالِک ته حواله کړم، یو طاقتور
بادشاه به په هغوئ حکومت کوی. ما مالِک خُدائ، ربُ
الافواج دا فرمائیلی دی." ۵ د نیل په دریاب کښې به اوبهٔ
کمې شی او دریاب به مکمل اوچ شی. ۶ کله چې د دریاب
نِهرونه په کمېدو شی او اوچیږی نو د دې نه به خراب بوئ
ځی. لوخې او جاړې به اوچې شی، ۷ او د نیل دریاب په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غاړه چې خومره بوټي دي هغه به اوچ شي. او د درياب سره
نزدې ټول کَرلے شوي پټي به اوچ شي او په هوا کښې به
والوځي. ۸ ماهيګر به فرياد کوي او ژاړي به، د کُنډو او د
جالونو والا به غمژن وي. ۹ جولاګان او څوک چې د لټې
جامې جوړوي به نااُميده وي. ۱۰ د کپړې جوړوونکي به
سخت مايُوسه وي، او ټول کاريګر به پرېشانه وي. ۱۱ د
ضُعن ښار مشران کم عقل دي. د مِصر د بادشاه ښهٔ
هوښيار مشيران کم عقلې مشورې ورکوي. چې تاسو دا
جرأت څنګه کولے شئ چې فِرعون بادشاه ته ووايئ چې،
"مونږ عالمانو شاګردان او د پخوانو بادشاهانو اولاد يُو."
۱۲ اے د مِصر بادشاه، ستا هغه هوښيار مشيران چرته
دي؟ هغوئ دې معلوم کړي او تا ته دې ووائي چې مالِک
خُدائ ربُ الافواج د مِصر دپاره څهٔ منصوبې لري. ۱۳ د
ضُعن مشران کم عقل دي او د ميمفِس مشرانو دوکه خوړلې
ده. دغه مشرانو مِصر بې‌لارې کړے دے. ۱۴ مالِک خُدائ
هغوئ کم عقل کړي دي، نو د هغوئ ټولې مشورې غلطې دي.
هغوئ مِصر داسې ګډ وډ کړے دے لکه چې يو شرابي په
نشه کښې په خپلو اولټو کښې ښوئيږي. ۱۵ او مِصر به هيڅ
هم نهٔ شي کولے، کهٔ مشر وي او کهٔ کشر، کهٔ لوئ وي او کهٔ
وړوکے.

## د مِصريانو د مالِک خُدائ عبادت کول

۱۶ په هغه ورځ به مِصريان د ښځو په شان کمزوري وي.
چې مالِک خُدائ ربُ الافواج هغوئ له د سزا ورکولو دپاره
لاس اوچت کړي نو هغوئ به د ويرې نه ولړزيږي. ۱۷ او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوداه مُلک په وجه به په مِصریانو باندې یره راشی، هر چا
ته چې د یهوداه نوم واخستلے شی نو هغه به ویریږی، دا د
هغه منصوبې په وجه چې مالِک خُدائ ربُ الافواج د هغوئ
خِلاف تیاره کړې ده. ۱۸ په هغه وخت کښې به د مِصر په
پینځو ښارونو کښې عبرانی ژبه وئیلے شی. د هغه ځائ خلق
به د مالِک خُدائ ربُ الافواج په نوم د وفادارئ قسمونه
کوی. په هغه ښارونو کښې به د یو ښار نوم ”د نمر ښار“ وی.
۱۹ په هغه وخت کښې به د مِصر د مُلک په مینځ کښې د
مالِک خُدائ دپاره یوه قربان‌ګاه وی او د مِصر په سرحد
باندې به د کاڼی یو یادګار وی چې هغۀ ته وقف شوے وی.
۲۰ دا به په مِصر کښې د مالِک خُدائ ربُ الافواج د
موجودګئ نښې وی. کله چې هلته د خلقو سره ظلم زیاتے
کیږی او د مدد دپاره مالِک خُدائ ته آواز وکړی، نو هغه به د
هغوئ د بچ کولو دپاره خلاصونکے ورلیږی. ۲۱ مالِک
خُدائ به د مِصر خلقو ته خپل ځان څرګند کړی او هغوئ به
یې قبول کړی او د هغۀ عبادت به کوی او هغۀ ته به قربانئ او
نذرانې پیش کوی. هغوئ به د هغۀ سره پاخۀ لوظونه وکړی
او خپلې وعدې به ورسره پوره کوی. ۲۲ مالِک خُدائ به
مِصریانو له سزا ورکړی، خو هغه به یې بیا روغ کړی. هغوئ
به هغۀ ته راوګرځی او هغه به د هغوئ سوال قبول کړی او
هغوئ به روغ کړی. ۲۳ په هغه وخت کښې به د مِصر او
اسور په مینځ کښې یوه لویه لار وی. او د دواړو مُلکونو خلق
به د یو بل مُلک ته ځی راځی او د مِصر او اسور قومونه به په
یو ځائ عبادت کوی. ۲۴ په هغه وخت کښې به بنی اِسرائیل
د مِصر او اسور سره ملګرے شی او دا درې واړه قومونه به
د ټولې دُنیا دپاره د برکت سبب جوړ شی. ۲۵ مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ربُ الافواج به دېِ قومونو له برکت ورکړی او ووېه فرمائی،
”اے مِصریانو، زما خلقو، اے اسوریانو، تاسو ما پېدا کړی
یئ، اے بنی اِسرائیلو، تاسو زما غوره شوی خلق یئ نو تاسو
له زۀ برکت درکوم.“

## د یو پېغمبر نښه څرګندول

٢٠ ۱ په کوم کال چې د اسور د بادشاه د سرجون په
حُکم د اسوریانو د لښکر فوجی مشر په اشدود ښار باندې
حمله وکړه او دا یې قبضه کړو، ۲ په هغه وخت کښې
مالِک خُدائ د آموص زوئ یشعیاه ته فرمائیلی وُو چې هغه
څپلۍ او د ټاټ هغه جامې وباسی کومې چې هغۀ اغوستې
وې. نو هغۀ دا حُکم ومنلو او برېنډ او بغېر د څپلو نه روان
شو. ۳ نو بیا مالِک خُدائ وفرمائیل، ”زما خِدمت
کوونکے یشعیاه درې کاله برېنډ او بغېر د څپلو نه ګرځېدلے
دے. دا د هغې نښه ده چې په مِصر او ایتهوپیا باندې به څۀ
کیږی. ۴ د اسور بادشاه چې د دې دوو مُلکونو نه قېدیان
نیولی دی نو هغوئ به برېنډ بوځی. زلمی او بوډاګان به د
څپلو نه بغېر او برېنډ روان وی، د هغوئ کوناټې به ښکاری،
دا به د مِصر دپاره د شرم خبره وی. ۵ چا چې په ایتهوپیا
باندې یقین ساتلے وی او په مِصر باندې یې لافې وهلې وی
نو هغوئ به مایوسه شی او وېره شرمیږی. ۶ کله چې هغه
وخت راشی نو کوم خلق چې د فلستیه د سمندر په غاړه
اوسیږی نو هغوئ به ووائی، وګورئ، په هغه خلقو څۀ وشول
چې په چا باندې مونږ دا یقین کولو چې مونږ به د اسور د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه نه بچ کړی. خو اوس زمونږ دپاره د خلاصی لار هم
نشته.“

## د بابل د زوال پیشګوئي

۲۱ ۱ دا پېغام د بابل په حقله دے، چې درياب سره په
صحرا کښې دے. لکه څنګه چې په صحرا کښې تاوېدونکے
باد چلېږی دغه شان به افت د صحرا نه راشی، او يرووونکے
مُلک به درباندې حمله وکړی. ۲ ما د خرابو حالاتو په
حقله يوه رويا يعنې د وېښې خوب ليدلے دے، ما وکتل چې
دوکه باز دوکې کوی او تباه کار تباهی کوی. اے د عيلام
لښکره، حمله وکړه. اے د مادی لښکره، ښار محاصره کړه.
د بابل په وجه چې کوم مصيبت راغلے دے نو خُدائ پاک
به هغه ختم کړی. ۳ نو په دې وجه زۀ د يرې او درد سره
مخ شوے يم، او دا درد داسې دے لکه چې ښځه يې د
ماشوم د پيدا کولو په وخت لری. زۀ چې څۀ اورم نو په ما
بد لګی او چې څۀ ګورم نو يريږم. ۴ زما زړۀ درزيږی او
رپيږم. اول به ماښام په ما ډير ښۀ لګېدو خو اوس د تيارې نه
زۀ يريږم. ۵ ګورم چې لوئ خوراک تيارېږی، د خلقو د
کښېناستو دپاره قالينونه غوړېدلی دی. هغوئ خوراک
څښاک کوی، ”پاڅئ، اے آفسرانو، خپل ډالونه تيار کړئ.“
۶ بيا مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل، ”لاړ شه او يو محافظ
ودروه او هر څيز چې هغه ګوری نو د هغې خبر به راوړی.
۷ چې څنګه هغه دڅو آسونو والا جنګی ګاډی وګوری يا په
خرونو او اوښانو باندې سوارۀ کسان ووينی، نو هغه دې ښۀ
بېدار اوسی.“ ۸ بيا څوکيدار آواز وکړو، ”مالِکه خُدايه، زۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپل ځائ باندې د څوکیدارۍ دپاره شپه او ورځ ولاړ یم.
۹ اوس وګورئ، د دؤو آسونو والا جنګی ګاډۍ راروانه ده
چې یو سړے پکښې سور دے.“ څوکیدار ووئیل، ”بابل ختم
شوے دے. د بابل ټول بُتان ټوټې ټوټې شوی دی او په زمکه
باندې خوارۀ وارۀ پراتۀ دی.“ ۱۰ اے زما خلقو، تاسو د
غنمو په شان په درمند باندې غوبل شوی یئ، خو اوس زۀ
تاسو ته یو ښۀ زیرے اوروم چې ما د مالِک خُدائ ربُ
الافواج نه اوریدلے دے، چې هغه د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک
دے.

## د ادوم په حقله پیغام

۱۱ دا پیغام د ادوم په حقله دے. د ادوم نه ما ته چا آواز
وکړو، ”څوکیداره، دا شپه به کله تیریږی؟ سحر ته څومره
وخت پاتې دے؟“ ۱۲ نو ما جواب ورکړو، ”سحر راتلونکے
دے، خو شپه به بیا راځی. کۀ تۀ بیا تپوس کول غواړې، نو
بیا راشه او تپوس وکړه.“

## د عربو په حقله پیغام

۱۳ دا پیغام د عربو په حقله دے. اے د ددان قافِلو، د عربو
په شاړ مُلک کښې شپه تیره کړئ. ۱۴ اے د تیما خلقو،
کوم خلق چې تږی دی نو هغوئ له اوبۀ ورکوئ. او مهاجرو
له خوراک ورکوئ، ۱۵ ځکه چې هغوئ د تُورو نه تښتی، او
د داسې خلقو نه چې تُوره په لاس او تیر کمان په غاړه د
هغوئ سره سخت جنګیدلی وی. ۱۶ بیا مالِک خُدائ ما ته
وفرمائیل، ”پوره په یو کال کښې دننه به د قیدار شان او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوکت ختم شی. ۱۷ د قیدار صرف یو څو غشی او لینده
چلوونکی سړی به پاتې شی. ما مالِک خُدائ، د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک دا فرمائیلی دی.“

## د یروشلم په حقله پېغام

۲۲ ۱ دا پېغام د رویا د وادۍ د یروشلم په حقله دے.
څۀ شوی دی؟ دا ټول خلق ولې د کورونو چتونو ته د
خوشحالۍ دپاره خېژی؟ ۲ ټول ښار بېقراره دے او د
شور شرابې نه ډک دے. ستاسو مړی په تُوره نۀ دی قتل
کړے شوی او نۀ په مېدانِ جنګ کښې مړۀ دی. ۳ ستاسو
ټول مشران وتښتېدل او هغوئ لا یو غشے هم نۀ وو ویشتلے
چې ونیولے شول. باقی خلقو هم د تښتېدو کوشش وکړو خو
هغوئ هم قېد کړے شول. ۴ ځکه ما ووئیل، ”ما پرېږده
چې په چغو چغو وژاړم. ما له د تسلۍ راکولو کوشش مۀ
کوئ. ما پرېږدئ چې د خپلو خلقو دپاره وژاړم، زۀ ګورم
چې هغوئ تباه کېږی.“ ۵ په حقیقت کښې مالِک خُدائ،
ربُ الافواج دا وخت راوستے دے. د رویا په وادۍ کښې
ګډوډی ده، خلق هیبتناکې منډې وهی او د هغوئ د ژړا چغې
غرونو ته رسی. ۶ د عیلام د مُلک نه په آسونو سوارۀ
فوجیان راغلل، چې کمان او غشی ورسره وُو. او د قیر د
مُلک فوجیانو خپل ډالونه راخستی وُو. ۷ د یهوداه بهترینې
وادیانې د جنګی ګاډو نه ډکې وې، په آسونو سوارۀ فوجیان د
یروشلم د دروازو په مخکښې حملې دپاره ولاړ وُو. ۸
یهوداه چې د خپل تحفُظ دپاره څومره بندوبست کړے وو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ختم شوے دے. په هغه ورځ تاسو څۀ وکړل؟ په هغه
وخت کښې تاسو په هغه وسله باندې بهروسه وکړه کومه چې
د ځنګل کور نومې ځائ کښې ساتلے شوې وه. ٩-١٠ په
يروشلم کښې تاسو د هغه ځايونو جائزه واخسته چرته چې
دېوالونو مرمت غوښتو. تاسو په يروشلم کښې د ټولو کورونو
معائنه وکړه او څۀ کورونه مو د دې دپاره راغورزول چې د
ښار د دېوالونو د مرمت کولو دپاره ترې نه کاڼې واخلئ. د
اوبو جمع کولو دپاره، ١١ تاسو د ښار د دېوالونو په مينځ
کښې د هغه اوبو رايسارولو دپاره تالاب جوړ کړو کومې اوبۀ
چې د زوړ ډنډ نه رابهېدلې. خو تاسو خُدائ پاک ته هيڅ توجو
ونۀ کړه، چې هغۀ ډېر د پخوا نه د دې هر څۀ منصوبه جوړه
کړې وه او هغۀ داسې وکړل. ١٢ بيا مالِک خُدائ پاک ربُ
الافواج تاسو ته آوازونه کول چې ژړا او ماتم کوئ، خپل
سرونه کل کړئ او د ټاټ جامې واغوندئ. ١٣ خو د هغې په
ځائ، تاسو خندا او خوشحالی کوله. تاسو ښاروی او ګډې
حلالې کړې چې وې خورئ او تاسو مے څښل. تاسو وئيل،
”مونږ له ښۀ خوراک څښاک په کار دے، ځکه چې سبا به
مړۀ يُو.“ ١٤ مالِک خُدائ ربُ الافواج په خپله ما سره
خبرې وکړې او راته يې وفرمائيل، ”ترڅو پورې چې تاسو
ژوندی يئ نو دا بد عمل به درته هيڅکله معاف نۀ شی. ما،
مالِک خُدائ پاک، ربُ الافواج دا فرمائيلی دی.“

## د شبنا دپاره خبردارے

١٥ مالِک خُدائ پاک، ربُ الافواج ما ته وفرمائيل چې،
”شبناه له لاړ شه، چې هغه د شاهی خاندان اِنتظام کوونکے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے او هغۀ ته ووايه، ۱۶ تۀ دلته څۀ کوې؟ تا له دلته د خپل
قبر جوړولو اجازت چا درکړے دے؟ تۀ څوک يې چې دلته
به د ځان دپاره په اوچت ځائ کښې مزار جوړ کړې او په
ګټ کښې د ځان دپاره قبر جوړ کړې؟ ۱۷ اے سړيه،
مالِک خُدائ به دې راونيسى او لرې به دې وغورزوى. ۱۸
هغه به تا د پنډوسکى په شان ګول مول کړى او يو بل لوئ
مُلک ته به دې وغورزوى. او تۀ به هلته مړ شې، او ستا
ښائسته جنګى ګاډۍ به هم هلته پرتې وى. ولې چې تۀ د خپل
نېک د خاندان دپاره د بې‌عزتۍ سبب جوړ شوے يې. ۱۹
مالِک خُدائ فرمائى، زۀ به تا د خپلې عُهدې نه لرې کړم او د
خپل اوچت مقام نه به دې راکوز کړم. ۲۰ په هغه ورځ به زۀ
خپل خِدمتګار د خِلقياه زوئ اِلياقيم راوغواړم. ۲۱ زۀ به
هغۀ ته ستا سرکارى چُوغه او کمربند ورواچوم او تا چې
کوم اختيارات لرل نو هغه ټول به هغۀ له ورکړم. هغه به د
يروشلم او د يهوداه د خلقو د پلار په شان وى. ۲۲ زۀ به
هغۀ له د داؤد د خاندان چابيانې ورکړم. چې کومه دروازه
هغه کولاو کړى هغه به څوک بندولے نۀ شى او چې کومه
دروازه هغه بند کړى هغه به څوک کولاولے نۀ شى. ۲۳ زۀ
به هغۀ يوه لويه مرتبه ورکړم لکه څنګه چې په دېوال کښې
مېخ کلک لګېدلے وى، او دا به د هغۀ د خاندان دپاره د
عزت سبب وګرځى. ۲۴ بيا به د هغۀ د پلار د خاندان ټول
وزن په هغۀ باندې راځوړند شى. او د هغۀ ټول اولاد او
خپلوان به د لوښو په شان د وړې پيالۍ نه واخله تر غټ
مرتبان پورې به دې مېخ پورې راځوړند وى. ۲۵ ربُ الافواج
وفرمائيل، يو وخت به راشى چې دا کلک لګېدلے مېخ به
راوغورزيږى او چې په دې باندې څۀ هم راځوړند وى نو هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به مات شی. مالِک خُدائ دا فرمائیلی دی.“

## د صور ښار په حقله پیشګوئي

۲۳
۱ دا پیغام د صور په حقله دے. اے د ترسیس
سمندری جهازونو وژاړئ. ځکه چې په صور کښې قلعه او
کورونه تباه دی، په قبرص کښې چې تاسو کومه خبره
اورېدلې وه هغه رښتیا ده. ۲ اے د سمندر د غاړې
اوسېدونکو ماتم وکړئ. اے د صیدا سوداګرو، تاسو ماتم
وکړئ. ستاسو تاجران به د سمندر نه تېرېدل ۳ او په ژورو
اوبو کښې به یې سفر کولو او د مِصر غله به یې تاسو له
رارسوله، ولې چې تاسو به د نیل د دریاب د غاړې نه ګټه
اخستله او دغه شان تاسو د ټولو قومونو دپاره د تجارت
مرکز وے. ۴ خو اوس تهٔ شرمېدلے یې، اے د صیدا
ښاریې. د سمندر قلعه بند ښار صور وائی، ”زهٔ بې‌بچو یمه،
زما هیڅ زامن او لوڼه نشته.“ ۵ کله چې مِصریانو ته د
صور خبر مِلاو شی نو هغوئ به په غم اخته شی. ۶ اے د
سمندر د غاړې خلقو، تاسو د خفګان نه وژاړئ. او ترسیس
ته د تښتېدو کوشش وکړئ. ۷ آیا دا ستاسو خوشحاله
ښار دے کوم چې ډېر د پخوا نه آباد دے؟ آیا دا هغه ښار
دے چې خپل اوسېدونکی یې لرې مُلکونو ته ولېږل چې
کورونه جوړ کړی. ۸ په صور باندې دا افت چا راوستے
دے، هغه صور ښار چې به یې بادشاهتونه جوړول؟ د هغې
سوداګر شهزادګان وُو او د هغې تاجران عزتمند ګڼلے شول.
۹ خو دا د مالِک خُدائ ربُ الافواج منصوبه وه چې هغه
به ټول د شان او شوکت والا خلق سپک کړی، او عزتمند

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کسان به وشرموی. ۱۰ اے د ترسیس خلقو، د خپلې علاقې
نه خوارهٔ شئ لکه څنګه چې د نیل دریاب د غاړو نه اوړی.
نور تاسو پابند نهٔ یئ. ۱۱ مالِک خُدائ په سمندر باندې لاس
اوچت کړے دے او بادشاهئ یې لړزولې دی. هغهٔ حُکم
کړے دے چې ستاسو قلعې دې تباه شی. ۱۲ هغهٔ
وفرمائیل، ”اے د صیدا خلقو، ستاسو خوشحالی ختمه
شوې ده او ستاسو خلقو سره ظلم زیاتے شوے دے. کهٔ
هغوئ قبرص ته هم وتښتی، نو آرام به ورته مِلاو نهٔ شی.“ ۱۳
د بابل مُلک ته وګورئ. د دې مُلک خلق برباد شوی دی.
اسوریانو د هغوئ مُلک د ځنګلی ځناور کور جوړ کړے
دے. اسوریانو د محاصرې برجونه جوړ کړل او د هغوئ
قلعې یې بربادې کړې. او د ملبې ډېرے یې ترینه جوړ کړے
دے. ۱۴ اے د ترسیس سمندری جهازونو د خفګان نه
وژاړئ. ولې چې ستاسو قلعه تباه شوې ده. ۱۵ یو داسې
وخت راروان دے چې صور به اویا کاله دپاره هېر کړے
شی، چې اویا کاله د یو بادشاه د عُمر برابر وی. کله چې هغه
کالونه ختم شی، نو صور به بحال شی لکه څنګه چې سندره
د کنجرې په حقله وئیلے شی، ۱۶ ”اے غریبې هېرې شوې
کنجرې. خپله بینجو واخله او په ښار کښې وګرځه، ساز
غږوه او خپلې سندرې بیا بیا وایه، نو چې داسې یو ځل بیا
یاده کړے شې.“ ۱۷ کله چې هغه اویا کاله تېر شی، نو
مالِک خُدائ به صور له موقع ورکړی چې هغه بیا د کنجرې
په شان پخوانے کاروبار شروع شی او د صور لېن دېن به د
زمکې په مخ د ټولو بادشاهتونو سره وی. ۱۸ خو دا ښار
چې په تجارت کښې کومه ګټه کوی نو هغه به مالِک خُدائ ته
وقف کیږی. دا پیسه به نهٔ شی جمع کولے، خو چې څوک د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ په حضور کښې پاتې کېږى نو هغوئ به په دې
پېسو باندې ښۀ کافى خوراک او ښائسته لباس اخلى.

## د مالِک خُدائ دُنیا له سزا ورکول

۲۴ ۱ ګوره، مالِک خُدائ به زمکه ورانه ویجاړه کړى
او هم داسې شاړه به یې پرېږدى. هغه به د زمکې مخ کندې
کپرې کړى او د دې خلق به خوارۀ وارۀ کړى. ۲ هیڅ
څوک به بچ پاتې نۀ شى، کۀ هغه اِمامان وى یا عام خلق،
مالِک وى کۀ نوکر، مالِکه وى کۀ نوکره، خرڅوونکى وى یا
اخستونکى، قرض ورکوونکى یا قرض اخستونکى، کۀ
قرضدار وى او کۀ مالدار وى. ۳ زمکه به په مکمل طور
ورانه ویجاړه او لوټ کړے شى، مالِک خُدائ دا هر څۀ
فرمائیلى دى. ۴ زمکه اوچیږى او خُشکیږى، ټوله دُنیا به
اوچه شى او مړاوې به شى، د دې لوئ لوئ خلق به فنا شى.
۵ خلقو دُنیا پلیته کړې ده ځکه چې هغوئ د خُدائ پاک
قانون مات کړے دے او هغه لوظ یې مات کړے دے کوم
یې چې د همېشه دپاره ورسره کړے وو. ۶ نو په دې وجه
به زمکه لعنتى شى او نقصان به ورته ورسى، او چې د دې
خلقو څۀ بد عمل کړے دے نو د هغې بدله ورته ملاویږى. نو
په دې وجه د دُنیا خلق کم شول او ډېر لږ خلق ژوندى پاتې
شول. ۷ د انګورو بوټى اوچ شوى دى او مے کم شوى
دى. هر څوک چې مخکښې خوشحاله وُو نو هغه اوس خفه
دى، ۸ او د هغوئ د رباب او د تمبل خوشحالىِ نه ډک
سازونه او د جشن آوازونه بند شوى دى. ۹ اوس خلق د
میو سندرې نۀ وائى، بلکې شراب په هغوئ باندې تراخۀ لګى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ شاړ ښار برباد شوے دے او د هر يو کور دروازه کلکه
بنده ده چې څوک ورننه نهٔ وځی. ۱۱ په کوڅو کښې خلق
چغې وهی چې مے ختم شوی دی. هره خوشحالی ختمه
شوې ده، خوشحالی د زمکې نه ورکه شوې ده. ۱۲ ښار په
کنډر بدل شوے دے او د دې دروازې ذرې ذرې شوې دی.
۱۳ نو په ټوله دُنيا کښې هر يو قوم سره به هم داسې کيږی.
صرف لږ خلق به پاتې شی داسې لکه چې د زيتُونو راټولولو
نه پس هم لږ پاتې وی او يا د انګورو د راشوکولو نه پس هم
په باغ کښې يو څو دانې پاتې وی. ۱۴ خو چې کوم لږ کسان
ژوندی پاتې وی نو هغوئ به د خوشحالۍ سندرې وائی. څوک
چې د نمرپرېواتهٔ طرف ته وی هغوئ به د مالِک خُدائ لوئی
بيانوی، ۱۵ د نمرخاتهٔ په طرف مُلکونو کښې د مالِک خُدائ
ثناء صِفت کوئ. کوم خلق چې د سمندر په غاړه اوسيږی نو
هغوئ دې د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوی، کوم چې د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک دے. ۱۶ مونږ د دُنيا د آخری سرونو نه
سندرې اورو، هغه سندرې چې صادق خُدائ پاک ته لوئی
ورکوی. خو زما زړهٔ د غمه ډک دے. زما دپاره ژاړئ ځکه
چې زهٔ دوړېږم. دوکې تر اوسه موجودی دی او هر طرف ته
دوکه باز دی. ۱۷ اے د دُنيا خلقو واورئ. يره، کندې او
دامونه ستاسو دپاره تيار دی. ۱۸ هر څوک چې د يرې نه
تښتېدل غواړی نو هغه به په کنده کښې پرېوځی او هر څوک
چې د کندې نه ځان خلاصوی نو په دام کښې به ګېرېږی. د
آسمان نه به ډېر دروند باران ورېږی او د زمکې بنيادونه به
ولړزيږی. ۱۹ زمکه به وچوی، خوځيږی به او زنګيږی به.
۲۰ زمکه به د شرابی نشه کوونکی په شان زنګيږی او داسې
رپيږی لکه چې په طوفان کښې چې چوپال خوځيږی. دا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګناه په وجه درَنه شوې ده، دا به راوغورزيږی او بيا به
هيڅکله پا نۀ څی. ۲۱ په هغه وخت به مالِک خُدائ آسمانی
طاقتونو له او د زمکې بادشاهانو له به سزا ورکړی. ۲۲
هغوئ به ګرفتار کړے شی او په يوه قيدخانه کښې به بند
کړے شی او ښۀ موده پس به ورته سزا ورکړے شی. ۲۳ نو
سپوږمۍ به توره شی او د نمر رڼا به کمه شی، ځکه چې
مالِک خُدائ ربُ الافواج به حکومت کوی. هغه به په يروشلم
کښې د صيون په غرۀ باندې د مشرانو په وړاندې شان او
شوکت سره بادشاهی کوی.

## د ثناء صِفت يو حمد

۲۵ ۱ اے مالِکه خُدايه، تۀ زما خُدائ پاک يې، زۀ به
ستا درناوے کوم او ستا د نوم ثناء صِفت به کوم. تا عجيبه
عجيبه کارونه کړی دی، تا چې ډېر پخوا کومې منصوبې
جوړې کړې وې، تا بېشکه هغه د وفادارئ سره پوره کړې
دی. ۲ تا ښارونو نه د ملبو ډيری جوړ کړی دی، او د
هغوئ د پَخو ديوالونو قلعې دې په کنډراتو بدل کړی دی. د
پردی مُلک د خلقو د قلعې په شان محلونه داسې خاورې
شوی دی چې بيا به هيڅکله ورته ښار ونۀ شی وئيلے او نۀ به
کله دوباره آباد کړے شی. ۳ نو په دې وجه د تکړه قومونو
خلق به ستا ثناء صِفت کوی، او د ظالمانو قومونو په ښارونو
کښې به ستا نه يره کيږی. ۴ تۀ د غريبانانو حفاظت
کوونکے يې، او د مصيبت په وخت کښې د ضرورتمندو
حِفاظت کوونکے يې. تا هغوئ له د طوفانونو نه پناه ورکړې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده، او د سوزونکی ګرمۍ نه دې سورے ورکړے دے. د
ظالمانو پوکی لکه د ژمی د طوفانی باران په شان وی، ۵
لکه د صحرا د ګرمۍ په شان دی. تا د پردی مُلک خلق غلی
کړی دی. تا د ظالمانو خلقو آوازونه داسې خاموش کړی
دی، لکه چې وريځې سخته ګرمی یخوی.

## د خُدائ پاک د يو مېلمستيا تيارے کول

۶ د صيون په غرۀ به مالِک خُدائ ربُ الافواج د دُنيا د
ټولو قومونو دپاره يوه مېلمستيا وکړی، دا مېلمستيا به د ښې
غوښې او د انګورو د ښو ميو وی. ۷ نو په دې غر به هغه د
خلقو نه د مرګ سورے ختم کړی، کوم سورے چې د ټولو
قومونو دپاسه ولاړ دے. ۸ مالِک خُدائ پاک به مرګ د تل
دپاره ختم کړی. او د هر يو کس په مخ باندې به اوښکې
اوچې کړی او د ټولې دُنيا نه به د خپلو خلقو بې‌عزتی لرې
کړی. مالِک خُدائ په خپله دا فرمائيلی دی. ۹ په هغه
وخت به هغوئ وائی، ”وګورئ دا دے زمونږ خُدائ پاک.
مونږ د هغۀ په انتظار وُو او هغۀ مونږ آزاد کړُو. دا دے هغه
مالِک خُدائ د چا چې مونږ په انتظار وُو. راځئ چې د هغۀ په
خلاصون باندې د خوشحالۍ جشن وکړُو.“

## د خُدائ پاک موآب له سزا ورکول

۱۰ مالِک خُدائ به د صيون د غرۀ حِفاظت کوی، خو
موآب به داسې د پښو لاندې کړے شی لکه چې بوس په غوبل
کښې د پښو لاندې کيږی. ۱۱ خُدائ پاک به موآب داسې
دباؤ کړی لکه څنګه چې لامبوزن اوبۀ خپلو لاسونو سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاندې ديکه کوى، هغه به د دوئ غرور او د دوئ ټول بد
کارونه ختم کړى. ۱۲ هغه به د موآب د اوچتو دېوالونو والا
قلعې تباه کړى او را ويه يې غورزوى او د خاورو سره به يې
خاورې کړى.

## د خُدائ پاک خپلو خلقو له فتح ورکول

۲۶ ۱ په هغه وخت به د يهوداه په مُلک کښې دا سندره
وئيلے شى، "زمونږ ښار مضبوط دے. ولې چې د خُدائ
پاک د خلاصون دېوالونه زمونږ چارچاپيره دى. ۲ د ښار
دروازې کولاو کړئ چې صادق قوم ورننوځى، هغه قوم چې
وفادار پاتې دے. ۳ د چا ايمان چې مضبوط دے تهٔ هغوئ
بلکل محفوظ ساتې، ولې چې هغوئ په تا بهروسه ساتى. ۴
په مالِک خُدائ باندې تل يقين ساتئ، ولې چې مالِک خُدائ
پاک ابدى حِفاظت کوونکے دے. ۵ څوک چې مغروره
وُو نو هغهٔ عاجزان کړى دى، او هغهٔ اوچت ښارونه راګزار
کړى دى او خاورو سره يې خاورې کړى دى. ۶ او دوئ
به د غريبانانو او مظلومانو د پښو لاندې راشى او چخنى به
شى." ۷ اے مالِکه خُدايه، د صادقانو لار هواره ده، نو د
صادقانو دپاره چې کومه لار تهٔ جوړوې نو هغه نېغه ده. ۸
اے مالِکه خُدايه، ستا فرمانبردارى کولو سره مونږ تا ته خپله
بهروسه ښايُو، او زمونږ د زړهٔ خواهش دے چې ستا د نوم
لوئى وکړُو. ۹ ټوله شپه زهٔ ستا په لټون کښې يم، په سحر
کښې د زړهٔ د اخلاصه زهٔ ستا طلبګار يم، کله چې تهٔ د دُنيا د
عدالت دپاره راشې نو خلق به پوهه شى چې اِنصاف څهٔ څيز

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے. ۱۰ کۀ په بدعمله باندې رحم وشی نو هغه د اِنصاف په
مطلب ځان نۀ پوهوی، بلکې په کوم مُلک کښې چې اِنصاف
کیږی هلته هم هغوئ بدعملی کوی، هغوئ د مالِک خُدائ
لوئی نۀ منی. ۱۱ اے مالِکه خُدایه، ستا لاس هغوئ ته سزا
ورکولو دپاره اوچت شوے دے خو هغوئ هیڅ غور نۀ کوی،
او هغوئ چې ستا قوم دپاره ستا غېرت ته وګوری نو ویه
شرمیږی. او بیا به تۀ سور اور په خپلو دشمنانو نازل کړې.
۱۲ اے مالِکه خُدایه، تۀ به مونږ له امن راکوې، ځکه چې
زمونږ ټولې کامیابئ ستا د لاسه دی. ۱۳ اے مالِکه خُدایه،
خُدایه پاکه، نورو مالِکانو په مونږ حکمرانی کړې ده، خو
یواځې تۀ هغه هستی یې چې مونږ یې عبادت کوُو. ۱۴ خو
اوس هغوئ مړۀ شوی دی او بیا به نۀ راژوندی کیږی، د
هغوئ روحونه به واپس نۀ راځی، ځکه چې تا دوئ له سزا
ورکړې ده او تباه کړی دې دی. او د هغوئ نوم او نشان دې
ختم کړے دے. ۱۵ اے مالِکه خُدایه، تا خپل قوم له ترقی
ورکړې ده، تا خپل قوم لوئ کړے دے او خپله لوئی دې
څرګنده کړې ده. ستا د وجې د هغوئ علاقه په هر طرف
باندې خوره شوې ده. ۱۶ اے مالِکه خُدایه، چې هغوئ په
مصیبت کښې ګېر شول نو ستا تلاش یې شروع کړو او ستا
د تنبیه لاندې یې دُعا شروع کړه. ۱۷ اے مالِکه خُدایه، تا
مونږ داسې ژړولی یُو، لکه چې یوه ښځه د بچی د پېدا کېدو د
درد په وجه ژاړی. ۱۸ مونږ په خوږ او درد مبتلا یُو، خو
زمونږ د تکلیف نه هیڅ هم پېدا نۀ شول. نۀ مونږ زمکې ته
خلاصون ورکړے دے، او نۀ مو دُنیا ته ژوندون راوړے
دے. ۱۹ خو زمونږ کوم خلق چې مړۀ شوی دی نو هغه بیا
راژوندی شی. د هغوئ مړۀ جسمونه به بیا راژوندی شی. کوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په قبرونو کښې پراتهٔ دی نو هغه به راپاڅی او د
خوشحالئ سندرې به وائی. لکه څنګه چې د پرخې څاڅکی
زمکه تازه کوی، نو داسې به مالِک خُدائ هغه خلق بیا
راژوندی کړی کوم چې پخواه مړهٔ شوی دی.

## عدالت او بحال کېدل

۲۰ زما خلقو، خپلو کورونو ته ننوځئ او په ځان پسې
دروازې بندې کړئ. د څهٔ وخت دپاره ځانونه پټ کړئ چې د
خُدائ پاک غصه سړه شی. ۲۱ وګورئ، مالِک خُدائ په
آسمان کښې د خپل اوسېدو ځائ نه راروان دے چې د
زمکې خلقو له د هغوئ د ګناه په وجه سزا ورکړی. کومه
وینه چې په زمکه باندې تویه شوې وه نو هغه به راښکاره
کړے شی او چې څوک وژلی شوی وی نو زمکه به یې نهٔ
پټوی.

۲۷ ۱ په هغه ورځ به مالِک خُدائ د خپلې زورَورې او
کلکې تُورې نه کار واخلی چې هغه تښتېدونکې بلا له یعنې
تاوېدونکې راتاوېدونکې بلا له سزا ورکړی او وې ووژنی
کومه چې په سمندر کښې اوسېږی. ۲ په هغه ورځ د
انګورو ښائسته باغ په حقله سندره ووایئ، ۳ ”زهٔ مالِک
خُدائ پخپله د دې خیال ساتم او پابندئ سره اوبهٔ ورکوم. او
شپه او ورځ د دې څوکیداری کوم چې څوک نقصان ور ونهٔ
رسوی. ۴ زما غصه اوس یخه شوې ده. خو کهٔ په دې باغ
کښې ازغی او مرکونډئ وشول نو زهٔ به ورسره جنګ وکړم
او ټول به وسوزوم. ۵ خو کهٔ هغوئ زما نه مدد وغواړی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغوئ دې ما سره روغه وکړی. آو، پرېږدئ چې هغوئ ما
سره صُلح وکړی.“ ٦ هغه وخت راروان دے چې د
یعقوب اولاد به جرړې وکړی، اِسرائیل به غوټۍ ونیسی او
ګلونه به وکړی. او مېوه به یې دُنیا ډکه کړی. ٧ ولې مالِک
خُدائ اِسرائیل داسې وهلے دے لکه څنګه یې چې د هغهٔ
دشمنان وهلی دی؟ ولې بنی اِسرائیل داسې قتل شوی دی لکه
څنګه چې د هغهٔ دشمنان قتل شوی دی؟ ٨ نه، بلکې مالِک
خُدائ د هغوئ مخالفت وکړو او جلاوطن یې کړل. هغوئ یې
د نمرخاتهٔ په طرف د یوې زورَورې هوا سره وشړل. ٩ نو
داسې به د یعقوب ګناه معاف شی، او چې کله د اِسرائیل
ګناهونه ختم شی نو په نتیجه کښې به هغوئ د غېرو قومونو
قربانګاه د چونې د کاڼی په شان ذرې ذرې کړی او د
قربانګاه خوشبوداره مصالحې او د اشیرې د بُت نښې به
پاتې نهٔ شی. ١٠ د قلعې په شان د پَخو دېوالونو ښار کنډر
پروت دے. دا د یو خوشې بیابان په شان وران ویجاړ پروت
دے. او بیا به په دې کښې څاروی څرېږی آرام به کوی او
څانګې به خوری. ١١ د ونو څانګې اوچې شوې او ماتې
شوې دی او ښځې یې د خشاک په توګه راغونډوی. خلق په
هیڅ څیز باندې هم ځان نه پوهوی نو په دې وجه چا چې
هغوئ پیدا کړی دی ورباندې هیڅ رحم نهٔ کوی، چا چې
هغوئ تخلیق کړی دی ورباندې هیڅ ترس نهٔ کوی. ١٢ په
هغه ورځ به مالِک خُدائ د فرات سیند نه واخله تر مِصر
سرحده پورې خپل خلق یو یو کس راغونډ کړی، داسې لکه
څوک چې د بوسو نه غنم رابېلوی. ١٣ په هغه وخت به یو
بیګل وغږولے شی چې د اسور او مِصر نه هغه ټول بنی
اِسرائیلیان راوغواړی کوم چې په جلاوطنۍ کښې وی. نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ به د هغۀ په مقدس غر په يروشلم کښې د مالِک خُدائ
عبادت وکړی.

## د شمالی بادشاهئ دپاره خبردارے

٢٨ ١ په سامريه باندې افسوس چې د شرابی بنی
اِسرائيلو شاندار تاج دے. په هغه ښار باندې افسوس چې د
بنی اِسرائيلو شان او شوکت وو خو اوس مړاوے کېدونکے
ګل دے. په هغه آبادئ باندې افسوس چې په نشه کښې د
ډوبو خلقو په زرخيزه وادئ باندې ولاړه ده. ٢ ګورئ،
مالِک خُدائ به داسې قوی او طاقتور لښکر راولېږی، لکه د
ږلئ طوفان او زل زول او د باران د طوفان په شان، دا به لکه
د زورَور سېلاب پرې حمله وکړی او په زمکه به يې سر د
لاندې راوولی. ٣ بيا به سامريه د بنی اِسرائيلو شرابيانو
شاندار تاج د پښو لاندې ذرې ذرې شی. ٤ بيا به د دې
مړاوے کېدونکے ګل شان او شوکت ختم شی چې په
زرخيزه وادئ باندې ولاړ وی. د هغوئ حال د موسم د
وړومبو اينځرو په شان دے چې څنګه پاخۀ شی نو
راوشوکولے شی او وخوړلے شی. ٥ په هغه ورځ به مالِک
خُدائ ربُ الافواج د خپلو هغه خلقو دپاره د ګلونو د شاندار
تاج په شان وی چې کوم خلق ژوندی پاتې وی. ٦ هغه به
هغه کسانو له د اِنصاف جذبه ورکړی چې څوک د قاضيانو
په توګه کار کوی او هغوئ له به حوصله ورکړی چې څوک
د حملې نه د ښار د دروازو حِفاظت کوی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نا اهله مشرانو ته سزا مِلاوېدل

٧ نو بيا پېغمبران او اِمامان هم دومره نشه دی تر دې
پورې چې ډغرې وهی. هغوئ مے او شراب دومره زيات
څښلی دی چې تيندکونه خوری. پېغمبران دومره زيات نشه
دی چې خُدائ پاک کومه وحی نازلوی نو په هغې باندې نۀ
پوهېږی او اِمامان هم دومره نشه دی چې د فېصلې ورکولو
په وخت زنګېږی. ٨ د هغوئ ټول مېزونه په اولټو ګنده دی
او يو ځائ هم په کښې صفا نشته. ٩ هغوئ په خپلو کښې
وائی، "دا سړے زمونږ سره دا رنګ خبرې ولې کوی؟ د
تعليم او د مالِک خُدائ د پېغام اورولو په وخت مونږ داسې
پوهوی لکه چې مونږ واړۀ ماشومان يُو او اوس اوس د پيو نه
خلاص شوی يُو. ١٠ هغه مونږ ته ټکے په ټکے، کرښه په
کرښه او په مزه مزه تعليم راکوی." ١١ نو اوس به خُدائ
پاک خپلو خلقو سره د پردی مُلک د خلقو په ذريعه خبرې
کوی څوک چې عجيبه ژبه وائی. ١٢ خُدائ پاک خپلو خلقو
ته فرمائيلی دی، "دا د آرام ځائ دے. ستړی دې دلته آرام
وکړی، ولې چې هم دا ځائ د آرام دے." خو هغوئ غوږ نۀ
کېښودو. ١٣ نو دا ځکه به مالِک خُدائ هغوئ ته ټکے په
ټکے، کرښه په کرښه او په مزه مزه تعليم ورکوی. نو هغوئ
به تيندکونه وخوری او راپرې به وځی. هغوئ به زخمی شی،
په جال کښې به ګېر شی او ګرفتار به شی.

## د صيون د ګوټ کاڼے

١٤ نو اے ګستاخه کسانو څوک چې په يروشلم کښې په دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلقو باندې حکومت کوئ، اوس چې څۀ مالِک خُدائ
فرمائى نو هغې ته غوږ ونيسئ. ۱۵ تاسو لاڼې وهلې چې
تاسو د مرګ سره لوظ کړے دے او د عالمِ ارواح سره مو
تړون کړے دے. ستاسو دا يقين دے چې کله افت راشى نو
تاسو به بچ شئ، ځکه چې ستاسو خيال دا دے چې خپل
دروغ او دوکه به تاسو بچ وساتى. ۱۶ نو مالِک خُدائ پاک
داسې فرمائى، ”زۀ په صيون کښې يو داسې بنياد ږدم چې
کلک او مضبوط وى. په هغې کښې زۀ د ګوټ يو قيمتى
کاڼے لګوم چې په هغې باندې دا ليکلى وى، ”څوک چې
ايمان لرى نو هغه به نۀ وارخطا کيږى.“ ۱۷ زۀ به اِنصاف د
دې فيته او صداقت د دې د سال مزے کړم. تاسو چې په
کومو دروغو باندې يقين ساتئ نو ږلۍ به يې تول يوسى او
سېلابونه به ستاسو د پناه ځايونه وران کړى.“ ۱۸ تاسو چې
د مرګ سره کوم لوظ کړے دے نو هغه به منسوخ کړے شى
او چې د عالمِ ارواح سره تاسو کوم تړون کړے وى نو هغه
به ختم کړے شى. هغه زورَور افت به تاسو ووهى او تاسو به
تړې نه لاندې شئ. ۱۹ دا افت به تاسو بار بار وهى او هر
سحر به مو وهى. دا به په تاسو شپه او ورځ راځى، تر هغې
پورې چې تاسو يې وړى نۀ يئ. دا پيغام به ستاسو په خلقو
باندې يره راولى. ۲۰ ستاسو کټ دومره لنډ دے چې پښې
په کښې نۀ شى غزيدلے او کمبله دومره وړه ده چې څوک په
کښې پټيدے نۀ شى. ۲۱ مالِک خُدائ به داسې راپاڅى لکه
څنګه چې هغه د پراضيم په غر باندې فلستيانو پسې
راپاڅيدلے وو. او څنګه يې چې د جبعون په وادۍ کښې
اموريانو باندې حمله کړې وه داسې به په تاسو هم حمله
وکړى. او چې کوم کارونه به هغه کوى نو هغه به عجيبه وى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغهٔ هر قدم به فرق فرق وی. ﴿٢٢﴾ زهٔ چې کوم
خبردارے درکوم نو په هغې پورې خندا مهٔ کوئ. کهٔ تاسو
خندا وکړه نو ستاسو دپاره به خلاصېدل نور هم گران شی.
ما د مالِک خُدائ ربُ الافواج د ټول مُلک د تباه کولو فېصله
اورېدلې ده.

## د خُدائ پاک حِکمت

﴿٢٣﴾ زهٔ چې درته څهٔ وایم نو هغې ته غوږ ونیسئ، زهٔ چې درته
څهٔ وایم هغې ته ښهٔ توجو وکړئ. ﴿٢٤﴾ ولې زمیدار همېشه یوه
کوی او هیڅکله کر نهٔ کوی څهٔ؟ ولې هغه تل پټې اړوی او
هیڅکله څهٔ نهٔ کَری؟ ﴿٢٥﴾ کله چې هغه یو ځل پټے هوار او
تیار کړی، نو هغه تخم کَری لکه کاږهٔ، د زېرے تخم، غنم او
اوربشې په صحیح طریقه او صحیح ځائ باندې کَری. ﴿٢٦﴾
زمیدار ته پته وی چې څهٔ به کوی، ځکه چې خُدائ پاک هغهٔ
ته پوهه ورکړې ده. ﴿٢٧﴾ هغه د کاږو او زېرې د تخم ټکولو
دپاره لوئ ډانگ نهٔ استعمالوی، بلکې د دې دپاره د یو وړوکی
او برابر لرگی نه کار اخلی. ﴿٢٨﴾ هغه غنم په درمند کښې
دومره نهٔ غوبل کوی چې خراب‌تُراب شی، ځکه چې هغهٔ ته
پته وی چې په گاډئ باندې به یې څنگه غوبل کړی چې غله
خرابه نهٔ شی. ﴿٢٩﴾ مالِک خُدائ ربُ الافواج زبردست اُستاذ
دے، او هغه دې زمیدارانو له ښهٔ پوهه ورکوی.

## د یروشلم محاصره کېدل

٢٩ ﴿١﴾ اے اری‌ایل، اری‌ایل، په تا باندې افسوس. په هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار باندې افسوس کوم کښې چې داؤد خېمې لګولې وې.
اوس کال په کال خپل اخترونه کوئ. ۲ خو بيا به زۀ په
هغه ښار باندې يو افت راولم، هلته به ژړا او ماتم وى. او ټول
يروشلم به داسې شى لکه څنګه چې د هغې د اری‌ایل نوم
معنىٰ ده ”يوه داسې قربان‌ګاه چې په وينو لت پت وى.“ ۳
ولې چې زۀ به تا د هر طرف نه راګېر کړم او ستا د
محاصرې به پوره بندوبست وکړم. ۴ بيا به تۀ د زمکې
لاندې نه خبرې کوې، د خاورو نه به ستا غلے آواز راوځى.
څنګه چې د يو مړى روح د قبر نه د خبرو کولو کوشش
کوى، دغه شان به ستا آواز غلے شان راځى. ۵ نو
سمدستى به ستا دشمنان لکه د دوړې په شان والوځى، په تا
باندې حمله کوونکى به داسې وشړلے شى لکه هوا چې بوس
زغلى. ولې چې اچانک په يوه لحظه کښې به ۶ مالِک
خُدائ ربُ الافواج به ستا د بچ کولو دپاره د لوئ تندر،
زلزلې، لوئ شور، تېزې سيلۍ، طوفان او سوزونکى اور سره
راځى. ۷ نو بيا د هغه ټولو قومونو لښکرې کوم چې د
خُدائ پاک د اری‌ایل په ښار باندې حمله کوى، د هغوئ ټوله
وسله او ساز و سامان به د يو خوب ليدو په شان فنا شى،
داسې به فنا شى لکه چې دا د شپې يو خيال وى. ۸ هغه
ټول قومونه چې په يروشلم باندې د حملې کولو دپاره راجمع
شوى دى د هغوئ مثال به د يو اوږى کس په شان وى چې
خوب وينى چې هغه خوراک کوى خو چې راپاڅى نو پته
ورته ولګى چې هغه هم هغسې اوږے دے، يا د هغه تږى کس
په شان وى چې په خوب کښې ګورى چې اوبۀ څښى خو
چې راپاڅى نو پته ورته ولګى چې هغه هم هغه شان د تندې د
لاسه بې‌دمه دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پېغمبرانو د ځان نه کم عقل جوړول

۹ حېران شئ او اريان دريان شئ. ځان نه ړاندۀ جوړ کړئ
او ړاندۀ شئ. نشه شئ خو په ميو نه، زنګېږئ خو په شرابو
نه. ۱۰ نو ځکه مالِک خُدائ تاسو خوبَولی کړی يئ او په
دروند خوب باندې په اودۀ کېدو بدل يئ. هغۀ د پېغمبرانو او د
رويا ليدونکو سترګې بندې کړې دی. ۱۱ د هرې پېغمبرئ د
وحی مطلب به ستاسو نه پټ وی، دا به د يو بند کِتاب په
شان وی. کۀ تاسو دا يو داسې کس له يوسئ چې هغه يې
لوستلے شی او هغۀ ته ووايئ چې دا ولولی، نو هغه به وائی
چې زۀ دا نۀ شم لوستلے ځکه چې دا پوخ بند دے. ۱۲ کۀ
تاسو دا يو بېتعليمه کس له ورکړئ چې وې لولی، نو هغه به
جواب درکړی چې زۀ بېتعليمه يم. ۱۳ مالِک خُدائ
وفرمائيل، "دا خلق تش په خولۀ زما عزت کوی خو زړونه يې
رانه ډېر لرې دی. او دوئ بېفائدې زما عبادت کوی ځکه چې
دوئ د انسانانو حُکمونه د تعليم په ډول ورکوی. ۱۴ نو په
دې وجه به په راتلونکی وخت کښې يو ځل بيا زما سلوک د
دې قوم سره ډېر عجيبه او د حېرانتيا وی. بيا به د هغوئ د
هوښيارانو هوښيارتيا ختمه شی او د هغوئ د پوهانو پوهه به
غيبه شی."

## د راتلونکی وخت دپاره اُميد

۱۵ څوک چې د مالِک خُدائ نه د خپلو منصوبو د پټولو
کوشش کوی نو په هغوئ افسوس. هغوئ په پټه باندې
منصوبې جوړوی او خيال يې دا وی چې، "څوک به مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وینی او څوک به موږ وپېژنی؟“ ۱۶ هغویٔ هر یو څیز ګډ وډ
کوی. د کُلال اهمیت زیات دے کهٔ د خټې؟ یو کس چې څهٔ
څیز جوړ کړی نو هغه څیز خپل جوړېدونکی ته داسې وائی
څهٔ، ”تا زهٔ نهٔ یم جوړ کړے،“ او یا دا چې، ”تهٔ په هیڅ هم نهٔ
پوهېږې؟“

## راتلونکے بدلون

۱۷ لږ وخت پس به د لبنان ځنګل نه پټی جوړ شی او پټی به
په ځنګل بدل شی. ۱۸ کله چې هغه وخت راشی، نو کاڼهٔ به
د کِتاب تلاوت اوری او ړاندهٔ به د تورتم او تیارهٔ نه رابهر شی
او وینی به. ۱۹ عاجزان به بیا د مالِک خُدائ ورکړے شوې
خوشحالئ نه په جامو کښې نهٔ ځائیږی، او غریبانان به د بنی
اِسرائیل د مقدس ذات خوشحالی کوی. ۲۰ ظالمان به باقی
پاتې نهٔ شی، مغروره به ختم شی او څوک چې د بدو منصوبه
جوړوی هغویٔ به قتل کړے شی. ۲۱ خُدائ پاک به هغه
خلق تباه کړی چې څوک د دروغو ګواهی کوی، هغه خلق
چې قاضیان د غلطو فیصلو کولو دپاره دوکه کوی، هغه
خلق چې څوک دروغ وائی د دې دپاره چې بې‌ګناه خلقو ته
اِنصاف مِلاو نهٔ شی. ۲۲ نو ځکه مالِک خُدائ د یعقوب د
اولاد خُدائ پاک، چا چې اِبراهیم د مصیبت نه خلاص کړو،
داسې فرمائی، ”زما د خلقو به نوره بې‌عزتی نهٔ کیږی او د
هغویٔ رنګونه به د شرم په وجه نور زیړ نهٔ وی. ۲۳ کله چې
تاسو هغه بچی ووینئ چې زهٔ تاسو له درکوم، نو تاسو ته به
بیا پته ولګی چې زهٔ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات یم. تاسو به
زما درناوی کوئ او د یعقوب د خُدائ پاک رُعب به منئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٤ بدعمله خلق به پوهه حاصله کړی او هغه خلق چې کوم
هر وخت فریادونه کوی نو هغوئ به اصُول ومنی.“

## د مِصر بې‌فائدې معاهدې

٣٠ ١ مالِک خُدائ فرمائیلی دی، ”اے باغیانو بچو په
تاسو افسوس. ځکه چې تاسو په هغه منصوبو باندې کار
کوئ چې کومې زما نهٔ دی، او زما د مرضئ خِلاف معاهدې
کوئ او تاسو ګناهونو پسې ګناهونه کوئ. ٢ تاسو زما د
مشورې نه بغیر د مدد دپاره مِصر ته لاړئ. تاسو غوښتل چې
مِصریان مو بچ کړی، نو په دې وجه تاسو د مِصر په فِرعون
باندې یقین وکړو. ٣ خو په فِرعون باندې اعتماد سره به
تاسو رسوا شئ او په هغهٔ باندې بهروسې سره به تاسو بې‌عزته
شئ. ٤ اګر چې د هغهٔ آفسران ضُعن کښې دی او د هغهٔ
سفیران حنیس ته رسېدلی دی، ٥ هغه ټول چې په هغهٔ
بهروسه کوی هغوئ به وشرمیږی. او هغه به ستاسو مدد نهٔ
کوی بلکې په ځائ د دې به ستاسو بې‌عزتی وکړی.“ ٦ د
جنوبی صحرا د ځناورو په حقله د خُدائ پاک پېغام دا دے،
هغه سفیران به په داسې خطرناک مُلک کښې سفر کوی،
چرته چې ازمری اوسیږی او چرته چې تور ماران او نور
زهرژن ماران دی. هغوئ د یو داسې قوم دپاره خپل خرونه او
اوښان د قیمتی تُحفو نه بار کړی دی ځوک چې د دوئ هیڅ
مدد نهٔ شی کولے. ٧ د مِصر نه چې کوم مدد ملاویږی نو
هغه بې‌فائدې دے. نو ځکه ما په مِصر باندې یو بل نوم
”بې‌ضرره اژدها“ ایښے دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## نافرمانه خلق

۸ اوس لاړ شه او دا الفاظ په يو كِتاب كښې وليكه. چې دا
د راروانو وختونو دپاره د تل دپاره يوه ګواهى شى. ۹ ځكه
چې دا قوم سركش دے او دا هميشه دروغ وائى او د مالِک
خُدائ تعليمات منلو ته تيار نۀ دى. ۱۰ هغوئ رويا كتونكو
ته وائى چې، ”تاسو روياګانې مۀ وينئ،“ پېغمبرانو ته وائى،
”مونږ ته د هغه څۀ په حقله خبرې مۀ كوئ چې څۀ حقيقت
وى. مونږ ته د خوند خبرې كوئ، خبر دے كۀ هغه دروغ هم
وى. ۱۱ زمونږ د لارې نه اخوا شئ او زمونږ مخه مۀ نيسئ.
مونږ ستاسو د بنى اِسرائيلو د مقدس ذات په حقله اورېدل نۀ
غواړُو.“ ۱۲ ځكه خو د بنى اِسرائيلو مقدس ذات داسې
فرمائى، ”زۀ چې څۀ درته وايم نو تاسو هغه رد كړئ او د ظلم
زياتى او دوكې نه كار اخلئ. ۱۳ دا ګناه به ستاسو دپاره د
يو داسې اوچت دېوال په شان وى چې چاودے او كوږوالے
پكښې راغلے وى او دېوال كينوى او بيا سمدستى يو درز
سره زمكې ته راګزار شى. ۱۴ دا ټوټې ټوټې شى د ختې د
هغه لوښى په شان چې ټكړې ټكړې كړے شوى وى او د هغې
يوه ټوټه به هم دومره نۀ وى چې په هغې كښې بل سكارۀ
راواخستلے شى، يا په كښې د ډيګى نه اوبۀ راوويستلے
شى.“ ۱۵ قادر مطلق خُدائ د بنى اِسرائيلو مقدس ذات،
فرمائى، ”راواپس شئ او په ما پوره يقين كوئ. نو بيا به تاسو
تكړه او محفوظ يئ.“ خو تاسو داسې نۀ كوئ. ۱۶ خو
ستاسو منصوبه دا ده چې په تېزو آسونو باندې سوارۀ شئ او
د خپل دشمن نه وتښتئ. تاسو صحيح يئ، ځكه چې تاسو به
تښتئ. ستاسو خيال دا دے چې ستاسو آسونه ښۀ تېزه منډه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وهلے شی، خو چې څوک درپسې وی نو هغوئ به ستاسو نه
تېز وی. (۱۷) کۀ ستاسو د دشمن يو فوجی دهمکی درکړی نو
ستاسو زر کسان به منډې وهی، او کۀ پينځۀ سپاهيان دهمکی
درکړی نو دا به ستاسو ټولو زغلولو دپاره کافی وی. او کۀ په
آخر کښې څوک پاتې شی نو هغوئ به د غرۀ په سر باندې د
جنډې د يو لرګی په شان يواځې وی. (۱۸) خو مالِک خُدائ
بيا هم په دې انتظار کښې دے چې په تاسو باندې رحم
وکړی. هغه په تاسو باندې د رحم کولو دپاره تيار دے ځکه
چې هغه وفادار خُدائ پاک دے. بختور دی هغوئ چې د هغۀ
د مدد په انتظار کښې وی.

## د خُدائ پاک خپلو خلقو له برکت ورکول

(۱۹) اے د يروشلم خلقو تاسو به نور نۀ ژاړئ. کله چې تاسو
هغۀ ته د مدد دپاره فرياد وکړئ، نو هغه به خامخا په تاسو
رحم وکړی او چې څنګه ستاسو دُعاګانې واوری نو جواب به
درکړی. (۲۰) اګر چې مالِک خُدائ به تاسو ته د تنګ لاس
روټۍ او د تکليف اوبۀ درکړی، خو هغه به په خپله ستاسو
اُستاذ وی او تاسو ته به نور د هغۀ د لټولو ضرورت نۀ
پېښيږی. (۲۱) کۀ تاسو د لارې نه ښی يا ګس طرف ته
واوړئ، نو د وروستو نه به ستاسو لار ښودنه کيږی چې، ”دا
لاره صحيح ده، په دې روان شئ.“ تاسو به په خپلو غوږونو
دا اورئ. (۲۲) نو بيا به تاسو خپل هغه بُتان چې په سرو زرو
پټ وی او هغه بُتان چې په سپينو زرو پټ وی هغه به واخلئ
او وايئ به چې، ”دا څۀ ګند دے.“ او بهر په ډېران به يې ګزار
کړئ. (۲۳) کله چې تاسو تخم وکَرئ، نو مالِک خُدائ به د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې شین کېدو دپاره باران راولېږی او د دې نه به تاسو ته ښهٔ
او زیات پېداوار مِلاو شی او ستاسو د څاروو دپاره به د
څرن ښهٔ ډېره زمکه وی. ۲۴ کوم غوَیی او خرونه چې
ستاسو په پټو کښې یوې کوی نو هغه به هم هغه خوراک کوی
چې چج او درې غابښیٔ سره صفا شوے وی. ۲۵ په هغه
ورځ کله چې ستاسو د دشمن قلعې قبضه شی او د هغوئ
خلق ووژلے شی، نو د هر غرهٔ نه او د هرې غونډیٔ نه به د
اوبو وَلې رابهیږی. ۲۶ سپوږمیٔ به د نمر په شان ځلیږی او
نمر به په اووهٔ چنده زیات روښانه شی، دا به داسې وی لکه
چې د اوو ورځو رڼا یو ځائ شی. دا به په هغه وخت کښې
وشی کله چې مالِک خُدائ د خپلو خلقو د هغه زخمونو مرهم
پټیٔ وکړی او هغه زخمونه ورله روغ کړی چې کوم زخمونه
هغهٔ ورکړی دی.

## د خُدائ پاک اسور له سزا ورکول

۲۷ وګورئ د مالِک خُدائ نوم د لرې ځائ نه راروان دے.
هغه لوئ غضب او رُعب داب سره رانزدې کیږی. د هغهٔ
شونډې د غصې نه رېږدی، او د هغهٔ وینا لکه د اور هر څهٔ
ایرې ایرې کوی. ۲۸ د هغهٔ ساه لکه د سېلاب په شان ده
چې هر څهٔ تر مرئ ډوبوی. هغه به مغروره قومونه د
تباهئ دپاره چاڼ کړی. هغه به دوئ قابو کړی او د بربادئ په
طرف به یې بوسی. ۲۹ خو اے د خُدائ پاک خلقو، تاسو به
خوشحاله یئ او داسې سندرې به وایئ لکه څنګه سندرې چې
د مقدس اختر په شپه وئیلے شی. تاسو به د هغه خلقو په
شان خوشحاله یئ کوم چې د مالِک خُدائ کور ته د شپېلئ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ساز سره روان وی، چې هغه د بنی اِسرائیلو حِفاظت
کوونکے دے. ۳۰ مالِک خُدائ به په هر یو کس باندې خپل
پُرجلاله آواز واوری او د خپلې غصې زور به ورته وښائی.
هلته به د اور لمبې، تندر، ږلۍ او درُوند باران وی. ۳۱ کله
چې اسوریان د مالِک خُدائ آواز واوری او د هغهٔ د سزا پته
ورته ولګی نو هغوئ به ویرېږی. ۳۲ کله چې مالِک خُدائ
هغوئ بار بار ووهی، نو د هغهٔ خلق به هر ځلې د منګی او
بینجو ساز ورسره غږوی. خُدائ پاک به پخپله د اسوریانو
خِلاف جنګ کوی. ۳۳ ډېره موده مخکښې یو ځائ تیار
شوے وو چرته به چې یو لوئ اور د اسور بادشاه سوزوی. د
لرګو یو اوچت ډېرے به وی. مالِک خُدائ به د نِهر په شان د
سوزېدونکو ګوګړو یوه لمبه پو کړی او دې له به اور ورکړی.

## د خُدائ پاک د یروشلم حِفاظت کول

۳۱ ۱ کوم خلق چې د مدد غوښتلو دپاره مِصر ته ځی
نو په هغوئ باندې افسوس. ځکه چې هغوئ د مِصر په لوئ
فوجی طاقت، آسونو، جنګی ګاډو او فوجیانو باندې بهروسه
کوی. خو هغوئ په مالِک خُدائ باندې یقین نهٔ کوی، کوم
چې د بنی اِسرائیلو مقدس ذات دے او نهٔ ترې نه مدد
غواړی. ۲ خو مالِک خُدائ پاک هم هوښیار دے. هغه په
تاسو افت راولی. هغه خپلې خبرې سر ته رسوی چې بدعمله
او هغه خلقو له سزا ورکړی چې څوک د دې بدعمله خلقو
حِفاظت کوی. ۳ مِصریان خو څهٔ خُدایان نهٔ دی، هغوئ
خو بنی آدم دی. د هغوئ آسونه خو څهٔ آسمانی مخلوق نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے ځکه چې دا آسونه د غوښې نه جوړ دی. کله چې مالِک
خُدائ خپل لاس اوږد کړی، نو څوک چې د چا مدد کوی نو
هغه به راپرېوځی او د چا چې مدد کېږی نو هغه به هم
راپرېوځی او دا دواړه به تباه شی. ۴ مالِک خُدائ ما ته
وفرمائیل، ”کۀ د شپانو ډلې هر څومره چغې ووهی یا هر
څومره آوازونه وکړی، خو هغوئ به یو غړمبېدونکی ازمرے د
خپل ښکار نه ونۀ شړی، نو هم دغه شان به مالِک خُدائ ربُ
الافواج د صیون په غر راکوز شی او جنګ به کوی. ۵ لکه
څنګه چې یو مارغۀ د خپلو بچو د بچ کولو دپاره د خپلې
جالې دپاسه الوځی رالوځی، نو داسې به زۀ، مالِک خُدائ،
ربُ الافواج د یروشلم دپاسه تېر شم د دې د بچ کولو دپاره او
د دې حِفاظت به کوم.“ ۶ مالِک خُدائ وفرمائیل، ”اے
بنی اِسرائیلو، تاسو زما خِلاف سرکشی کړې ده. خو اوس،
تاسو ما ته راوګرځئ. ۷ یو داسې ورځ راروانه ده چې تاسو
ټول به د سرو زرو او سپینو زرو نه جوړ شوی بُتان غورزوئ
کوم چې تاسو په خپلو ګناهګارو لاسونو جوړ کړی دی. ۸
اسوریان به په تُوره تباه شی خو دا تُوره به د انسان نۀ وی. د
خُدائ پاک تُوره به هغوئ ووهی او هغوئ به وارخطا شی او
تښتی به. د اسوریانو ځوانانو نه به په زور کار اخستلے شی.
۹ د یرې د وجې به هغوئ خپله قلعه پرېږدی، او د هغوئ
آفسران به د مالِک خُدائ د جنګی جنډې نه ویرېږی.“ دا
مالِک خُدائ فرمائیلی دی، د چا اور چې په صیون کښې
بلیږی، او د چا تنور چې په یروشلم ګرمیږی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په اِنصاف سره د يو بادشاه حکمرانى

٣٢ ١ ګورئ، يو بادشاه به په اِنصاف سره حکمرانى
کوى. او د هغهٔ آفسران به هم په اِنصاف سره حکمرانى کوى.
٢ د بادشاه هر يو کس به د سيلۍ نه د حِفاظت، او د
طوفان نه د پټېدو د ځائ په شان وى. هغوئ به د داسې نِهر
په شان وى چې په صحرا کښې بهيږى او هغوئ به په خُشک
مُلک کښې د لوئ ګټ د سورى په شان وى. ٣ نو بيا چې
د چا سترګې وى نو هغوئ به حقيقت وينى، او چې د چا
غوږونه وى نو هغوئ به د اورېدو جوګه وى. ٤ څوک چې
د بې‌صبرۍ نه کار اخلى هغوئ به هوښيار شى، او چاړاګان
به صفا او روانۍ سره خبرې کوى. ٥ څوک به دا نهٔ وائى
چې کم عقل کس عزتمند وى او يا بدعمله کس نېک وى.
٦ يو کم عقل کس د کم عقلتوب خبرې کوى او د بدعملۍ
کولو منصوبې جوړوى. هغه د بې‌دينۍ خبرې کوى او د
مالِک خُدائ خلاف کُفر غروى. هيڅکله اوږو خلقو له
خوراک نهٔ ورکوى او تږى د څهٔ څښلو نه محرومه ساتى.
٧ کم عقل انسان بدعمله وى او د بدعملۍ کارونه کوى،
هغه د دروغو سره د غريب د تباه کېدو منصوبې جوړوى اګر
کهٔ حاجتمند په حقه هم وى. ٨ خو عزتمند انسان د
صداقت کار کوى او چې کوم کار صحيح وى نو په هغې
باندې کلک ولاړ وى.

## د يروشلم د ښځو دپاره خبردارے

٩ اے هغه ښځو، څوک چې په آرام سره ژوند تېروئ زما
خبره واورئ. اے بې‌پرواه لوڼو زما خبره په غور سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واورئ. ١٠ يو کال او څو ورځې پس به تاسو بېپرواه ښځې
په لړزان شئ، ځکه چې د انګورو فصل به ضائع شى او
مېوې به هيڅکله نۀ پخيږى. ١١ اے هغه ښځو، څوک چې په
آرام سره ژوند تېروئ، د يرې نه ولړزيږئ. اے بېغمه لوڼو د
يرې نه وريږيږئ. خپلې کپړې وباسئ بربنډې شئ او د ټاټ
جامې واچوئ. ١٢ د زرخېزه پټو او د انګورو باغونو دپاره د
خفګان نه خپلې سينې وهئ. ١٣ زما د خلقو په مُلک کښې د
ازغو او غنو بوټى راشنۀ شوى دى. ستاسو د کورونو خندا او
د ښارونو خوشحالى به ختمه شى. ١٤ محل به خوشې پاتې
شى او مرکزى ښار به خالى شى. د کورونو او قلعو نه به د
تل دپاره کنډرات جوړ شى، چرته به چې ځنګلى خرونه
ګرځى او ګډې به په کښې څريږى. ١٥ ترڅو چې خُدائ
پاک خپل روح په مونږ نازل نۀ کړى نو تر هغه وخته پورې به
حالات هم داسې وى. خو بيا به هغه خوشې مُلک آباد شى
او د باغ مېوه دارې ونې به يې لکه د ځنګل په شان ګڼې وى.
١٦ نو بيا به اِنصاف په صحرا کښې استوګنه کوى، او
صداقت به په مېوه دار باغ کښې اوسيږى. ١٧ د صداقت
اثر به سلامتى وى، او نتيجه به يې ابدى سکون او حفاظت
وى. ١٨ زما خلق به پُرسکون او محفوظ ځايونو کښې
اوسيږى، او د هغوئ کورونه به د امن او سلامتۍ نه ډک وى،
١٩ اګر کۀ ځنګل تباه شى او ښار مکمل برباد شى. ٢٠
خو بختور يئ تاسو چې د ټولو اوبو په غاړه به فصلونه
وکرلے شئ او په آزادۍ سره به خپل خرونه او څاروى
وڅرولے شئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مدد دپاره دُعا

# ۳۳

۱ په تاسو اسوریانو باندې افسوس، تاسو نور خو
برباد کړل خو پخپله هیڅکله برباد نۀ شوئ. په تاسو باندې
افسوس چې تاسو نورو سره دوکه وکړه حالانکه تاسو سره
دوکه نۀ ده شوې. خو ستاسو نمبر به هم راځی. کله چې
تاسو تباهی وکړئ نو تاسو به هم تباه شئ. کله چې تاسو د
دوکې کار سر ته ورسوئ نو تاسو سره به هم دوکه وشی.
۲ اے مالِکه خُدایه، په مونږ رحم وکړه، مونږ ستا په طمع
یُو. هر سحر مونږ له طاقت راکوه. او د مصیبت په وخت
کښې زمونږ خلاصونکے شه. ۳ ستا د تندر په شان آواز
اوریدو سره قومونه زغلی، ستا پاڅیدو سره هغوئ خوارۀ
وارۀ شی. ۴ ستا د لوټ مال دومره راجمع شی لکه چې
هیر چینجی راجمع شوی وی، او خلق په مالِ غنیمت باندې
لکه د قحطۍ د مُولخانو ټوپونه وهی. ۵ زمونږ مالِک خُدائ
څومره لوئ دے. هغه پاس په عرش استوګنه کوی. هغه به
یروشلم د اِنصاف او صداقت نه ډک کړی، ۶ په هغه ورځ
به هغه ستاسو مضبوط بنیاد وی، هغه به تاسو له لوئ
خلاصون، پوهه او حِکمت درکوی. د مالِک خُدائ یره به
ستاسو خزانه وی. ۷ خو اوس تکړه خلق په لارو کوڅو
کښې ژړاګانې کوی. کومو سفیرانو چې د امن راوستلو
کوشش کولو نو اوس هغوئ په چغو چغو ژاړی. ۸ هغه
سړکونه خوشې تشې پاتې دی او هیڅ څوک هم پرې سفر نۀ
کوی. معاهدې ماتې شوې دی او په لوظُونو باندې عمل نۀ
دے شوے. نور د یو کس عزت هم نۀ کیږی. ۹ مُلک
خوشې او وران ویجاړ پروت دے. د لبنان ځنګلونه اوچ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوی دی او د شارون آباده وادی د صحرا په شان ده او د
بسن او د کرمل د غرۀ د ونو نه پاڼې غورزیږی.

## د مالِک خُدائ خپلو دشمنانو له خبردارے ورکول

۱۰ نو مالِک خُدائ فرمائی، ”اوس به زۀ عملی کار کوم. زۀ
به تاسو ته وښایم چې زۀ څومره طاقتور یم. ۱۱ تاسو اُمید
سره یئ خو ستاسو په خېټه کښې اوچه ګیاه ده او د
پېدایښت په وخت به درنه صرف بوس پېدا کیږی. چې کله
تاسو پوکے وهئ نو ستاسو ساه نه به اور جوړ شی او تاسو
به ایرې ایرې کړی. ۱۲ قومونه به په مکمل طور داسې
وسوزی، لکه د ازغو د هغه بوټو په شان چې کټ کړے شی
او اور ته وغورزولے شی. ۱۳ اے هغه د لرې علاقو خلقو
هغې ته غوږ کېږدئ څۀ چې ما کړی دی، او اے نزدې
اوسېدونکو زما طاقت ومنئ.“ ۱۴ د صیون ګناهګار خلق د
یرې نه ریږدی. بې‌دینه خلق رېږدی او وائی، ”د خُدائ پاک
تباه کوونکی اور په وړاندې څوک ژوندی پاتې کېدے شی؟
زمونږ د خلقو نه به څوک په داسې ابدی اور کښې ژوندی
پاتې شی؟“ ۱۵ خو هغه کس به ژوندے پاتې شی چې
صداقت سره ژوند تېروی او رښتینے وی، غېر قانونی ګټه او
رشوت نۀ اخلی، چې د قتل منصوبې نۀ جوړوی او د غلطو
کارونو نه ځان ساتی. ۱۶ نو بیا به دا خلق په اوچتو ځایونو
کښې اوسیږی، هغوئ به دومره محفوظ وی لکه څومره چې
په غرونو باندې پَخو قلعو کښې محفوظ وی. هغوئ ته به
روټۍ ملاویږی او د اوبو به هیڅ کمے نۀ راځی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ زمونږ بادشاه دے

۱۷ تاسو به وګورئ بادشاه به د شان او شوکت سره په يو
داسې مُلک باندې حکومت کوى چې تر لرې لرې پورې خور
وى. ۱۸ بيا به تاسو د يرې دا تېر وخت راياد کړئ او خپل
ځان سره به ووايئ، "د دشمن هغه لوئ آفسران چرته دى؟
محصُول اخستونکى چرته غيب شول؟ هغه آفسر چرته دے
چې د برجونو حساب کِتاب به يې کولو؟" ۱۹ نو تاسو به
نور د پردى مُلک هغه ظالمان ونۀ وينئ چې هغوئ داسې
سخته ژبه وائى چې په هغې باندې تاسو نۀ پوهېږئ. ۲۰
صيون ته وګورئ، دا هغه ښار دے چرته چې مونږ مذهبى
اخترونه کوُو. يروشلم ته وګورئ، دا به د اوسېدو دپاره
څومره محفوظ ځائ وى. دا به يو داسې خيمه وى چې
هيڅکله به نۀ شى اخوا کولے، د دې موږى به کله هم نۀ
راويستلے کيږى، او د دې پړى به هيڅکله نۀ شلېږى. ۲۱
هلته به مالِک خُدائ زمونږ لوئ بادشاه وى. هغه به لکه د
حفاظت د لوئ سمندر په شان وى چې يو دشمن به هم ترېنه
نۀ شى اوړېدے او نۀ به پرې د دشمن سمندرى جهازُونه
ګرځېدے شى. ۲۲ مالِک خُدائ به په خپله زمونږ قاضى،
زمونږ حکمران، او زمونږ بادشاه وى، هغه به زمونږ خيال
ساتى او مونږ به بچ کوى. ۲۳ د سمندرى جهاز پړى ډيله
دى، او د بادبان ستن يې خوَزى او بادبان يې خور شوے نۀ
دے. مونږ به د خپلو دشمنانو ټول د لوټ مال دولت تقسيم
کړُو او دا به دومره زيات وى چې ګوډ ته به هم په کښې خپله
برخه مِلاو شى. ۲۴ د صيون يو کس به هم بيا نۀ وائى چې،
"مونږ بيمار يُو،" او مالِک خُدائ به د هغوئ ګناهونه معاف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی.

## د خُدائ پاک خپلو دشمنانو له سزا ورکول

۳۴ ۱ اے د ټولو قومونو خلقو، راشئ. راغونډ شئ او
واورئ. په ټوله دُنيا کښې چې څوک هم اوسيږی نو هغه دې
دلته راشی او وا دې وری. ۲ مالِک خُدائ ټولو قومونو او
د هغوئ ټولو لښکرو ته غصه دے او هغه به دوئ په مکمل
طور تباه کړی او ذبح به يې کړی. ۳ خو د هغوئ لاشونه به
نۀ ښخيږی او هلته به پراتۀ وی چې سخا شی او خراب بوئ
وکړی، او غرونه به په وينو سرۀ وی. ۴ په آسمان کښې
ستوری به فنا شی. آسمان به داسې فنا شی لکه چې طومار
راغونډولے شی او ستوری به داسې راوغورزيږی لکه د
انګورو د بوټی نه اوچې پاڼې يا د اينځر د ونې نه اوچ اينځر
راغورزيږی. ۵ او زما تُورې خپل کار په آسمان کښې پوره
کړے دے، او ګورئ اوس به دا په ادوم نازله شی، په هغه
قوم کوم چې ما د تباهۍ دپاره په نښه کړے دے. ۶ د
مالِک خُدائ تُوره په وينه او وازګه باندې پټه شوې ده، دا د
ګډورو او د چېلو په وينو سره ده او وازګې ورباندې لګېدلې
دی، ولې چې مالِک خُدائ به دا قربانی د بُصره په ښار کښې
پېش کړی، هغه به دا لويه حلاله د ادوم په مُلک کښې وکړی.
۷ خلق به د ځنګلی غويَی او د سخو په شان راوغورزيږی
او زمکه به په وينه سره وی او په وازګه به پټه وی. ۸ دا
هغه ورځ ده چې مالِک خُدائ به بدل واخلی، هغه کال چې د
ادوم نه به د بنی اِسرائيلو بدله واخلی. ۹ د ادوم سيندونه به
په تارکولو بدل شی، خاوره به يې په ګوګړو بدله شی. ټول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مُلک به د تارکولو په شان اور اخستے وی. ۱۰ دا به شپه
او ورځ بلیږی او د دې نه به تل لوګے خيږی. هغه مُلک به په
هره زمانه کښې خوشے پروت وی تر دې چې څوک مسافر
به هم تر همېشه پورې په دې کښې سفر نۀ کوی. ۱۱
ګونګيان او ځنګلی ځناور به دا قبضه کړی، هر قِسمه ځنګلی
مارغان به په دې کښې پاتې کيږی. مالِک خُدائ به په خيال
سره د دې مُلک ناپ تول وکړی، هغه به دا ناپ تول د دې د
تباهئ دپاره وکړی. ۱۲ هلته به د بادشاهئ هيڅ هم پاتې نۀ
وی، او د هغې ټول مشران به ختم شی. ۱۳ د ازغو بوټی او
تراخۀ بوټی به هر ځائ کښې د پَخو دېوالونو په ښارونو کښې
او قلعو کښې خوارۀ شی او ګيدړان او ګونګيان به په دې
کښې اوسيږی. ۱۴ ځنګلی ځناور او ګيدړان به هلته راغونډ
شی او د چېلو په شکل پيريان به په کښې يو بل ته آوازونه
کوی. د شپې بلا به هلته راځی چې د آرام ځائ پيدا کړی.
۱۵ ګونګيان به هلته جالې جوړوی، هګئ به اچوی، بچی به
ترې نه راوباسی او وزرو لاندې به يې پټوی، او ساتنه به يې
کوی. ټيوسان به هلته راغونډيږی او هر يو سره به خپله ماده
وی. ۱۶ د مالِک خُدائ کِتاب وګورئ او په هغې کښې لټون
وکړئ چې څۀ فرمائی. په دې کِتاب کښې د دې ټول مخلوق
نومونه موجود وی او يو به هم په کښې بې‌جوړې نۀ وی.
مالِک خُدائ حُکم کړے دے چې هم دغه شان دې وشی، د
هغۀ روح به يې پخپله په يو ځائ باندې راغونډ کړی. ۱۷ دا
به مالِک خُدائ وی چې په دې ځناورو باندې مُلک تقسيم
کړی او هر يو له خپله برخه ورکړی. هغوئ به نسل په نسل په
هغه مُلک کښې اوسيږی او د تل دپاره به د هغوئ شی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د پاکوالی لار

۳۵ ۱ صحرا او اوچه زمکه به خوشحالی وکړی، او په
بیابان کښې به ګلونه غوټۍ شی. ۲ صحرا به سندرې وائی
او د خوشحالۍ چغې به وهی، دا صحرا به د لبنان د غرونو په
شان شنه وی او د کرمل غر په شان او شوکت والا او د
شارون پټو په شان به زرخېزه وی. نو هر یو کس به د مالِک
خُدائ شان او شوکت ووینی، او زمونږ د خُدائ پاک لوئی او
عظمت به ووینی. ۳ کوم لاسونه چې سترې شوی دی نو
هغې له طاقت ورکړه او هغه ګوډو له طاقت ورکړه چې د
کمزورۍ په وجه لړزیږی. ۴ څوک چې بې‌حوصلې شوی
دی نو هغوئ ته ووایه، ”تکړه شئ او مۀ یرېږئ. خُدائ پاک
راروان دے چې تاسو بچ کړی، او ستاسو دشمنانو له سزا
ورکړی.“ ۵ نو د ړندو به سترګې وغړیږی، او د کڼو به
غوږونه اورېدل شروع کړی. ۶ ګوډ به د هوسۍ په شان
ټوپونه وهی، او ګونګیان به د خوشحالۍ سندرې وائی. په
صحرا کښې به چشمې راوځی او په بیابان کښې به د اوبو
نِهرونه بهیږی، ۷ د بلېدونکې شګې نه به تالاب جوړ شی، او
اوچه زمکه به د چینو نه ډکه شی. چرته چې ګیدړان اوسېدل،
نو هلته به د نمږنې زمکې واښۀ او لوخې راوټوکیږی. ۸
هلته به یو لوئ سړک وی، چې نوم به یې ”د پاکوالی لار“ وی.
ناپاک خلق به په دې باندې سفر نۀ کوی، ځکه چې دا لار
صرف هغه خلقو دپاره مخصوص شوې ده کوم چې په نېغه
لار ځی، او کم عقل خلق به په دې لار نۀ شی تلے. ۹ هلته
به زمریان نۀ وی، بد ځناور به په هغه لار باندې نۀ تېریږی او
نۀ به هلته پاتې کیږی. خو مالِک خُدائ چې څوک بچ کړی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی نو هغوئ به په هغه لار باندې ځی. ۱۰ هغوئ چې د چا
فديه مالِک خُدائ ورکړې ده هغوئ به واپس راشی او سندرې
به وائی، ځنګه چې يروشلم ته داخل شی نو د هغوئ زړونه به
همېشه د خوشحالئ نه ډک وی، او هغوئ به دومره زيات
خوشحاله وی چې غم او پرېشانئ به ترې وتښتی.

## د اسوريانو يروشلم له دهمکی ورکول

۳۶ ۱ د حزقياه بادشاه د بادشاهئ په څوارلسم کال، د
اسور بادشاه سينحرب، د يهوداه د پَخو دېوالونو په ښارونو
باندې حمله وکړه او قبضه يې کړل. ۲ بيا د اسور بادشاه
خپل مشر آفسر ته حُکم وکړو چې حزقياه بادشاه ته د يو
لوئ لښکر سره د لکيس نه يروشلم ته لاړ شی. نو آفسر په
هغه سړک ودرېدو چرته به چې دهوبيانو جامې وينځلې، دا د
هغه وَلې سره نزدې وو چې په دې کښې د بره ډنډ نه اوبهٔ
راتلې. ۳ نو د يهوداه درې کسان د هغهٔ سره مِلاوېدو له
راغلل يعنې، د خِلقياه زوئ اِلياقيم، چې هغه د محل مشر وو،
شبناه، د دربار منشی، او د آسف زوئ يوآخ، چا چې د هغه
زمانې تاريخ ليکلو. ۴ د اسور آفسر هغوئ ته ووئيل چې،
”حزقياه ته ووايه چې، لوئ بادشاه د اسور بادشاه وائی چې
تهٔ په څهٔ باندې دومره زړَور يې؟ ۵ ستا خيال دا دے څهٔ
چې تشې خبرې د فوجی طريقه کار او طاقت ځائ نيولے
شی؟ د اسوريانو خِلاف په بغاوت کښې به څوک ستا په
خيال ستا مدد وکړی؟ ۶ تهٔ د مِصر نه طمع کوې؟ دا به
داسې وی لکه چې د لوخې د پانړې نه امسا جوړه کړې او چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله په دې باندې زور واچوې نو دا به ستا لاس غوخ او
زخمي کړی. کله چې څوک د مِصر په بادشاه فِرعون
بهروسه وکړی نو هغه هم دغه شان دے. ٧ شاید چې تاسو
ووایئ، مونږ په مالِک خُدائ په خپل خُدائ پاک باندې
بهروسه لرو. خو دا څنګه کېدے شی؟ ولې چې حزقیاه خو د
مالِک خُدائ علاقائی عبادتخانې او قربان‌ګاه ختمې کړې، کله
چې هغۀ د یهوداه او یروشلم خلقو ته ووئیل چې صِرف د
یروشلم قربان‌ګاه وړاندې عبادت کوئ. ٨ نو اوس راشئ
او زمونږ د مالِک د اسور بادشاه سره یوه سودا وکړئ، زۀ به
تاسو له دوه زره آسونه درکړم خو کۀ تاسو د دې دپاره
دومره سړی پېدا کړل چې په دې باندې سورلی وکړی. ٩
تۀ زما د مالِک د اسور د بادشاه د یو وړوکی آفسر مقابله هم
نۀ شې کولے نو بیا د مِصر په جنګی ګاډو او آسونو باندې د
سوَرو کسانو فائده څۀ؟ ١٠ ستا خیال دا دے څۀ چې ما د
مالِک خُدائ د مدد نه بغیر ستا په مُلک حمله کړې ده او ستا
مُلک مې تباه کړے دے؟ ما ته مالِک خُدائ په خپله فرمائیلی
دی چې په دې باندې حمله وکړه او تباه یې کړه.“ ١١ نو
اِلیاقیم، شبناه او یوآخ هغه آفسر ته ووئیل، ”صاحبه، تۀ زمونږ
سره په آرامی ژبه کښې خبرې کوه ځکه چې مونږ په دې ښۀ
پوهېږو. مونږ سره په عبرانۍ کښې خبرې مۀ کوه، ځکه چې
په دېوال باندې ټول خلق دا اوری.“ ١٢ هغۀ ورته په جواب
کښې ووئیل، ”ستاسو خیال دا دے څۀ چې زما بادشاه دا
پېغام صرف تاسو او ستاسو بادشاه له رالېږلے دے څۀ؟ نه،
زۀ هغه خلقو ته هم وایم کوم چې په دېوال ناست دی. ستاسو
په شان به هغوئ هم خپل غُل وخوری او خپلې متیازې به
وڅښی.“ ١٣ بیا هغه آفسر ودرېدو او په عبرانۍ کښې یې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آواز وکړو، ”د اسور بادشاه پېغام په کولاو غوږونو واورئ.
١٤ هغه تاسو له خبردارے درکوی چې حزقیاه مهٔ پرېږدئ
چې دوکه درکړی. حزقیاه تاسو نهٔ شی بچ کولے. ١٥ او
هغه دې تاسو په دې دوکه نهٔ کړی چې په مالِک خُدائ یقین
وکړئ. دا خیال مهٔ کوئ چې مالِک خُدائ به ضرور تاسو بچ
کړی او چې هغه به زمونږ اسوری لښکر ستاسو د ښار قبضه
کولو نه ایسار کړی. ١٦ حزقیاه ته غوږ مهٔ نیسئ. د اسور
بادشاه تاسو له حُکم درکوی چې ما سره صُلح وکړئ د ښار
نه راوځئ او ما له راشئ. نو بیا به په تاسو کښې هر یو کس
خپلو د انګورو باغونو نه انګور خورئ او د خپلو اینځرانو د
ونو نه به اینځر خورئ او د خپلو کُوهو نه به اوبهٔ څښئ. ١٧
بیا به زهٔ راشم او تاسو به یو داسې مُلک ته بوځم لکه چې
ستاسو د مُلک په شان به وی، هلته به غله، مے، روټۍ او د
انګورو باغونه وی. ١٨ حزقیاه دې درنه کم عقل جوړ نهٔ
کړی چې دا خیال مو راولی چې مالِک خُدائ به تاسو بچ
کړی. د نورو قومونو خُدایانو د هغوئ مُلکونه د اسور بادشاه
نه بچ کړی دی څهٔ؟ ١٩ د حمات او ارفاد خُدایان اوس
چرته دی؟ د سفروائم خُدایان چرته دی؟ ولې کوم معبود
سامریه زما نه بچ کړے شو څهٔ؟ ٢٠ د هر مُلک خُدایانو کله
هم خپل مُلک زمونږ د سلطان نه بچ کړے دے څهٔ؟ نو بیا
تاسو دا سوچ په څهٔ باندې کوئ چې مالِک خُدائ به یروشلم
زما نه بچ کړی؟“ ٢١ خو خلق خاموش وُو او یوه خبره یې
هم نهٔ کوله ځکه چې حزقیاه حُکم ورکړے وو چې، ”هغهٔ له
جواب مهٔ ورکوئ.“ ٢٢ نو د خِلقیاه زوئ اِلیاقیم، چې هغه د
محل مشر وو، شبناه، د دربار منشی، او د آسف زوئ یوآخ،
کوم چې د تاریخ لیکونکو مشر وو د خفګان نه خپلې جامې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشلولې او حزقياه له واپس لاړل. او چې د اسور آفسر هغوئ
ته څۀ وئيلی وُو هغه يې ورته ووئيل.

## د حزقياه د حضرت يشعياه سره مشوره کول

٣٧ ١ خنګه چې حزقياه بادشاه د هغوئ بيان واورېدو،
نو هغۀ د خفګان نه خپلې جامې وشلولې، د ټاټ جامې يې
واغوستلې او د مالِک خُدائ کور ته ننوتو. ٢ هغۀ د محل
مشر آفسر اِلياقيم، د دربار منشی شبناه او مشران اِمامان، د
آموص زوئ يشعياه پېغمبر له ولېږل. هغوئ هم د ټاټ جامې
اغوستې وې. ٣ هغوئ هغۀ ته ووئيل، ”حزقياه بادشاه
فرمائی، نن د خفګان، ملامتيا او شرم ورځ ده. مونږ د هغه
ښځې په شان يُو چې ماشوم يې پېدا کېدونکے وی، خو د
پېدا کېدو زور نۀ لری. ٤ شايد چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک به هغه د مشر آفسر خبرې اورېدلې وی څوک
چې خپل مالِک د اسور بادشاه رالېږلے وو چې د ژوندی
خُدائ پاک په حق کښې يې ګستاخی کړې ده. کله چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک اورېدلی دی نو کېدے شی چې
هغۀ ته د دې سزا ورکړی څۀ چې هغۀ وئيلی دی. نو د هغوئ
دپاره دُعا کوئ کوم خلق چې تر اوسه پورې ژوندی پاتې
دی.“ ٥ کله چې يشعياه ته د حزقياه بادشاه پېغام مِلاو
شو، ٦ نو هغۀ دا جواب ورولېږلو، ”مالِک خُدائ تا ته
فرمائی چې کومې خبرې تا اورېدلې دی د هغې په وجه مۀ
يرېږه، هغه خبرې چې د اسور بادشاه نوکرانو کړې دی په
هغې کښې يې زما، يعنې د مالِک خُدائ ګستاخی کړې ده.
٧ ګوره، زۀ به د هغۀ ذِهن بدل کړم او چې کله هغه يوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

افواه واورى نو هغه به خپل مُلک ته راواپس شى، او هلته به
يې په تُوره باندې د وژلو سبب وګرځَم.“

## د اسوريانو بله دهمکى ورلېږل

٨ د اسور مشر آفسر خبر شو چې بادشاه د لکيس نه تلے
دے او د لِبناه ښار خِلاف جنګ کوى، نو هغه هلته ورَغلو
چې مشوره ترې واخلى. ٩ بيا اسوريانو بادشاه له دا خبر
وروررسېدو چې مِصرے لښکر په هغوئ باندې د حملې کولو
دپاره راروان دے چې مشرى يې د ايتهوپيا ترهاقه بادشاه
کوى. کله چې هغه د دې نه خبر شو، نو هغهٔ د يهوداه بادشاه
حزقياه له دا پېغام ولېږلو ١٠ چې هغهٔ ته داسې ووائى، ”په
کوم خُدائ چې تاسو يقين کوئ هغهٔ تاسو ته وئيلى دى چې
يروشلم به زما په قبضه کښې نهٔ راځى، خو چې په هغهٔ باندې
دوکه نهٔ شئ. ١١ ګورئ، تاسو ته پته ده چې د اسور
بادشاهانو ټولو مُلکونو سره څهٔ کړى دى، هغوئ يې مکمل
تباه کړى دى، نو تاسو به څنګه خلاص شئ؟ ١٢ زما پلار
نيکهٔ د جوزان، حاران او رصف ښارونه تباه کړل، او د
بيت‌عدن خلق يې ووژل چې کوم په تلسار کښې اوسېدل، او
يو قوم هم خپلو معبودانو بچ نهٔ کړے شو. ١٣ د حمات،
ارفاد، سفروائم، هينع او عِواه ښارونو بادشاهان چرته دى؟“
١۴ حزقياه بادشاه د پېغام وړونکو نه خط واخستلو او وې
ولوستلو. بيا هغه د مالِک خُدائ کور ته لاړو او خط يې هلته
د مالِک خُدائ په حضور کښې کېښودو، ١۵ او حزقياه
مالِک خُدائ ته دُعا وکړه چې، ١۶ ”اے مالِکه خُدايه، ربُ
الافواجه، د بنى اِسرائيلو خُدايه پاکه، ستا تخت د وزرو والا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخلوق دپاسه دے، يواځې تۀ هغه خُدائ پاک يې، چې د دُنيا
په ټولو بادشاهانو حکومت کوې. تا زمکه او آسمان پيدا کړې
دې. ۱۷ اوس، مالِکه خُدايه، مونږ ته غوږ ونيسه او چې په
مونږ څۀ کيږی هغې ته وګوره. هغه ټولې خبرې واوره چې
سينحرب يې ژوندی خُدائ پاک ته د بې‌عزتۍ دپاره کوی. ۱۸
اے مالِکه خُدايه، دا رښتيا دی چې د اسور بادشاهانو ډېر
قومونه تباه کړی دی او د هغوئ زمکې يې شاړې کړې دی،
۱۹ او د هغوئ معبودان يې سوزولی دی، خو دا رښتينې
خُدايان نۀ وُو او تش د لرګی او کاڼی بُتان وُو چې انسانانو
جوړ کړی وُو. ۲۰ نو اوس، اے مالِکه خُدايه، زمونږ خُدايه
پاکه، مونږ د اسوريانو بادشاه نه بچ کړه، نو داسې د دُنيا ټولو
قومونو ته به پته ولګی چې صرف تۀ خُدائ پاک يې.“

## بادشاه ته د يشعياه پېغام

۲۱ بيا د آموص زوئ يشعياه، حزقياه له يو پېغام ولېږلو
چې، ”مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی، په دې
وجه چې تاسو ما ته د اسور د بادشاه سينحرب په حقله دُعا
کړې ده، ۲۲ دا د مالِک خُدائ کلام دے چې د هغۀ خلاف
يې ووئيلو، صيون لور تا ته سپک ګوری او درپورې خندا
کوی، پېغله صيون لور د خندا نه سر خوځوی چې کله تاسو
تښتئ. ۲۳ تا چا پورې خندا وکړه او د چا بې‌عزتی دې
وکړه؟ تا د چا خلاف آواز اوچت کړو؟ تا چا ته د غرور په
نظر وکتل؟ دا د بنی اِسرائيلو مقدس ذات وو. ۲۴ د خپلو
پېغام وړونکو په ذريعه تا د مالِک خُدائ سپکاوے کړے
دے. تا دا لافې وهلې چې ما د بې‌شمېره جنګی ګاډو سره د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لبنان د ټولو نه اوچت غرونه فتح کړی دی. ما هلته د دِيار
لوړې ونې او د نختر ښې ونې راوغورزولې دی او زهٔ د ځنګلو
هغه ګڼو برخو ته رسېدلے يم. ۲۵ ما کوهی وکنستل او په
پردو مُلکونو کښې مې اوبهٔ وڅښلې او زما فوجيانو د پښو
سره د نيل درياب اوچ کړو. ۲۶ ولې تا ته پته نهٔ وه چې ما د
دې هر څهٔ منصوبه ډېره د مخکښې نه جوړه کړې وه؟ او
اوس مې داسې وکړل او تا له مې دا طاقت درکړو چې د پَخو
ديوالونو ښارونه د خاورو په ډېرو بدل کړې. ۲۷ کوم خلق
چې هلته اوسېدل هغوئ بېوسه وُو، هغوئ يرېدلی وُو او
مازغو يې کار نهٔ کولو. هغوئ د واښو په شان کمزوری وُو، د
هغه واښو په شان چې په چت باندې په خپله رازرغون شوی
وی او چې کله ګرمه هوا وچليږی نو يک دم مړاوی شی. ۲۸
خو ما ته ستا د هر څهٔ پته ده، چې څهٔ کوې او چرته ځې
راځې. ما ته پته ده چې تهٔ زما خِلاف څومره غضبناک يې.
۲۹ ستا د غضب او غرور نه زهٔ خبر يم او اوس به زهٔ ستا
په پوزه کښې پېزوان او ستا په خولهٔ کښې قيضه واچوم او
چې په کومه لار راغلے يې نو په هغې به دې واپس ولېږم.“
۳۰ بيا يشعياه حزقياه بادشاه ته وفرمائيل، ”زهٔ چې څهٔ وايم
هغه رښتيا دی او دا د هغې ثبوت دے. په دې کال او په بل
کال به تهٔ صِرف هغه غله خورې کومه به چې په خپله شوې
وی، خو په دريم کال به تهٔ غله کرې او فصلونه به رېبې او د
انګورو باغونه به کرې او د هغې انګور به خورې. ۳۱ په
يهوداه کښې چې کوم کسان ژوندی پاتې دی، نو هغوئ به د
هغه بوټو په شان آباد شی چې جرړې يې په زمکه کښې ژورې
ځی او ميوه نيسی. ۳۲ نو ځکه د يروشلم نه به زما باقی
ژوندی پاتې خلق راوځی، او د صيون په غرهٔ باندې ژوندی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاتې خلق به خوارۀ شی. د مالِک خُدائ ربُ الافواج غېرت به
دا هر څۀ کوی. ﴿٣٣﴾ مالِک خُدائ د اسور بادشاه په حقله
داسې فرمائیلی دی، هغه به دې ښار ته نۀ ننوځی او نۀ به د
دې خِلاف یو غشے وولی. یو فوجی به هم د ډال سره دې
ښار ته نزدې رانۀ شی او د دې ګېرچاپېره محاصرې دپاره به
د خاورو ډېری جوړ نۀ کړے شی. ﴿٣٤﴾ هغه چې په کومه لار
راغلے وی نو په هغې به واپس لاړ شی او دې ښار ته به نۀ
شی ننوتے. مالِک خُدائ داسې فرمائیلی دی. ﴿٣٥﴾ زۀ به د
خپل ځان او خپل خِدمت کوونکی داؤد د خاطره د دې ښار
دِفاع او حِفاظت کوم، او دا به بچ کوم.“ ﴿٣٦﴾ په هغه شپه د
مالِک خُدائ یوه فرښته د اسوریانو خېمو ته ننوتله او یو سل
او پینځۀ اتیا زره فوجیان یې ووژل. او چې کله سحر وختی
خلق پاځېدل نو هر طرف ته مړی پراتۀ وُو. ﴿٣٧﴾ بیا د اسور
بادشاه سینحرب خېمې وویستلې او واپس خپل مُلک ته لاړو.
هغه نینوه ته ورسېدو او هلته ایسار شو. ﴿٣٨﴾ یوه ورځ چې
هغۀ د خپل خُدائ نِسروک په عبادتخانه کښې عبادت کولو،
نو د هغۀ دوو زامنو ادرمُلِک او شراضر هغه د خپلو تُورو
سره ووژلو او هغوئ بیا د اراراط مُلک ته وتښتېدل. د هغۀ یو
بل زوئ اسرحدون د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو.

## د حزقیاه بادشاه بیمارېدل او بیا روغېدل

٣٨ ﴿١﴾ په هغه ورځو کښې حزقیاه بادشاه دومره بیمار
شو چې مرګی حاله شو. د آموص زوئ یشعیاه پېغمبر هغۀ
سره مِلاوېدو له ورَغلو او هغۀ ته یې وفرمائیل، ”مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا ته فرمائی چې تهٔ خپل کارونه سر ته ورسوه ځکه چې تهٔ به
نهٔ ښهٔ کېږې. د مرګ تيارے وکړه.“ ۲ د دې اورېدو سره
حزقياه مخ دېوال ته واړولو او مالِک خُدائ ته يې سوال
وکړو، ۳ ”مالِکه خُدايه، هغه رایاد کړه، چې ما په وفادارئ
سره ستا خِدمت کړے دے او هغه عمل مې کړے دے چې
ستا په نظر کښې صحيح وى.“ او هغهٔ ډېر په چغو چغو
وژړل. ۴ بيا د مالِک خُدائ کلام په يشعياه نازل شو چې،
۵ ”حزقياه له واپس لاړ شه او هغهٔ ته ووايه، ما يعنې مالِک
خُدائ، ستا د پلار نيکهٔ داؤد خُدائ پاک ستا دُعا اورېدلې ده
او ستا اوښکې مې ليدلې دى. زهٔ به تا پينځلس کاله نور
ژوندے وساتم. ۶ او زهٔ به تا او د يروشلم دا ښار د اسور
بادشاه نه بچ کړم او هم زهٔ به د دې ښار حِفاظت کوم.“ ۷
دا پيغام يې حزقياه ته واورولو او يشعياه ورته دا هم
وفرمائيل، ”مالِک خُدائ به درته يوه نښه وښائى چې هغه به
خپله وعده پوره کوى. ۸ ګوره، زهٔ به د احاز د نمر د ګړئ
سورے لس قدمه وروستو بوځم.“ نو هم داسې وشول
سورے لس قدمه وروستو لاړو. ۹ کله چې حزقياه د
بيمارئ نه روغ شو، نو هغهٔ دا حمدوثناء وليکل، ۱۰ ما وئيل
چې د ژوند په ښهٔ دور کښې زهٔ د مړو دُنيا ته روان يم، زما د
ژوند باقى ټول کالونه زما نه اخستے شوى دى. ۱۱ ما وئيل
چې د ژوندو په دې دُنيا کښې به زهٔ بيا هيڅکله مالِک خُدائ
ونهٔ وينم او نهٔ به د دې دُنيا په اوسېدونکو کښې يو سړے
ووينم. ۱۲ زما ژوند په ختمېدو وو، د شپانو د هغه خيمې په
شان چې راکوزه کړے شوې وى، د هغه قالين په شان چې
مکمل کړے شوے وى او د کړئ نه کټ کړے شوے وى.
ما وئيل چې خُدائ پاک زما ژوند ختموى. ۱۳ ټوله شپه ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د درد په وجه چغې وهلې، دا داسې وُو لکه چې زمرے زما
هډُوکی ماتوی. ما وئيل چې خُدائ پاک زما ژوند ختموی.
۱۴ زما آواز نرے او کمزورے شوے وو، د طوطاګرکی او
بلبلې په شان مې چينګارے کولو، او د ګوګوشتکې په آواز
مې فرياد کولو. آسمان ته په کتلو سره زما سترګې سترې
شوې. اے مالِکه خُدايه، په ما باندې ظلم کيږی. زما مدد
وکړه. ۱۵ خو زهٔ څهٔ وئيلے شم؟ مالِک خُدائ ما سره
خبرې کړې دی او هغهٔ دا هر څهٔ په ما پخپله کړی دی. اوس
به زهٔ خپل ژوند په عاجزئ سره تېروم ځکه چې زهٔ په دې
پرېشانئ باندې غالب شوے يم. ۱۶ اے مالِکه خُدايه، ستا
تنبيه ښهٔ ده، ځکه چې هم دا انسان د صحت او ژوند طرف
ته بوځی. تهٔ ما روغ کړه او ژوندے مې پرېږده. ۱۷ يقيناً چې
دا سختی زما دپاره ښهٔ وه. ځکه چې تا زهٔ د مرګ نه بچ کړم
او زما ټول ګناهونه دې شاته وغورزول. ۱۸ خو په قبر کښې
هيڅ څوک ستا ثناء صِفت نهٔ شی کولے، مړی ستا د
وفادارئ طمع نهٔ شی لرلے. ۱۹ صرف ژوندی ستا ثناء
صِفت کولے شی، لکه څنګه چې زهٔ نن ستا ثناء صِفت کوم.
پلار خپلو بچو ته ستا وفاداری ښائی. ۲۰ مالِک خُدائ زما
روغولو ته تيار دے. مونږ به رباب غږوو او ستا ثناء صِفت
به کوُو، او چې ترڅو پورې مونږ ژوندی يُو نو ستا په کور
کښې به ستا ثناء صِفت کوُو. ۲۱ يشعياه د حزقياه نوکرانو
ته فرمائيلی وُو، ”د اينځر نه مرهم جوړ کړئ او په ناسور
يعنې دانه يې ورله وتړئ، نو هغه به روغ شی.“ ۲۲ او حزقياه
تپوس کړے وو، ”کومه نښه به دا ثابته کړی چې زهٔ به بيا د
مالِک خُدائ کور ته لاړ شم؟“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بابل پيغام وړُونکی

۳۹ ۱ تقريباً هم په هغه وخت د بابل بادشاه د بلدان
زوئ مرودکبلدان خبر شو چې حزقياه بادشاه بيمار وو او
اوس روغ شوے دے، نو مرودکبلدان ورله يو خط او يوه
تُحفه ولېږله. ۲ حزقياه پيغام وړونکو ته په خېر راغلے
ووئيل او هغوئ ته يې خپل سپين زر، سرهٔ زر، خپلې
مصالحې او قيمتی تيل او ټول فوجی سامان او وسله
وښودل. د هغهٔ د ګودام په کوټو کښې يا د هغهٔ د بادشاهۍ په
بل ځائ کښې هم داسې څهٔ پاتې نهٔ شول چې هغهٔ ورته
ښودلی نهٔ وُو. ۳ بيا يشعياه پېغمبر حزقياه بادشاه له لاړو
او تپوس يې ترې نه وکړو چې، ”دا سړی د کوم ځائ نه
راغلی دی او هغوئ تا ته څهٔ ووئيل؟“ حزقياه ورته وفرمائيل،
”هغوئ د يو لرې مُلک، بابل نه راغلی دی.“ ۴ هغهٔ ورته
وفرمائيل، ”هغوئ په محل کښې څهٔ وليدل؟“ حزقياه ورته
وفرمائيل چې، ”هغوئ هر څهٔ وليدل. د ګودام په کوټو کښې
داسې څهٔ نشته چې ما ورته ښودلی نهٔ وی.“ ۵ بيا يشعياه
بادشاه ته وفرمائيل، ”مالِک خُدائ ربُ الافواج داسې فرمائی،
۶ يو داسې وخت راروان دے چې ستا په محل کښې هر يو
څيز، چې ستا پلار نيکهٔ تر ننه پورې جمع کړی دی، نو هغه به
بابل ته يوړے شی. هيڅ به هم پاتې نهٔ شی. ۷ ستا د خپل
اولاد نه به څهٔ بوتلے شی او هغوئ به د دې دپاره خصيان
کړے شی چې د بابل بادشاه په محل کښې خِدمت کوی.“
۸ نو حزقياه بادشاه د دې په مطلب پوهه شو چې د هغهٔ په
ټول ژوند کښې به امن او سلامتيا وی، نو هغهٔ ورته وفرمائيل،
”تا چې ما له د مالِک خُدائ نه کوم پيغام راوړے دے هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بښهٔ دے.“

## د خُدائ پاک د خلقو دپاره تسلی

۴۰ ١ خُدائ پاک فرمائی، ”زما خلقو له تسلی ورکړئ،
زما خلقو له تسلی ورکړئ. ٢ د يروشلم خلقو سره ډيرې
په نرمه ژبه خبرې کوئ. او هغوئ ته ووايئ چې ستاسو د
خفګان ورځې ختمې شوې او اوس ستاسو ګناهونه معاف
شوی دی. ځکه چې د مالِک خُدائ د لاسه هغوئ ته د خپلو
ګناهونو يو په دوه سزا مِلاو شوې ده.“ ٣ په بيابان کښې د
نعرې وهونکی آواز دے، ”د مالِک خُدائ دپاره په بيابان کښې
لار جوړه کړئ. په صحرا کښې هغهٔ ته لارې نېغې کړئ. ۴
هره دره به ډکه شی، هره غونډۍ او غر به هوار شی. کاږهٔ به
نېغ کړے شی، او ناهمواره به هواره کړے شی. ۵ نو د
مالِک خُدائ جلال به راڅرګند شی، او ټول بنی آدم به هغه په
شريکه وګوری. مالِک خُدائ په خپله دا فرمائيلی دی.“ ۶
يو آواز ووئيل، ”چغه ووهه.“ نو ما تپوس وکړو، ”زهٔ څهٔ چغه
ووهم؟“ دا چې بنی آدم د واښو په شان دی، او د هغوئ
ښائست د ځنګلی ګل په شان دے. ٧ کله چې د مالِک
خُدائ هوا وچليږی نو واښهٔ اوچ شی او ګلونه مړاوی شی، نو
داسې دا د خلقو دپاره هم ده. ٨ نو، واښهٔ اوچ شی او
ګلونه مړاوی شی، خو د مالِک خُدائ کلام د هميشه دپاره
قائم وی. ٩ اے صيونه، يو اوچت غر ته وخېژه او اعلان
وکړه. اے يروشلمه، د اوچت آواز سره چغه ووهه، او يرېږئ
مهٔ. د يهوداه ښاريې ته ووايئ چې، ”ستاسو خُدائ پاک دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے راروان دے." ۱۰ ګورئ، مالِک خُدائ تعالىٰ لوئ
قدرت سره راروان دے، هغه به د طاقت سره حکومت
وکړی، د هغهٔ اجر د هغهٔ سره دے او د هغهٔ انعام د هغهٔ نه
مخکښې مخکښې روان دے. ۱۱ هغه به د يو شپون په شان
د خپلو ګډو ساتنه کوی، هغه به ګډُورى په خپل غيږ کښې
وړی او زړهٔ سره به يې نزدې نيولى وى او ګډې به يې ډېر په
خيال سره څان سره روانې کړې وى.

## د خُدائ پاک ثانى نشته

۱۲ سمندر څوک په موټی کښې نيولے شى، يا څوک
آسمان د لاسونو په ذريعه ناپ کولے شى؟ د زمکې د خاورې
وزن چا معلوم کړے دے يا څوک په تله غرونه او د غرونو
غونډۍ تللے شى؟ ۱۳ مالِک خُدائ ته څوک ښودلے شى
چې داسې کوه؟ هغهٔ ته څوک ښودنه کولے شى يا مشوره
ورکولے شى؟ ۱۴ ولې مالِک خُدائ ته د چا د مشورې
ضرورت وى څهٔ؟ چې ورته پوهه ورکړى او د صحيح کارونو
طريقه ورته وښائى؟ يا کله چا هغهٔ ته عِلم ورکړے دے چې د
ښهٔ عِلم تېرولو چل ورته وښائى؟ ۱۵ نه، يقيناً چې قومونه د
مالِک خُدائ دپاره هيڅ هم نهٔ دى، په بالټۍ کښې د اوبو د يو
څاڅکى يا په تله کښې د دوړې نه زيات نهٔ دى، هغه ټوله دُنيا
داسې اوچتوى لکه چې د شګې يوه دانه وى. ۱۶ د لبنان په
ځنګلو کښې ټول ځناور خُدائ پاک ته د قربانۍ کېدو دپاره
لږ دى، او د دې ځنګلونو ونې د سوزېدونکو نذرانو د اور
بلولو دپاره ډېرې کمې دى. ۱۷ د هغهٔ په وړاندې ټول قومونه
هيڅ هم نهٔ دى، د هغهٔ په نظر کښې هغوئ نشت دى، هيڅ څيز

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم نۀ دی. ۱۸ د خُدائ پاک مثال د چا سره ورکولے شی؟
تۀ به څنګه ووائې چې د هغۀ صورت څنګه دے؟ ۱۹ کاريګر
خو اول بُت جوړ کړی، بيا زرګر په هغې باندې سرۀ زر
وخېژوی او د سپينو زرو په زنځيرونو باندې يې ښائسته
کړی. ۲۰ کوم سړے چې سرۀ زر يا سپين زر نۀ شی
اخستلے هغه به داسې لرګی خوښوی چې نۀ ورَستيږی. هغه
يو ماهِر کاريګر لټوی چې يو داسې بُت جوړ کړی چې نۀ
غورزيږی. ۲۱ تا ته پته نشته څۀ؟ تا نۀ دی اوريدلی څۀ؟ تا
ته د شروع نه نۀ وُو وئيلے شوی څۀ؟ د دُنيا د شروع نه
واخله تر اوسه پورې تۀ پوهه نۀ شوې؟ ۲۲ خُدائ پاک د
زمکې نه بره په خپل تخت ناست دے، او هلته نه خلق لکه د
مُلخانو په شان ښکاری. هغۀ آسمان د پردی په شان خور
کړے دے، د هغه خېمې په شان چې د اوسېدو دپاره وی.
۲۳ هغه طاقتور حکمرانان راټيټوی او په نشت باندې يې
بدلوی. ۲۴ هغوئ د وړو بوټو په شان دی، چې اوس اوس
راشنۀ شوی وی او لړې لړې جرړې يې کړې وی. کله چې
مالِک خُدائ هوا راوليږی، نو دا اوچې شی او د خسنی په
شان والوځی. ۲۵ د هغه مقدس ذات مثال د چا سره
ورکولے شی؟ د هغۀ په شان بل څوک شته؟ ۲۶ آسمان ته
وګوره. تا له چې په نظر کوم ستوری راځی دا چا پيدا کړی
دی؟ دا هغه ذات دے چې دا يې د لښکر په شان روان کړی
دی، هغۀ ته پته ده چې دا ستوری څومره دی او هر يو ته
خپل خپل نوم اخلی. د هغۀ قوت دومره زيات دے، چې د
دې نه يو هم نۀ دے کم شوے. ۲۷ نو اے بنی اِسرائيلو،
تاسو شکايت ولې کوئ چې مالِک خُدائ ستاسو په تکليفونو
باندې خبر نۀ دے يا چې ستاسو سره بې‌اِنصافی کيږی نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو وایئ چې هغه ستاسو خیال نهٔ ساتی؟ ۲۸ تاسو ته پته
نشته څهٔ؟ تاسو اورېدلی نهٔ دی؟ چې مالِک خُدائ د همېشه
دپاره خُدائ پاک دے، هغهٔ ټوله دُنیا پېدا کړې ده. هغه
هیڅکله نهٔ ستړے کیږی او نهٔ ستومانه کیږی. او د هغهٔ د
حکمت خاتمه نشته. ۲۹ هغه کمزورو او ستړو له طاقت
ورکوی. ۳۰ نو ځوانان هم ستړی ستومانه شی، او خراب
راوغورزیږی. ۳۱ خو چې څوک په مالِک خُدائ باندې یقین
ساتی نو هغوئ ته به یو نوے طاقت مِلاو شی. هغوئ به داسې
اوچت الوځی لکه چې د باز وزر ورته لګېدلی وی، هغوئ به
منډه وهی او نهٔ به ستړی کیږی، هغوئ به پېدل ګرځی او نهٔ به
ستومانه کیږی.

## د خُدائ پاک د بنی اِسرائیلو اعتباری کول

۴۱ ۱ اے د لرې مُلکونو خلقو، خاموشۍ سره ما ته
غوږ ونیسئ. تیار شئ چې په عدالت کښې خپله مقدمه پېش
کړئ، تاسو ته به د خبرو کولو موقع مِلاو شی. راځئ چې په
یو ځائ دا فېصله وکړُو چې څوک په حقه دی. ۲ هغه
څوک وو چا چې فتح کوونکے د نمرخاتهٔ نه راوستلو، او چې
چرته هم تلو نو هغهٔ له به یې فتح ورکوله؟ هغهٔ له به په قومونو
او بادشاهانو چا فتح ورکوله؟ د هغهٔ تُورې به هغوئ داسې
وهل لکه چې خاوره وی. د هغهٔ غشو به هغوئ د بوسو په
شان خوارهٔ وارهٔ کړل. ۳ هغه ورپسې دے او بښهٔ په خیر
سره روان دے، دومره تېز دے چې پښې یې په زمکه پوره نهٔ
لګیږی. ۴ هغه څوک دے چې داسې یې وکړل؟ څوک دے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د شروع پیړۍ په پیړۍ آوازونه کوی؟ زۀ، مالِک خُدائ د
ابتدا نه موجود یم، او په انتها کښې به هم موجود یم. ۵ د
لرې مُلکونو خلقو دا لیدلی دی او یرېدلې دی، د دُنیا لرې
علاقې لړزیږی. او هغوئ یو بل ته راجخت شی او رانزدې
شی. ۶ هغوئ د یو بل مدد کوی او یو بل ته وائی چې،
”حوصله وکړئ.“ ۷ ترکاڼ د زرګر حوصله افزائی کوی،
او څوک چې بُت په ټکولو باندې هواروی د هغه سړی
حوصله افزائی کوی څوک چې دا په مېخونو یو ځائ کوی
او وائی، ”اوس ټیک دے.“ او بیا دا بُت هغوئ په مېخونو
باندې مضبوطوی چې ونۀ غورزیږی. ۸ خو اے زما
خِدمتګاره، بنی اِسرائیله، زما د دوست اِبراهیم اولاده. تاسو
هغه خلق یئ چې ما غوره کړی یئ، ۹ تاسو ما د دُنیا د
سرونو نه راوستلئ، ما تاسو د دې لرې ګوټونو نه راوغوښتلئ
او ما تاسو ته وفرمائیل، ”تاسو زما خِدمت کوونکی یئ. ما
تاسو غوره کړئ او رد مې نۀ کړئ.“ ۱۰ یرېږئ مۀ، زۀ
ستاسو مل یم. زۀ ستاسو خُدائ پاک یم، د څۀ نه هم مۀ
وارخطا کېږئ. زۀ به تاسو مضبوط کړم او طاقت به درکړم،
زۀ به په خپل زورَور ښی لاس سره ستاسو حِفاظت کوم.
۱۱ څوک چې تاسو ته غصه وی نو د شکست د شرم سره
به مخ شی. څوک چې درسره جنګ کوی نو هغوئ به نیست
و نابود شی. ۱۲ تاسو به هغه ظالمان دشمنان لټوئ، خو
پیدا به یې نۀ کړئ ځکه چې هغوئ به د زمکې د مخ نه ورک
شی. ۱۳ زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم، زۀ تاسو
تکړه کوم او درته وایم چې، ”مۀ یرېږئ، زۀ به ستاسو مدد
کوم.“ ۱۴ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے بنی اِسرائیلو، تاسو
واړۀ او کمزوری یئ، خو یرېږئ مه، زۀ به ستاسو مدد کوم.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زهٔ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات یم، زهٔ هغه هستی یم څوک چې
تاسو بچ کوی. ۱۵ ګورئ، زهٔ به تاسو د درمند د تختې په
شان جوړ کړم، چې غاښونه یې تېرهٔ وی. تاسو به غرونه ذرې
ذرې کوئ او تباه کوئ به یې، د غرونو غونډۍ به لکه د بوسو
په شان شی. ۱۶ تاسو به دا هوا ته ؤلئ، باد به دا اخوا وړی،
او طوفان به یې خوارهٔ وارهٔ کوی. نو بیا به تاسو خوشحاله
یئ ځکه چې زهٔ ستاسو مالِک خُدائ یم، تاسو به زما ثناء
صِفت کوئ، ځکه چې زهٔ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات یم. ۱۷
کله چې غریبانان او ضرورتمند اوبهٔ لټوی، خو مومی یې نه،
او د هغوئ مرۍ د تندې نه اوچې شی، نو بیا به زهٔ، مالِک
خُدائ د هغوئ سوال قبول کړم، زهٔ، د بنی اِسرائیلو خُدائ
پاک به هغوئ هیڅکله پرې نهٔ ږدم. ۱۸ زهٔ به د خُشکو غرونو
په مینځ کښې سیندونه روان کړم او په وادیانو کښې به د اوبو
چینې روانې کړم. زهٔ به صحرا د اوبو په تالابونو بدله کړم او
اوچه زمکه به په بهېدونکو چینو بدله کړم. ۱۹ زهٔ به په
صحرا کښې د دِیار ونې راشنې کړم، او د کیکر، د سر درو
ونې او د زیتُونو ونې به راشنې کړم. په خُشک مُلک کښې به
ځنګل راوټوکیږی، د نخترو، د صُندل د ونو او د سبر ونو
ځنګل به راوټوکیږی. ۲۰ زهٔ به دا د دې دپاره کوم چې خلق
دا وګوری او پوهه شی، چې هغوئ پرې غور وکړی او پته
ورته ولګی چې د مالِک خُدائ قوت دا کړی دی. او د بنی
اِسرائیلو مقدس ذات دا پېدا کړی دی.“

## د بُتانو څهٔ حیثیت نهٔ وی

۲۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”تاسو د خپلو معبودانو په حق

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې معامله وړاندې کړئ.“ د اِسرائيل بادشاه فرمائی، ”خپل
ښۀ دليلونه پېش کړئ. ۲۲ راشئ او پېشګوئي ورکړئ چې
څۀ به کيږی، نو چې پته راته ولګی کله به داسې وشی. عدالت
ته د تېرې زمانې واقعاتو وضاحت وکړئ، او مونږ ته ووايئ
چې د دې څۀ مطلب دے. ۲۳ مونږ ته ووايئ چې په
راتلونکی وخت کښې به څۀ کيږی، نو بيا به مونږ ته پته ولګی
چې تاسو خدايان يئ. څۀ نه څۀ خو وکړئ کنه کۀ هغه ښۀ
وی او کۀ بد، چې مونږ ګبراؤ شُو او ويريږو. ۲۴ خو تاسو
هيڅ هم نۀ يئ او ستاسو کار هم فضول دے، څوک چې تاسو
غوره کړی هغوئ د نفرت قابل دی. ۲۵ ما يو سړے د
شمال طرف نه راپارولے دے نو هغه راروان دے، هغه زما د
نوم درناوے کوی او هغه د نمرخاتۀ طرف نه راروان دے.
هغه به په حکمرانانو داسې ګرځی لکه چې په ختو ګرځی
داسې لکه چې کُلال په خټه پښې بږدی. ۲۶ د شروع نه چا دا
اعلان وکړو نو چې مونږ ته به پته وے؟ د اول نه چا د دې
پېشګوئي وکړه چې مونږ ووايو چې هغه صحيح دے؟ هيچا
هم د دې اعلان او پېشګوئي نۀ ده کړې. هيچا هم ستا يوه
خبره هم نۀ ده اورېدلې. ۲۷ اول ما صيون ته د دې اعلان
وکړو، او ما يروشلم ته د خوشخبرئ پېغام وړُونکی ولېږل.
۲۸ خو ما په معبودانو کښې داسې يو هم ونۀ ليدلو چې ما له
مشوره راکړی، او په دوئ کښې يو هم نشته چې زما د سوال
جواب راکړی. ۲۹ ګورئ، دا ټول معبودان بېکاره دی،
هغوئ هيڅ هم نۀ شی کولے، دا بُتان هسې تش کدوان دی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د مالِک خُدائ خِدمت کوونکے

۴۲ ۱ دا زما خادِم دے چا ته چې ما طاقت ورکړے
دے او څوک چې ما غوره کړے دے، زما محبوب چې روح
مې پرې خوشحاله دے. ما خپل روح په هغۀ سورے کړے
دے، او هغه به غېرو قومونو ته اِنصاف رسوی. ۲ هغه به
نۀ جنګ کوی، نۀ شور، او نۀ به په کوڅو کښې د هغۀ آواز
اورېدے شی. ۳ هغه به یوه کړه لوخه هم نۀ ماتوی او نۀ به
کمه بلېدونکې ډیوه مړه کوی. هغه به په وفادارئ سره
اِنصاف قائم ساتی. ۴ هغه به نۀ بې‌حوصلې کېږی او نۀ به
نااُمیده کېږی، هغه به په زمکه اِنصاف قائم کړی. لرې لرې
مُلکونه به د هغۀ د تعلیماتو په انتظار وی. ۵ خُدائ پاک
آسمانونه پیدا کړل او خوارۀ یې کړل، هغۀ زمکه او چې په دې
کښې هر څۀ اوسېږی هغه یې پیدا کړل، هغۀ د زمکې ټولو
خلقو له ساه او ژوند ورکړو. او اوس خُدائ پاک خپل
خِدمت کوونکی ته وائی، ۶ ”ما، مالِک خُدائ صداقت
سره راوغوښتې، زۀ به تا د لاس نه ونیسم او محفوظ به دې
ساتم. ستا په ذریعه به زۀ د ټولو خلقو سره یو لوظ وکړم، او
ستا په ذریعه به زۀ قومونو له رڼا راوړم. ۷ تۀ به د ړندو
سترګې وغړوې او هغه خلق به آزاد کړې چې کوم د قېدخانې
په تیارۀ کښې پراتۀ دی. ۸ زۀ مالِک خُدائ یم. او هم دا زما
نوم دے. زۀ به خپل جلال بل هیچا ته نۀ ورکوم، او زما په
ثناء صِفت کښې به بُتانو ته هیڅ برخه نۀ ملاوېږی. ۹ ما
چې د کومو خبرو پیشګوئې کړې وه هغه رښتیا شوې دی. او
اوس زۀ تاسو ته د نوؤ واقعو اعلان کوم. اوس به زۀ تاسو ته
نوی خیزونه وښایم چې دا لا شوی هم نۀ وی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## يو د ثناء صِفت، حمد

١٠ مالِک خُدائ ته يو نوے حمد ووايئ، اے ټولې دُنيا، د
هغهٔ ثناء صِفت بيان کړئ. اے په سمندر کښې مسافرانو او د
سمندر ټول مخلوقه، د هغهٔ ثناء صِفت کوئ. اے لرې مُلکونو
او په هغې کښې اوسېدونکو خلقو، د هغهٔ حمد ووايئ. ١١
صحرا او د دې ښارونه دې د خُدائ پاک ثناء صِفت کوی، د
قيدار د کلو خلق دې د هغهٔ ثناء صِفت کوی. او څوک چې د
سلع په ښار کښې اوسيږی هغوئ دې د غرونو د سرونو نه د
خوشحالئ چغې ووهی. ١٢ کوم خلق چې په لرې مُلکونو
کښې اوسيږی هغوئ دې د مالِک خُدائ ثناء صِفت او جلال
بيان کړی. ١٣ مالِک خُدائ د يو جنګيالی په شان جنګ له
ځی، هغه به لکه د فوجی په شان جذبه کښې راشی او د جنګ
نعرې به وهی او د خپلو دشمنانو خِلاف به خپل طاقت ښائی.
١٤ خُدائ پاک فرمائی، "زهٔ د ډېر وخت نه خاموش وم، زهٔ
د ډېر وخت نه چُپ وم نو غږ مې نهٔ کولو. خو اوس زهٔ د
داسې ښځې په شان يم چې فرياد کوی او چغې وهی لکه چې
ماشوم يې پېدا کيږی او ساه ساه يم. ١٥ زهٔ به غرونه او د
غرونو غونډئ تباه کړم او واښهٔ او ونې به اوچې کړم. زهٔ به د
سيندونو نه اوچې زمکې جوړې کړم او د اوبو تالابونه به يې
اوچ کړم. ١٦ زهٔ به خپل ړاندهٔ خلق روان کړم په هغه لار به
يې بوځم چې هغوئ پرې هيڅکله سفر نهٔ وی کړے. زهٔ به د
هغوئ وړاندې تيارهٔ په رڼا بدله کړم او د هغوئ مخې ته هغه
کندې کَپرې زمکه به هواره کړم. دا زما وعدې دی، او دا
وعدې به زهٔ پوره کړم. ١٧ خو هر څوک چې په بُتانو ايمان
لری، او ورته وائی چې تاسو زمونږ خُدايان يئ، نو هغوئ به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سخت وشرمیږی او رد به کړے شی."

## د بنی اِسرائیلو نۀ پوهېدل

۱۸ اے کنو خلقو، واورئ. اے ړندو خلقو، ښۀ وګورئ.
۱۹ زما د خِدمت کوونکی په شان ړوند څوک دے؟ زما د
پېغمبر په شان کُوڼ څوک دے څوک چې زۀ درلېږم؟ اګر
چې ما هغۀ سره لوظ کړے دے خو بیا هم د مالِک خُدائ د
خادِم په شان ړوند څوک نشته. ۲۰ اګر چې تاسو ډېر څۀ
لیدلی دی، خو تاسو څۀ توجو نۀ ده ورکړې، اګر چې ستاسو
غوږونه خبره واوری، خو تاسو یې نه اورئ. ۲۱ مالِک
خُدائ د خپل صداقت د خاطره خوشحاله وو، چې خپل
شریعت لوئ کړی او جلال ورکړی. ۲۲ خو اوس د هغۀ
خلق لوټ کړے شوی او شوکېدلی دی، هغوئ ټول په کندو
کښې ګېر کړے شوی دی او په قېدخانو کښې اچولے شوی
دی. هغوئ نه د لوټ مال جوړ شوے دے، خو د هغوئ بچ
کولو له هیڅ څوک هم رانۀ غلل. هغوئ نیولے شوی دی خو
هیچا هم ونۀ وئیل چې، "دوئ واپس کړئ." ۲۳ په تاسو
کښې به څوک دې ته غوږ ونیسی؟ د راتلونکی وخت دپاره به
څوک دې ته پام وکړی؟ ۲۴ اِسرائیلیان لوټ مارانو او
ډاکوانو ته چا حواله کړل؟ ولې دا مالِک خُدائ ونۀ کړل، د
چا خِلاف چې مونږ ګناه کړې ده؟ هغوئ د هغۀ په لاره باندې
تلو نه اِنکار وکړو، هغوئ د هغۀ د شریعت نافرمانی وکړه.
۲۵ نو په دې وجه هغۀ هغوئ ته د خپلې غصې زور وښودلو
او د جنګ سختی یې ورباندې راوسته. د هغۀ غصه په ټول
اِسرائیل کښې د اور په شان بلیده، خو هغوئ ته هیڅ پته نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لګېده چې څۀ کيږی، دا د هغوئ خلاف بلېده خو هغوئ ترېنه
هيڅ سبق وانۀ خستو.

## د خُدائ پاک د خپلو خلقو د بچ کولو وعده کول

۴۳
۱ اے بنی اِسرائيلو، هغه مالِک خُدائ چا چې تاسو
پېدا کړی يئ هغه فرمائی چې، ”يرېږئ مه، ځکه چې ما تاسو
په بيعه اخستی يئ. ما تاسو ته په نوم آواز کړے دے، تاسو
زما يئ. ۲ کله چې تاسو د سمندر په ژورو اوبو کښې
روان يئ، نو زۀ به ستاسو مل يم، کله چې تاسو د سمندرونو
نه تېرېږئ نو ډوبېږئ به نه. کله چې تاسو په اور کښې
تېرېږئ، نو تاسو به نۀ سوزئ، او د اور شُغلې به تاسو ته
نقصان نۀ درکوی. ۳ زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
يم، زۀ د بنی اِسرائيلو هغه مقدس ذات يم، چې ستاسو
خلاصونکے يم. ستاسو د آزادولو دپاره زۀ مِصر ورکوم،
ستا په ځائ زۀ ايتهوپيا او سِيبا ورکوم. ۴ زما په نظر
کښې تاسو قيمتی او عزتمند يئ، او تاسو په ما ګران يئ. نو په
دې وجه به زۀ ستاسو په ځائ خلق ورکړم او ستاسو د ژوند
په بدله کښې به زۀ قومونه ورکړم. ۵ يرېږئ مه، زۀ ستاسو
مل يم. زۀ به تاسو او ستاسو خلق د نمرخاتۀ طرف نه او د
نمرپرېواتۀ طرف نه راغونډ کړم. ۶ زۀ به شمال ته ووايم
چې هغوئ پرېږده چې لاړ شی او جنوب ته به ووايم چې
هغوئ مۀ ايساروه. زما زامن د لرې مُلکونو نه واپس راوله،
زما لوڼه د زمکې د هر سر نه واپس راوله. ۷ هغه څوک
چې زما خپل خلق دی، کوم چې ما د دې دپاره پېدا کړی دی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زما د جلال سبب جوړ شی.“ ۸ هغه خلق راولئ د چا
چې سترګې شته، خو هغوئ ړاندۀ دی، د چا چې غوږونه
شته، خو هغوئ کاڼۀ دی. ۹ قومونه دې راغونډ شی. د
هغوئ د معبودانو نه کوم یو د راتلونکی وخت پېشګوئې
ورکولے شی؟ چې څۀ اوس کیږی نو کوم یو د دې په حقله
مخکښې وئیلی وُو؟ هغه معبودان دې د دې ګواهان راولی چې
دا ثابت شی چې هغوئ په حقه دی، او چې ګواهی ورکړی
چې د هغوئ خبرې رښتیا دی. ۱۰ مالِک خُدائ وفرمائیل،
”اے بنی اِسرائیلو، تاسو زما ګواهان یئ، زما خِدمت کوونکی
یئ او ما غوره کړی یئ چې تاسو ما وپېژنئ او په ما به ایمان
ولرئ او پته درته ولګی چې صرف زۀ خُدائ پاک یم. زما نه
بغېر بل یو خُدائ هم نشته، نۀ د دې نه مخکښې وو او نۀ به د
دې نه وروستو وی. ۱۱ زۀ، صرف زۀ مالِک خُدائ یم، او
زما نه بغېر بل څوک خلاصونکے نشته. ۱۲ هم ما ستاسو د
خلاصون اعلان وکړو او تاسو ته مې خلاصون درکړو، او
دُنیا ته مې ښکاره کړو. او ستاسو په مینځ کښې بل یو غېر
معبود هم داسې څۀ نۀ دی کړی، څۀ چې ما کړی دی.“
مالِک خُدائ فرمائی، ”تاسو زما ګواهان یئ چې زۀ خُدائ
پاک یم. ۱۳ زۀ خُدائ پاک یم او د همېشه دپاره به یم. زما د
طاقت نه هیڅ څوک هم نۀ شی بچ کېدلے، زۀ چې کوم کار
کوم نو هغه څوک ایسارولے شی؟“

## د خُدائ پاک د فتحې لوظ

۱۴ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات، هغه مالِک خُدائ چا چې
تاسو بچ کړئ هغه فرمائی، ”ستاسو د بچ کولو دپاره، زۀ به د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بابل خِلاف يو لښکر درولېږم، زۀ به د ښار دروازې
راوغورزوم، او د دې د خلقو د خوشحالئ چغې به په ژړا
بدلې شی. ۱۵ زۀ مالِک خُدائ، ستاسو مقدس خُدائ پاک
يم. زۀ د بنی اِسرائيلو خالق ستاسو بادشاه يم.“ ۱۶ مالِک
خُدائ فرمائی، ”ما په سمندر کښې يوه لار جوړه کړه، او د
زورَورو اوبو په مينځ کښې مې يوه لار جوړه کړه.“ ۱۷ هغهٔ
يو طاقتور لښکر د تباهئ طرف ته بوتلو، يو داسې لښکر چې
جنگی گاډئ او آسونه يې لرل. هغوئ پرېوتل او بيا را پا نهٔ
څېدل، او د ډيوې د لمبې په شان ختم شول. ۱۸ ”د تېر
شوی وخت په واقعاتو پورې مهٔ انښلئ او چې څهٔ وړاندې
شوی وی نو د هغې خيال د زړهٔ نهٔ وباسئ. ۱۹ زۀ چې کوم
نوی کارونه کوم نو هغې ته گورئ. هغه اوس شروع کېدو والا
دی، تاسو يې نهٔ وينئ څهٔ؟ زۀ به په بيابان کښې يوه لار جوړه
کړم او هلته به د اوبو نِهرونه جوړ کړم. ۲۰ ځنگلی ځناور،
گيدړان او شترمرغ به زما درناوے کوی، ځکه چې زۀ به په
بيابان کښې اوبهٔ ورکوم او په صحرا کښې به سيندونه روان
کړم د دې دپاره چې خپلو خلقو له اوبهٔ ورکړم. ۲۱ دا هغه
خلق دی څوک چې ما د خپل ځان دپاره پېدا کړی دی، چې
هغوئ زما ثناء صِفت وکړی.“

## د مالِک خُدائ خپل خلق بلل

۲۲ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے بنی اِسرائيلو، ستاسو زړهٔ
زما نه موړ شوے دے، او تاسو زما عبادت ونهٔ کړو. ۲۳
تاسو ما له د گډو خپلې سوزېدونکې نذرانې رانهٔ وړلې، تاسو
د قربانو سره زما درناوے ونهٔ کړو. په تاسو مې بوج وانهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چولو چې نذرانې مې درنه غوښتے وے او تنګ مې نۀ کړې
چې خوشبودارې مصالحې مې درنه غوښتے وے. ۲۴ تاسو
زما دپاره خوشبودارې مصالحې وانۀ خستلې او نۀ مو د
خپلو څناورو د وازګې سره خوشحاله کړم. خو تاسو په ما
باندې ستاسو د ګناهونو بوج کېښودو، تاسو چې کوم بد عمل
کړے دے د هغې په وجه مو تنګ کړے يم. ۲۵ آو، زۀ هم
هغه خُدائ پاک يم چې د خپل ځان په خاطر ستاسو په
جرمونو پرده اچوم او ستاسو ګناهونه د خپل ذهن نه وباسم.
۲۶ راځئ چې عدالت ته لاړ شُو، خپل اِعتراض بيان کړئ.
خپله خبره پېش کړئ چې ثابته شى چې تاسو په حقه يئ. ۲۷
ستاسو پلار نيکۀ ګناه وکړه، او ستاسو مشرانو زما خِلاف
بغاوت وکړو، ۲۸ نو په دې وجه به زۀ د مقدس ځائ مشران
رسوا کړم او زۀ به بنى اِسرائيليان مکمل تباهۍ او شرم دپاره
مخصوص کړم.“

## د بنى اِسرائيلو دپاره د خُدائ پاک برکتونه

۴۴ ۱ مالِک خُدائ فرمائى، ”اے بنى اِسرائيلو، زما
خِدمت کوونکو، اے د يعقوب اولاده، اے زما غوره کړے
شوو خلقو اوس ماته غوږ ونيسئ. ۲ زۀ هغه مالِک خُدائ
يم چا چې تاسو پېدا کړى يئ، د کوم وخت نه چې تاسو پېدا
شوى يئ نو زۀ ستاسو مدد کوم. اے يعقوبه زما خادِمه،
يرېږه مه، اے بنى اِسرائيله، تۀ ما غوره کړے يې، يرېږه مه.
۳ زۀ به ترى مُلک له اوبۀ ورکړم او په اوچه زمکه به
نِهرونه روان کړم. زۀ به ستاسو په بچو خپل روح نازل کړم
او ستاسو په اولاد به خپل برکتونه نازل کړم. ۴ هغوئ به د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داسې واښو په شان ترقي کوي چې سيرابه وي، د هغه
خاروَلو ونو په شان چې د اوبو د روانو نِهرونو په غاړه شوې
وي. ۵ خلق به وار په وار وائي چې، زۀ د مالِک خُدائ يم.
هغوئ به راشي چې د بني اِسرائيلو سره ملګرې شي. په
هغوئ کښې به ځينې په خپل لاس د مالِک خُدائ نوم وليکي
او خپل ځان به د خُدائ پاک د خلقو نه يو کس ګڼي.“ ۶
مالِک خُدائ، څوک چې په بني اِسرائيلو حکومت کوي او د
بني اِسرائيلو حِفاظت کوي، هغه مالِک خُدائ ربُ الافواج
داسې فرمائي، ”زۀ اولين او زۀ آخرين يم، زما نه بغير بل يو
خُدائ هم نشته. ۷ زما په شان څوک دې؟ هغه دې آواز
وکړي او خپل دليلونه دې پېش کړي. هغوئ دې په ترتيب
سره ووائي څۀ چې د پخوا نه شوي دي چې کله ما خپل قوم
قائم کړو. هغوئ دې د راتلونکي وخت د خبرو اعلان وکړي
چې څۀ به کيږي. ۸ مۀ يرېږئ، چې ونۀ يرېږئ. ولې ما
تاسو ته ډېر مخکښې نۀ وُو وئيلي چې څۀ به کيږي؟ تاسو زما
ګواهان يئ. بل خُدائ پاک شته څۀ؟ بل د پناه ځائ نشته چې
زۀ ترې نه خبر يم.“

## بُتان هيڅ هم نۀ شي کولے

۹ هر څوک چې بُتان جوړوي نو هغوئ هيڅ هم نۀ دي او
چې کومو څيزونو ته هغوئ ډېر زيات خوشحاليږي هغه
بې‌فائدې دي. د بُت پرستانو نۀ خو سترګې شته او نۀ پکښې
عقل شته خو آخر به هم د شرم سره مخ شي. ۱۰ هغه څوک
دے چې ځان له يوه مجسمه يا بُت جوړوي او د هغې به ورته
هيڅ فائده نۀ وي؟ ۱۱ ګورئ، هغوئ او د هغوئ ټول ملګري

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به وشرمیږی. کوم خلق چې بُتان جوړوی هغوئ صرف
انسانان دی. هغوئ دې راشی او په عدالت کښې دې پیش
شی، هغوئ به ویرېږی او د شرم سره به مخ شی. ۱۲ لوهار
د اوسپنې یوه ټکړه واخلی او د سکروټو په ذریعه په دې
باندې کار کوی. هغه د متو زور سره ټک وهی او د دې نه
یو بُت جوړ کړی. هغه اوږے شی او د لوږې نه یې طاقت
جواب ورکړی او د تندې نه یې رنګ زیړ شی. ۱۳ ترکاڼ د
لرګی ناپ واخلی. هغه په دې باندې کرښې وهی، دا لرګے د
خپل آوزار سره وتراشی او د یو بنی آدم شکل ترې نه جوړ
کړی، چې د یو انسان په شان ښائسته صورت لری، د دې
دپاره چې په یو بُتخانه کښې یې ولګوی. ۱۴ کاریګر د دِیار
ونې ووهی چې د هغې نه کار واخلی، یا د ځنګل د څېړۍ ونه
یا د دِیار ونه خوښه کړی. یا هغه د نختر ونه وکَری او د باران
سره دا را غټه شی. ۱۵ یو کس به د ونې څۀ حِصه د
خشاک دپاره استعمال کړی او د څۀ حِصې نه به یې اور بل
کړی چې خپل ځان پرې تود کړی او روټۍ وربانديې پخه
کړی. او دا هم یو حقیقت دے چې د څۀ حِصې نه به یې یو
بُت جوړ کړی او عبادت به یې کوی. ۱۶ هغه د څۀ لرګو نه
اور بل کړی، هغه وربانديې غوښه سره کړی، وې خوری او
موړ شی. هغه وربانديې خپل ځان تود کړی او وائی، ”دا
خومره تود او زبردست اور دے.“ ۱۷ کوم لرګے چې پاتې
شی نو د هغې نه یو بُت جوړ کړی او بیا ورته هغه ټیټېږی او
عبادت یې کوی. هغه دې ته سوال کوی او ورته وائی، ”تۀ زما
خُدائ یې، تۀ ما بچ کړه.“ ۱۸ داسې خلقو ته هیڅ پته نۀ وی
او نۀ په څۀ پوهېږی. د هغوئ په سترګو او زړونو باندې پرده
پرته وی، نو په دې وجه نۀ هغوئ څۀ وینی او نۀ په څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوهيږى. ١٩ د بُتانو جوړونکى دومره عقل او پوهه نۀ لرى
چې سوچ پرې وکړى چې، ”څۀ لرګى ما وسوزول. د څۀ سره
مې روټئ پخه کړه او د دې په سکارو مې غوښه سره کړه او
ومې خوړه. نو د دې پاتې لرګى نه به زۀ بُت جوړوم او دې ته
به زۀ سجده کوم؟“ ٢٠ دا داسې دى لکه چې څوک ايرې
خورى. هغه خپلو کم عقلو سوچونو بې‌لارې کړے دے. هغه
به په خپل زړۀ کښې دا خبره هم نۀ اچوى چې، ”زما په لاس
کښې چې کوم بُت دے هغه په رښتيا خُدائ نۀ دے.“

## مالِک خُدائ پېدا کوونکے او خلاصونکے دے

٢١ مالِک خُدائ فرمائى، ”اے بنى اِسرائيلو، دا خبره ياده
ساتئ، تاسو زما خِدمت کوونکى يئ. ما تاسو د دې دپاره پېدا
کړئ چې زما خِدمت کوونکى يئ، او زۀ به تاسو هيڅکله نۀ
هېروم. ٢٢ ما ستاسو ګناهونه د وريځې په شان لرې کړې
دى. ما ستاسو ګناهونه داسې لرې کړې دى لکه چې نمر
سخت دُهند لرې کوى. ما له راواپس شئ، زۀ هغه ذات يم
څوک چې تاسو بچ کوى.“ ٢٣ اے آسمانونو، د خوشحالئ
نه چغې ووهئ، ځکه چې مالِک خُدائ هر څۀ وکړل. د زمکې
ژورو ځايونو، چغې ووهئ. غرونو او د ځنګل هرې ونې، د
خوشحالئ نه چغې ووهئ. مالِک خُدائ خپل خلق بنى
اِسرائيليان بچ کړل او خپله لوئى يې وښودله. ٢٤ مالِک
خُدائ ستاسو خلاصونکے فرمائى، ”زۀ هغه ذات يم چا چې
تاسو پېدا کړى يئ. زۀ مالِک خُدائ يم، ما دا هر خيز پېدا
کړے دے. ما په يواځې ځان په زمکه باندې آسمانونه
ودرول، او زمکه مې پخپله خوره کړه. ٢٥ زۀ د دروغو نبوت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوونکی دروغژن ثابتوم، او د فالګرو نه کم عقلان جوړوم. زۀ
د هوښیارانو خلقو خبرې غلطې ثابتوم او د هغوئ حِکمت په
کم عقلتوب بدلوم. ۲۶ زۀ د خپلو خِدمت کوونکو پېشګویانې
پوره کوم او د خپلو پېغمبرانو منصوبې سر ته رسوم. زۀ د
یروشلم په حقله وایم چې خلق به بیا هلته اوسیږی، او د
یهوداه ښارونو ته وایم چې دا به بیا جوړ شی. او دا به د
کنډرو نه په ښارونو بدل شی. ۲۷ هم زۀ ژور سمندر ته حُکم
ورکوم چې، اوچ شه، زۀ ستا ژوروالے اوچوم. ۲۸ زۀ
خورس ته وایم، تۀ زما شپون یې، تۀ به هغه کار کوې چې څۀ
درته زۀ وایم یعنې، تۀ به حُکم ورکړې چې یروشلم دې بیا
جوړ شی او د خُدائ پاک د کور بنیادونه دې واچولے شی.“

## د خُدائ پاک د خورس مقررول

۴۵ ۱ مالِک خُدائ خپل غوره کړے شوے خادِم
خورس ته فرمائی، ”ما ستا ښے لاس نیولے دے، نو څکه
چې تۀ هر چرته ځې هلته به قومونه ستا تابع کړم، د
بادشاهانو زور به ختم کړم، د ښارونو دروازې به ستا دپاره
کولاو کړم او بندوم به یې نه. ۲ زۀ به په خپله ستا نه
وړاندې ځم، او غرونه به درته هوار کړم. زۀ به د زېړو
دروازې راوغورزوم او د دې د اوسپنې سیخونه به ټوټې ټوټې
کړم. ۳ زۀ به تا له د تورې تیارې او د پټو ځایونو نه خزانې
درکړم، نو بیا به تا ته پته ولګی چې زۀ مالِک خُدائ یم، او
چې د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک یم څوک چې تا ته په نوم آواز
کوی. ۴ زما د خِدمت کوونکو او غوره کړے شوو بنی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيلو د خاطره، زۀ تا ته په نوم آواز کوم او تا له مې د
لوئ عزت لقب درکړے دے، اګر چې تۀ ما نۀ پېژنې. ۵ زۀ
مالِک خُدائ يم، بل يو خُدائ هم نشته. زۀ تا له طاقت
درکوم، اګر چې تۀ ما نۀ پېژنې. ۶ دا زۀ د دې دپاره کوم
چې د دُنيا د يو سر نه تر بل سره پورې هر چا ته پته ولګی
چې زۀ مالِک خُدائ يم او بل يو خُدائ هم نشته. ۷ زۀ رڼا
او تيارۀ دواړه پېدا کوم، سلامتی او بربادی دواړه زۀ راولم.
زۀ، مالِک خُدائ دا هر څۀ کوم. ۸ اے آسمانه باران
ووروه او زمکه تازه کړه. اے وريځو، صداقت راوروئ.
زمکه دې دا جذب کړی چې خلاصون راوټوکيږی او دې
سره صداقت هم راوټوکيږی. ما، مالِک خُدائ دا پېدا کړی
دی."

## د پېدايښت او د تاريخ مالِک خُدائ

۹ په هغۀ باندې افسوس چې د خپل خالق سره جګړه
کوی، هغه داسې دے لکه چې د ماتو لوښو يو ټيکرے وی.
ولې خټه د کُلال نه تپوس کوی څۀ چې، "تۀ څۀ جوړوې؟"
ولې ستا کوم جوړ شوے څيز ستا په حقله شکايت کوی
څۀ؟ د هغۀ هيڅ اختيار نشته. ۱۰ په هغۀ باندې افسوس چې
خپل پلار ته وائی چې، "زۀ دې ولې پېدا کړم؟" يا خپلې مور
ته ووائی چې، "تا ولې زۀ داسې جوړ کړم؟" ۱۱ مالِک
خُدائ، د بنی اِسرائيلو مقدس ذات، کوم ذات چې هغوئ پېدا
کړی دی، هغه وائی، "تاسو څنګه زما د بچو په حقله ما نه
تپوس کولے شئ؟ څۀ چې ما جوړ کړی دی د هغې په حقله
تاسو څنګه ما له حُکم راکولے شئ؟ ۱۲ زۀ هغه ذات يم چا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زمکه پيدا کړه، ما بنی آدم پيدا کړل چې هلته اوسيږی.
ما د خپل طاقت په ذريعه آسمانونه خوارهٔ کړل، او هم ما په
آسمان کښې ټول ستوری جوړ کړل. ۱۳ ما په خپله خورس
راپاڅولے دے چې واک اختيار په لاس کښې واخلی او زما
مقصد پوره کړی او کارونه سم کړی. زهٔ به هم د هغهٔ ټولې
لارې سيدها کوم. هغه به زما ښار بيا جوړ کړی، او زما خلق
به د قېد نه آزاد کړی. هغه به دا هر څهٔ مفت کوی، نهٔ به
پېسې اخلی او نهٔ تحفې.“ مالِک خُدائ رَبُ الافواج دا
فرمائيلی دی. ۱۴ مالِک خُدائ فرمائی، ”د مِصر او ايتهوپيا
مال دولت به ستاسو وی، او د سبائيانو لوَړ لوَړ سړی به
ستاسو غلامان وی، هغوئ به په تاسو پسې په زنځيرونو کښې
روان وی. هغوئ به تاسو ته ټيټ شی او اِقرار به وکړی چې،
خُدائ پاک ستاسو مل دے، صرف هغه خُدائ پاک دے. د
هغهٔ نه بغير بل خُدائ نشته.“ ۱۵ بېشکه تهٔ هغه خُدائ يې
څوک چې ځان پټ ساتی، اے د بنی اِسرائيلو خُدائ پاکه،
خلاصونکيه. ۱۶ څوک چې بُتان جوړوی نو هغوئ به د
شرم سره مخ شی، او هغوئ ټول به سپک شی. ۱۷ خو
مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو مُلک بچ کوی، د يو نهٔ
ختمېدونکی خلاصون سره. او د دې خلق به کله تر آخره
پورې هم بېعزته نهٔ شی. ۱۸ مالِک خُدائ فرمائی، ”زهٔ
مالِک خُدائ يم، او بل يو خُدائ هم نشته.“ څوک چې دا وائی
هغه خُدائ پاک دے. چا چې آسمانونه پيدا کړی دی، دا هغه
ذات دے کوم چې زمکه پيدا کړه او جوړه يې کړه، او زمکه
خوشې او شاړه پاتې نهٔ شوه بلکې هغهٔ دا د اوسېدلو قابله
جوړه کړه، چې ژوندے مخلوق په کښې اوسيږی. مالِک
خُدائ فرمائی، ”زهٔ مالِک خُدائ يم ما نه غير بل مالِک نشته.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ ما څۀ په پټه ځائ کښې پټې خبرې نۀ دی کړې. او نۀ
مې بنی اِسرائیلو ته دا وئیلی دی چې، ”بېشکه ما لټوئ، خو
تاسو به ما مومئ نه.“ زۀ، مالِک خُدائ یم او زۀ رښتیا وایم،
او څۀ چې صحیح وی نو زۀ د هغې اعلان کوم.“

## معبودان د بابل حِفاظت نۀ شی کولے

۲۰ ”هغه ټول خلق چې د بادشاه د زوال نه پس ژوندی پاتې
یئ، راغونډ شئ، خپل ځانونه زما حضور کښې پېش کړئ.
څوک چې ځان سره د لرګی بُتان ګرځوی هغوئ په هیڅ هم
نۀ پوهېږی. چې کوم معبودان خلاصون نۀ شی ورکولے نو د
هغوئ نه دُعا ولې غواړی؟ ۲۱ راشئ او خپله مقدمه په
عدالت کښې پېش کړئ، بېشکه اول د یو بل سره مشوره
وکړئ. ډېر پخوا دا پېشګوئې چا ورکړې وه؟ ولې ما مالِک
خُدائ ډېره موده مخکښې دا اعلان نۀ وو کړے؟ ځکه چې
بغېر زما نه بل یو خُدائ هم نشته. زۀ خلاصونکے او صادق
خُدائ یم. زما نه بغېر بل یو خُدائ هم نشته. ۲۲ اے د ټولې
دُنیا خلقو، اوس ما ته راوګرځئ او خلاصون حاصل کړئ.
صرف زۀ خُدائ پاک یم او زما نه بغېر بل یو خُدائ هم نشته.
۲۳ زما وعده رښتیا ده، او زما وعده به نۀ بدلیږی. ما په
خپل ذات باندې قسم خوړلے دے، چې هره یوه ګوډه به ما
ته په سجده شی او هره ژبه به اِقرار وکړی. ۲۴ او وائی به
چې فتح او طاقت صرف د مالِک خُدائ په ذریعه ملاوېږی،
خو هغه ټول څوک چې زما نه نفرت کوی نو هغوئ به زما
حضور ته راشی او شرم سره به مخ شی. ۲۵ خو د اِسرائیل
ټول اولاد به د مالِک خُدائ په نظر کښې صادقان شی او په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ به فخر کوی.“

## د بابل معبودان

۴۶ ۱ د بابل د معبودانو بیل او نبو سرونه ښکته وُو کله
چې دوئ راکوز کړے شول، او اوس هغه په ځناورو باندې
بار دی، چې د ستړی شوو ځناورو دپاره بوج دے. ۲ دا
دواړه معبودان ټیټ شول او پړمخې پرېوتل. هغوئ د بوج
جوړېدو نه بچ پاتې نهٔ شول او اوس په خپله جلاوطن شول.
۳ ”اے د یعقوب اولاده، ما ته غوږ ونیسئ، اے په بنی
اِسرائیلو کښې زما باقی پاتې شوو ټولو خلقو. د مور د خېټې
نه ما ستاسو پالنه کړې ده، چې کله تاسو پېدا شوی یئ نو د
هغې وخت نه زهٔ په تاسو پام کوم. ۴ زهٔ ستاسو خُدائ
پاک یم او زهٔ به ستاسو ساتنه کوم چې تاسو بوډاګان او
سپین سَری هم شئ. نو ما تاسو پېدا کړی یئ او ستاسو خیال
به ساتم، زهٔ به ستاسو ملاتړ یم او تاسو به بچ کوم.“ ۵
مالِک خُدائ فرمائی، ”تاسو به ما د چا سره برابروئ؟ زما په
شان بل څوک شته څهٔ؟ ۶ خلق خپلې کڅوړې کولاو کړی
او سرهٔ زر ترې نه غورزوی، هغوئ په تله سپین زر تلی.
هغوئ زرګر له پیسې ورکړی چې یو بُت ورله جوړ کړی، او
بیا ورته ټیټېږی او عبادت یې کوی. ۷ هغوئ دا خپلو اوږو
ته اوچت کړی او یو خوا او بل خوا یې وړی راوړی، او بیا په
یو ځائ کښې یې کېږدی او هلته ولاړ وی، خو چې چرته وی
نو د هغه ځائ نه حرکت نهٔ شی کولے. کهٔ څوک دې ته په
چغو فریاد وکړی، نو دا جواب نهٔ ورکوی او نهٔ هغه کس د
مصیبت نه بچ کولے شی. ۸ اے ګناهګارانو، دا یاد ساتئ،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او چې ما څهٔ کړی دی هغه مهٔ هېروئ. ۹ هغه رایاد کړئ
چې ډېره موده مخکښې شوی وُو، ځکه چې صرف زهٔ خُدائ
پاک یم او زما په شان بل هيڅ څوک هم نشته. ۱۰ د شروع
نه ما د اَنجام پېشګوئي ورکوله، ما ډېر پخوا وئيلی دی چې
څهٔ کېدونکی دی. ما وئيل چې زما منصوبې به نهٔ ناکامه
کيږی، او چې زهٔ به هغه هر يو کار کوم چې ما يې اراده کړې
وه. ۱۱ زهٔ د نمرخاتهٔ طرف نه يو ښکاری مارغهٔ راغواړم، د
لرې مُلک نه به يو داسې سړے راشی چې زما منصوبه به
پوره کوی. څهٔ چې ما وئيلی دی زهٔ به هغه سر ته رسوم. او
چې کومه منصوبه ما جوړه کړې وی هغه به سر ته رسوم.
۱۲ اے ضدی خلقو، ما ته غوږ ونيسئ څوک چې د
خلاصون نه ډېر لرې يئ. ۱۳ ما خپل خلاصون نزدې
راوړے دے، هغه لرې نهٔ دے. زما خلاصون راتلو کښې به
وخت نهٔ لګی. زهٔ به يروشلم بچ کړم او بنی اِسرائيلو ته به
خپل شان او شوکت وښايم.“

## د بابل سره عدالت کېدل

# ۴۷ ۱ اے د پېغلې په شان بابله، د خپل تخت نه راکوز
شه، او په زمکه په خاورو کښې کښېنه. ځکه چې ستا په
تخت د ناستې وخت ختم دے. اے بابله، تهٔ به بيا د
شهزادګۍ په شان نرم او نازک نهٔ يې. ۲ د ژرندې کاڼے
واخله او اوړهٔ ميده کړه. نقاب لرې کړه، خپلې ښائسته
جامې وباسه، پينڅې اوچتې کړه چې د نِهرونو نه پورې وځې.
۳ خلق به تا وګوری چې بربنډه يې، هغوئ به ستا شرمګاه
وګوری. زهٔ به بدله واخلمه او هيڅ څوک به نهٔ پرېږدم. ۴ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بنی اِسرائیلو مقدس ذات مونږ په بیعه اخستی یُو، د هغهٔ نوم
مالِک خُدائ ربُ الافواج دے. ۵ اے د بابلیانو لورې، په
تیارهٔ کښې خاموش کښېنه، نور به تا ته څوک د قومونو مَلِکه
نهٔ وائی. ۶ زهٔ خپلو خلقو ته غصه وم، ما هغوئ له داسې
سزا ورکړه چې تا ته مې حواله کړل. او تا په هغوئ باندې
هیڅ رحم ونهٔ کړو، او په بوډاګانو دې هم ډېر درونډ بوج
کېښودو. ۷ تا وئیل، "زهٔ به همېشه مَلِکه یم." او هیڅکله
دې فکر نهٔ دے کړے او نهٔ دې د دې په اَنجام باندې غور
وکړو. ۸ نو اوس دا خبره واوره، اے د عیش سره مینه
لرونکې، تهٔ خپل ځان محفوظ ګڼې او وائې، "هم زهٔ یم. او زما
نه بغېر بل څوک نشته. زهٔ به نهٔ کله کونډه شم او نهٔ
بې‌اولاده." ۹ خو په یوه لحظه او هم په یوه ورځ کښې به دا
دواړه کارونه درسره وشی. تهٔ چې هر څومره د جادو نه کار
واخلې، خو ستا خاوند او بچی به ختم شی. ۱۰ تا خپل ځان
په بدعملئ کښې محفوظ وګڼلو، ستا خیال دا وو چې هیڅ
څوک دې نهٔ وینی. خپل حِکمت او پوهې تهٔ بې‌لارې کړې، او
تا د خپل ځان سره ووئیل چې، "هم زهٔ یم. او زما نه بغېر بل
څوک نشته." ۱۱ داسې افت به په تا راشی، چې ستا یو
جادو منتر به هم دا منع کولے نهٔ شی. تباهی به په تا باندې
راشی او هیڅ منښته به دا بندولے نهٔ شی. وبا به په تا باندې
ناڅاپه راشی، او تهٔ به د هغې دپاره تیاره نهٔ یې. ۱۲ خپل
جادو او کوډې ځان سره وساته، تا د وړوکوالی نه دا
استعمال کړی دی. کېدے شی چې دا ستا دپاره مددګار
ثابت شی، او تهٔ په دې خپل دشمنان ویروی. ۱۳ تا له چې
کومې مشورې درکړے کیږی نو د هغې نه تهٔ ستړے یې. ستا
نجومیان چرته دی، چې ستورو ته ګوری او میاشت په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میاشت پېشګویانې کوی؟ هغوئ دې راشی او څۀ چې
کېدونکی دی تا دې د هغې نه بچ کړی. ۱۴ هغوئ په اور
کښې د سوزېدونکی بوسو په شان دی چې خپل ځان د دې د
لمبو نه نۀ شی بچ کولے. دا به د سکرو اور نۀ وی چې انسان
ورته کښېنی او ځان ګرم کړی. ۱۵ هغوئ به تا مایوسه
کړی، چا سره چې تۀ د ځوانئ نه په وفادارئ چلېدلے یې. هر
یو به درنه په خپله مخه لاړ شی، او داسې به هېڅ څوک پاتې
نۀ وی چې تاسو بچ کړی.

## خُدائ پاک د راتلونکی وخت مالِک دے

48 ۱ اے د یعقوب خاندانه، دا خبره واورئ، تاسو چې
د بنی اِسرائیلو په نامه یادېږئ او د یهوداه اولاد یئ، او تاسو
چې د مالِک خُدائ په نوم قسم خورئ او د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک ته آواز کوئ، خو نۀ په کښې اخلاص شته او نۀ
سمه طریقه. ۲ تاسو د مقدس ښار اوسېدونکی یئ او وایئ
چې تاسو د بنی اِسرائیلو په خُدائ پاک باور کوئ، د چا نوم
چې مالِک خُدائ ربُ الافواج دے. هغه فرمائی، ۳ ”ما ډېر
پخوا پېشګوئې کړې وه چې څۀ به کیږی، او بیا مې ناڅاپه هم
دغه شان وکړل، او زما ټولې پېشګویانې رښتیا شوې. ۴ ما
ته پته وه چې تاسو به څومره ضدیان یئ، ستاسو د مرئ
رګونه به د اوسپنې په شان کلک او ستاسو تندی به لکه د
مېکور غوز په شان وی. ۵ نو ما ډېر پخوا ستاسو د
راتلونکی وخت پېشګوئې وکړه، د حالاتو بیان مې د وړاندې نه
وکړو، د دې دپاره چې تاسو دا دعوئ ونۀ کړئ چې ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بُتانو او تراشلے شوو مجسمو د دې حُکم کړے وو. ۶ ما
چې د څۀ پيشګوئي کړې وه نو هغه هر څۀ شوی دی، خو
تاسو د هغې منلو نه اِنکار وکړو. اوس به زۀ تاسو ته د نوؤ
خبرو په حقله ووايم، دا هغه رازونه دی چې تاسو تر اوسه
پورې نۀ دی اورېدلی. ۷ په تېره زمانه کښې داسې څۀ نۀ
وُو شوی، بلکې هم اوس اوس دا ستا په عِلم کښې راغلل.
داسې ځکه وشول چې تاسو ونۀ شئ وئيلے، چې مونږ ته
مخکښې نه د دې پته وه. ۸ ما ته پته وه چې تاسو ناقابلِ
اعتماد يئ، ځکه چې تاسو د وړوکوالی نه په باغيانو مشهور
وئ. او هم دا وجه ده چې تاسو هيڅکله د دې په حقله نۀ دی
اورېدلی، او دا ځکه د دې يوه خبره هم ستاسو غوږونو ته نۀ
ده رارسېدلې. ۹ زما د نوم د خاطره زۀ خپله غصه په قابو
کښې ساتم، زما د ثناء صِفت د خاطره زۀ خپل ځان ستاسو
د تباهئ نه را ايساروم. ۱۰ ما تاسو صفا کړی يئ، خو داسې
نه لکه چې سپين زر صفا کيږی، بلکې ما تاسو صفا کړی
يئ، د مصيبت په بټئ کښې مې آزمائيلی يئ. ۱۱ زۀ چې څۀ
کوم نو هغه زۀ د خپل خاطر په وجه کوم، زۀ نۀ غواړم چې
زما د نوم بې‌عزتی وشی او نۀ به په خپل جلال کښې چا له
برخه ورکړم، دا به زما وی او صرف زما به وی.“

## مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خلاصونکے دے

۱۲ ”اے بنی اِسرائيلو، زما غوره کړے شوو، ما ته غوږ
ونيسئ. صرف زۀ خُدائ پاک يم، زۀ اولين او آخرين يم. ۱۳
ما په خپل لاس باندې د زمکې بنيادونه لګولی دی او زما ښی
لاس آسمانونه خوارۀ کړی دی. کله چې زۀ آواز ورکړم نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوئ ټول یو ځائ حاضر شی. ۱۴ ټولو خلقو، راغونډ شئ
او واورئ. په معبودانو کښې کوم یو د دې پېشګوئې ورکړې
ده؟ ما چې کوم سړے خوښ کړے دے هغه به په بابل حمله
وکړی، او د بابلیانو خلاف به خپل زور استعمالوی. ۱۵ زۀ
هغه څوک یم چې هغۀ ته مې آواز وکړو او راومې غوښتلو، د
هغۀ مې لارښودنه وکړه او هغه به کامیابیږی. ۱۶ نو اوس ما
له رانزدې شئ او چې زۀ څۀ وایم هغې ته غوږ ونیسئ. ما د
شروع نه صفا خبره کړې ده، او ما همېشه خپله خبره رښتیا
کړې ده.“ او زۀ اوس مالِک خُدائ تعالىٰ د خپل روح سره
رالېږلے یم.

۱۷ د بنی اِسرائیلو مقدس ذات، مالِک خُدائ ستاسو
خلاصونکے فرمائی، ”زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
یم، هغه ذات چې ستاسو د خپلې فائدې دپاره تاسو ته ښودنه
کوی او هغه لار درته ښائی چې په کومه باندې درله تلل په
کار دی. ۱۸ خو کۀ صرف تاسو زما حُکمونو ته پام کړے
وے. نو ستاسو امن به لکه د سیند په شان وو، او ستاسو
صداقت به د سمندر د چپو په شان وو. ۱۹ ستاسو اولاد به
د شګو په شان ډېر او بېشمېره وے، او ما به هیڅ امکان نۀ
وے پرېښے چې د هغوئ نام و نشان زما د وړاندې نه ختم
شی.“ ۲۰ د بابل نه ووځئ. او د بابلیانو نه وتښتئ. د
خوشحالۍ سره د دې خبر چغه ووهئ، او د دُنیا تر ګُټ ګُټه
پورې دا خبره مشهوره کړئ چې، ”مالِک خُدائ خپل خِدمت
کوونکی بنی اِسرائیلیان بچ کړی دی.“ ۲۱ کله چې مالِک
خُدائ خپل خلق په خُشکه صحرا کښې روان کړل، هغوئ د
تندې په وجه د تکلیف سره مخ نۀ شول. د هغوئ دپاره یې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګټې نه اوبهٔ راوویستلې، هغهٔ ګټې په مینځ بېل کړو او اوبهٔ
ترې نه راوبهېدلې. ۲۲ مالِک خُدائ فرمائی، ”د شریرانو
دپاره سلامتی نشته.“

## بنی اِسرائیلیان، د قومونو دپاره رڼا

۴۹ ۱ اے لرې قومونو، ما ته غوږ ونیسئ، اے هغه
خلقو، چې لرې اوسېږئ. زما د پېدا کېدو نه مخکښې مالِک
خُدائ زهٔ خوښ کړم او زهٔ یې خپل خِدمت کوونکے مقرر
کړم. ۲ هغهٔ زما خبرې د تُورې په شان تېرې کړې. او د
خپل لاس د سورې لاندې یې پټ کړم، هغهٔ زهٔ د غشی په شان
تېرهٔ کړم او په خپل د غشو تیلۍ کښې یې پټ وساتلم. ۳
هغهٔ ما ته وفرمائیل چې، ”تهٔ زما خِدمت کوونکے بنی
اِسرائیل یې، ستا په وجه به زما نوم ته جلال ملاوېږی.“ ۴
خو ما ووئیل چې، ”زما محنت بېفائدې دے، ما خپل طاقت
بېفائدې او بېمقصده ضائع کړے دے، خو یقیناً چې زما
حق مالِک خُدائ سره دے او زما خُدائ پاک به ما له اجر
راکړی.“ ۵ خو زما د پېدا کېدو نه مخکښې، مالِک خُدائ
زهٔ مقرر کړم، هغهٔ زهٔ د دې دپاره خپل خِدمت کوونکے جوړ
کړم چې د هغهٔ خلق واپس راولم، او دا چې بنی اِسرائیلیان د
هغهٔ د حضور وړاندې راغونډ کړم. مالِک خُدائ ما له عزت
راکوی، او هغهٔ ما له طاقت راکړے دے. ۶ هغه فرمائی،
”زما خِدمت کوونکیه، زهٔ ستا دپاره یو لوئ مقصد لرم. تهٔ به
نهٔ صرف هغه بنی اِسرائیلیان بحال کړې چې کوم ژوندی پاتې
دی، بلکې زهٔ به تا د قومونو دپاره رڼا وګرځوم نو چې دغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان تهٔ زما خلاصون ټولې دُنیا ته ورسوې.“ ۷ د بنی
اِسرائیل مقدس ذات او خلاصونکے هغه چا ته وائی چې د
چا نه سخت نفرت شوے دے، د چا نه چې قومونو نفرت
کړے دے چې دے د حکمرانانو خِدمت کوونکے دے،
”بادشاهان به تا وګوری او د عزت نه به درته پاڅیږی،
شهزادګان به هم وګوری، او هغوئ به تا ته د عزت نه ټیټیږی.
دا ځکه چې مالِک خُدائ خپل خِدمت کوونکے خوښ کړے
دے، د بنی اِسرائیلو مقدس ذات خپلې وعدې پوره کوی.“

## د یروشلم بحال کېدل

۸ مالِک خُدائ فرمائی، ”کله چې ستاسو د بچ کېدو وخت
راغلو، نو ما په تاسو نظر وکړو او د مدد دپاره مې ستاسو
فریاد واورېدو. زهٔ به ستاسو حِفاظت او ساتنه وکړم او
ستاسو په ذریعه به د ټولو خلقو سره یو لوظ وکړم. او زهٔ به
یو ځل بیا تاسو په هغه مُلک کښې آباد کړم کوم مُلک چې
اوس شاړ او ویجاړ پروت دے. ۹ زهٔ به قېدیانو تهووایم
چې، تاسو آزاد یئ. او څوک چې په تیارهٔ کښې وی نو هغوئ
ته به ووایم چې، رڼا له راوځئ. هغوئ به د هغه ګډو په شان
وی چې د غرونو په غونډو کښې څریږی، ۱۰ هغوئ به
هیڅکله نهٔ اوږی شی او نهٔ به کله تږی شی. د نمر او د صحرا
ګرمی به هغوئ نهٔ تنګوی، د هغوئ مشری به هغه ذات کوی
چې څوک د هغوئ سره مینه کوی. او هغه به یې د اوبو چینو
له بوځی. ۱۱ زهٔ به په غرونو کښې یو لوئ سړک جوړ کړم
او د خپلو خلقو دپاره به یوه لار جوړه کړم چې په هغې به
مزل کوی. ۱۲ ګورئ زما خلق به د لرې لرې نه راځی، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمال طرف او د نمرپرېواتۀ طرف نه، او د سینم نه به
راځی.“ ۱۳ اے آسمانه، د خوشحالۍ چغې وهه. اے زمکې،
خوشحالی وکړه. اے غرونو، د خوشحالۍ سندرې ووایئ.
ځکه چې مالِک خُدائ خپلو خلقو له تسلی ورکړې ده، او
هغه به په خپلو کړېدلو خلقو رحم وکړی. ۱۴ خو د یروشلم
خلقو ووئیل، ”مالِک خُدائ مونږ پرېښی یُو. او هغۀ مونږ هېر
کړی یُو.“ ۱۵ ”هیڅکله نه. یو مور خپل د پیو ماشوم
هېرولے شی څۀ؟ او چې کوم بچے ترې نه پېدا شوے وی نو
د هغۀ سره به مینه نۀ کوی څۀ؟ کۀ یوه مور خپل بچے هېر
هم کړی، خو زۀ به تاسو هیڅکله هم هېر نۀ کړم. ۱۶ ګوره
ما ستا نوم د خپلو لاسونو په تلو باندې لیکلے دے، او ستا
دېوالونه همېشه زما په وړاندې دی. ۱۷ څوک چې تا بیا
آبادول غواړی نو هغه زر واپس راروان دے، او چا چې تۀ
تباه کړے یې نو هغوئ درنه ځی. ۱۸ ګېرچاپېره نظر
وګرځوه او وګوره. ستا خلق راغونډېږی او هغوئ کورونو ته
راروان دی. مالِک خُدائ فرمائی چې زما دې په خپل ذات
قسم وی، هغوئ به تا ته داسې راغونډ شی لکه څنګه چې په
ناوې کالی امبار وی. ۱۹ ستا مُلک تباه شوے وو او وران
ویجاړ وو، خو اوس چې څوک د اوسېدو دپاره ورله راروان
دی، نو دا مُلک به د هغوئ د اوسېدو دپاره ډېر وړوکے وی.
او چا چې تاسو په کنډرو کښې پرېښودئ نو هغوئ به ستاسو
نه لرې وی. ۲۰ ستاسو کوم خلق چې په جلاوطنۍ کښې
پېدا شوی وُو نو هغه خلق به یوه ورځ تا ته ووائی، دا مُلک
خو وړوکے دے، مونږ ته نوره زمکه په کار ده. ۲۱ بیا به تۀ
په خپل زړۀ کښې ووائې، دا دومره بچی ما له چا راکړل؟ زما
بچی خو ختم شوی وُو او نور بچی مې نۀ کېدل. زۀ جلاوطن

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړېے شوے وم او شړلے شوے وم، دا بچی ما له چا
راکړل؟ زهٔ خو یواځې پاتې وم، دا بچی د کوم ځائ نه
راغلل؟“ ٢٢ خُدائ تعالیٰ داسې فرمائی، ”ګورئ، زهٔ به
قومونو ته اِشاره وکړم، او هغوئ به ستاسو زامن په غېږ
کښې او ستاسو لوڼه په اوږو کورونو ته راولی. ٢٣
بادشاهان به ستاسو دپاره د پلارانو په شان وی او ستاسو
خیال به ساتی، او د هغوئ مَلِکې به ستاسو او ستاسو د بچو
دپاره د میندو په شان وی. هغوئ به ستاسو په وړاندې ټیټ
شی او ستاسو په پښو دوړې به څټی، نو بیا به تاسو ته پته
ولګی چې زهٔ مالِک خُدائ یم، هر څوک هم چې زما د مدد په
طمع وی نو هغه به نهٔ شرمیږی.“ ٢٤ څوک د جنګیالی نه
مالِ غنیمت اخستلے شی څهٔ؟ یا څوک د یو ظالم کس نه
قېدیان خلاصولے شی څهٔ؟ ٢٥ خو مالِک خُدائ وفرمائیل،
”یقیناً چې د جنګیالی نه به قېدیان بوتلے شی، او د ظالم کس
مالِ غنیمت به ونیولے شی. هر څوک هم چې تا سره جنګ
کوی نو زهٔ به هغوئ سره جنګ کوم، او هم زهٔ به ستا د بچو
حِفاظت کوم. ٢٦ چا چې په تا ظلم کړے دے زهٔ به په
هغوئ باندې د هغوئ خپله غوښه وخوروم، هغوئ به د خپلې
وینې په څښلو سره د میو په شان په نشه کښې وی. نو داسې
به بیا ټولو انسانانو ته پته ولګی چې زهٔ مالِک خُدائ یم، زهٔ
هغه ذات یم څوک چې تاسو بچ کوی او تاسو آزادوی او د
بنی اِسرائیلو طاقتور ذات یم.“

## د مالِک خُدائ د سزا ورکولو طاقت لرل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۰ ۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”د یهوداه خلقو راشئ، او
ما ته هغه طلاق نامه وښایئ چې ما ستاسو مور له ورکړې وه
او ستاسو مور مې پرېښوده. هغه طلاق نامه چرته ده؟ او یا
ما ته هغه قرض ورکوونکے وښایئ چې ما د خپل قرض په
وجه تاسو ورته حواله کړی وئ هغه چرته دے؟ ګورئ هم
ستاسو د خپلو ګناهونو له وجې خرڅ کړے شوئ او ستا د
خپلو ګناهونو په وجې ستاسو مور وشړلې شوه. ۲ چې زهٔ
راغلم نو څوک هم نهٔ وو، ولې؟ چې ما آواز وکړو نو چا هم
جواب رانهٔ کړو، ولې؟ ولې زما لاس دومره کمزورے وو څهٔ
چې تاسو مې خلاصولے نهٔ شوئ؟ ولې زهٔ دومره کمزورے
یم څهٔ چې تاسو بچ کولے نهٔ شم؟ زما یو حُکم سره سمندر
اوچ شی او سیندونه په صحرا بدل شی، او بغېر اوبو نه کبان
مړهٔ شی او هر طرف ته بدبوئ خوره شی. ۳ هم زهٔ آسمان
باندې توره کپړه اچوم او هم زهٔ هغې ته د غم جامې اچوم.“

## د مالِک خُدائ د خِدمت کوونکی تابعداری

۴ خُدائ تعالیٰ ما له د یو اُستاذ ژبه راکړې ده، د دې دپاره
چې ستړو خلقو له تسلی ورکړم. هر سحر هغه ما پاڅوی او
هغه زما په زړهٔ کښې دا جذبه اچوی چې د هغهٔ ښودنې ته
غوږ ونیسم. ۵ خُدائ تعالیٰ ما ته صفا وینا کړې ده، او ما
د هغهٔ نه سرکشی نهٔ ده کړې او نهٔ د هغهٔ نه اوړېدلے یم. ۶
چا چې زما وهل غوښتل ما هغوئ ته خپله ملا وړاندې کړه،
چا چې زما نه ږیره ویستله ما هغوئ ته خپل مخ وړاندې
کړو. ما د هغوئ د بې‌عزتۍ او توکانو نه خپل مخ نهٔ دے پټ
کړے. ۷ خو خُدائ تعالیٰ زما مدد کوی نو زما بې‌عزتی به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ کيږی. ما د هغهٔ د مرضئ پوره کولو کلکه اراده کړې ده.
ما ته پته ده چې زهٔ به د شرم سره نهٔ مخ کيږم. ۸ څوک
چې ما ته صداقت ښائی هغه نزدې دے، څوک دا جرأت
کولے شی چې په ما اِلزامونه ولګوی؟ زما مخالف چرته دے
چې په ما اِلزام ولګوی. هغه دې رامخامخ شی. ۹ هم
خُدائ تعالىٰ زما ملګرتيا کوی، نو څوک به ما مجرم ثابت
کړی؟ په ما باندې ټول اِلزام لګوونکی به ورک شی هغوئ به
داسې ختم شی لکه چې کپړه چينجو خوړلې وی. ۱۰ په
تاسو کښې څوک د مالِک خُدائ نه يريږی او د هغهٔ د خِدمت
کوونکی آواز منی؟ څوک چې په تيارهٔ کښې روان وی هيڅ
رڼا ورسره نهٔ وی خو بيا هم دې د هغهٔ ايمان په مالِک خُدائ
وی او د هغهٔ توکل دې په خُدائ پاک باندې وی. ۱۱ خو
تاسو خلق څوک چې خپل ځانونه بَلو غشو سره وسله بند
کړئ، نو هم د خپل اور د شغلو په رڼا کښې لاړ شئ. زما د
لاس نه به تاسو ته هم دا اجر ملاويږی، تاسو به سخت درد
کښې راپريوځئ.

## د يروشلم دپاره د تسلئ خبرې

۵۱ ۱ ”ما ته غوږ ونيسئ، څوک چې صداقت غواړئ،
او د مالِک خُدائ لټون کوئ. د هغه ګټ په حقله سوچ وکړئ
د کوم نه چې تراشلے شوی يئ، د هغه کان په حقله سوچ
وکړئ چې د کوم نه تاسو راويستلے شوی يئ. ۲ د خپل
پلار نيکهٔ اِبراهيم او مور ساره په حقله سوچ وکړئ، چې تاسو
يې زيږولی يئ. کله چې ما اِبراهيم راوغوښتلو، نو هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې‌اولاده وو، خو ما هغهٔ له برکت ورکړو او ډېر اولاد مې
ورکړو. ۳ يقيناً چې مالِک خُدائ به بيا صيون له تسلی
ورکړی. او د هغې په ټولو کنډرو به ترس وکړی. د هغې
صحرا به د باغِ عدن په شان ګلستان کړی، د هغې بنجره
زمکه به د مالِک خُدائ د باغ په شان شی. هلته به خندا او
خوشحالی وی، او د ثناء صِفت او د شکرانې حمدونه به
وئيلے شی. ۴ زما خلقو بنی اِسرائيلو، ما ته غوږ ونيسئ،
زهٔ چې څهٔ وايم هغې ته توجو وکړئ، زهٔ به قومونو ته خپل
تعليمات وښايم، زما اِنصاف به د هغوئ دپاره رڼا وی. ۵
زما رحم او اِنصاف زر راروان دی. زما خلاصون په لاره
دے. زما مضبوط لاس به قومونو له اِنصاف راوړی. لرې
مُلکونه زما انتظار کوی، هغوئ په دې طمع دی چې بچ يې
کړم. ۶ بره آسمان ته وګورئ، او لاندې زمکې ته وګورئ.
آسمانونه به د لوګی په شان ورک شی، او زمکه به د زړې
چِړړې په شان ورَسته شی، او د دې ټول خلق به د مچانو په
شان مړهٔ شی. خو زما خلاصون به د همېشه دپاره وی، او
زما صداقت به هيڅکله نهٔ ختميږی. ۷ اے هغه خلقو چې
څوک په صداقت پوهېږئ، ما ته غوږ ونيسئ، اے هغه خلقو
چې د چا په زړُونو کښې چې زما تعليم اچولے شوے دے.
کله چې خلق په تاسو پورې خندا کوی يا ستاسو بې‌عزتی
کوی، نو مهٔ يرېږئ، ۸ ولې چې چينجی به هغوئ لکه د
کپړې په شان وخوری، او چينجی به يې لکه د وړی په شان
وخوری. خو زما صداقت به تر همېشه پورې وی، او زما
خلاصون به تر ټولو نسلونو پورې قائم وی.“ ۹ اے مالِکه
خُدايه، پاڅه. ويښ شه او زمونږ مدد وکړه. د خپل طاقت نه
کار واخله او مونږ بچ کړه، خپل طاقت داسې استعمال کړه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه ځنګه دې چې مخکښې استعمالولو. دا تهٔ وې چې
سمندرى بلا راحب دې ټوټې ټوټې کړه. ۱۰ دا هم تهٔ وې چې
سمندر دې اوچ کړو او په اويو کښې دې لار جوړه کړه، نو
چې هغه څوک په دې زور سمندر کښې تېر شى چې کوم دې
بچ کول. ۱۱ د چا فديه چې مالِک خُدائ ورکړې ده نو
هغوئ به راواپس شى، او ځنګه چې صيون ته ننوځى نو د
خوشحالئ نه به چغې وهى او سندرې به وائى. هغوئ به د
هميشه دپاره خوشحاله وى، او د غم او پرېشانئ نه به په امن
وى. ۱۲ ”زهٔ، صرف زهٔ تاسو له تسلى درکوم. نو بيا تاسو د
انسانانو نه ولې يرېږئ، چې هغوئ د واښو نه هم زر فنا
کيږى؟ ۱۳ تاسو هغه مالِک خُدائ هېر کړے دے چا چې
پيدا کړئ، چا چې آسمانونه خوارهٔ کړل او چې د زمکې
بنيادونه يې ولګول؟ تاسو هر وخت د هغه خلقو نه ولې په يره
کښې يئ څوک چې د غصې نه په تاسو باندې ظلم زياتے
کوى، څوک چې ستاسو د تباه کولو دپاره تيار دى؟ اوس د
هغوئ غصه چرته ده؟ ۱۴ قېديان به زر راخلاص شى،
هغوئ به په قېدخانه کښې نهٔ مرى او د هغوئ سره به د
خوراک کمے نهٔ وى. ۱۵ زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک يم، سمندر ما راپاڅولو او د دې چپې مې غضبناکې
کړې. زما نوم مالِک خُدائ ربُ الافواج دے. ۱۶ ما خپل
کلام ستاسو په ژبه ګويا کړو، او د خپل لاس د سورى لاندې
مې تاسو پټ کړئ، آسمانونه مې خوارهٔ کړل او د زمکې
بنيادونه مې کېښودل، او ما يروشلم ته وفرمائيل، تاسو زما
خلق يئ.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د یروشلم د مشکلاتو ختمېدل

۱۷ ویښ شه. ویښ شه. پاڅه ودرېږه اے یروشلمه. تا د
مالِک خُدائ د لاس نه هغه جام څښلے دے کوم چې د هغهٔ
د غصې نه ډک وو، دا جام تا تر آخری قطرې پورې وڅښلو
کوم چې د نشه ورو شرابو نه ډک وو. ۱۸ ستا چې څومره
زامن شوی دی په هغوئ کښې یو هم نشته چې ستا رهنمائی
وکړی، تا چې څومره زامن لوئ کړی دی په هغوئ کښې یو
هم نشته چې تا د لاس نه ونیسی او بو دې ځی. ۱۹ په تا
باندې دوه افتونه راغلې دی یعنې تباهی او بربادی، جنګ او
قحط. څو څوک پاتې دی چې تا سره همدردی وکړی؟ او
څوک پاتې دې چې تا له تسلی درکړی؟ ۲۰ ستا خلق د
کمزورئ د وجې نه په هره کوڅه کښې غورزېږی، هغوئ
بېمددګاره لکه د هوسۍ په شان په جال کښې انښتی دی. او
د مالِک خُدائ غضب په هغوئ نازل دے او خُدائ پاک
هغوئ رټلی دی. ۲۱ اے تاسو چې په مصیبت کښې ګېر یئ
واورئ، څوک چې په نشه کښې یئ خو د میو له وجې نه نه.
۲۲ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک چې د خپل قوم دپاره
جنګېږی داسې فرمائی، ”ګورئ، ما دا د نشه ورو شرابو نه
ډک جام ستاسو د لاس نه لرې کړے دے، نو تاسو به نور
زما د غصې د جام نه نهٔ څښئ. ۲۳ دا به زهٔ هغه خلقو له
ورکړم چا چې په تاسو باندې ظلم زیاتے کولو، هغه خلقو له
چا چې تاسو په کوڅو کښې څملولئ او پښې به یې درباندې
کېښودې او په تاسو به ګرځېدل.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د خُدائ پاک د یروشلم بچ کول

۵۲ (١) اے یروشلمه، پاڅه، ویښ شه. خپلې د طاقت
جامې واغونده. اے مقدسې ښاريې، د شان او شوکت والا
جامې واغونده. ناسنته او ناپاک خلق به هیڅکله ستا په
دروازو بیا درننه نۀ وځی. (٢) اے یروشلمه، د ځان نه
خاورې وڅنډه او پاڅه او په تخت کښېنه. اے د صیون قید
شوې لورې، د غلامۍ زنځیرونه د خپلې غاړې نه وشلوه. (٣)
مالِک خُدائ فرمائی، ”کله چې تاسو غلامان شوئ، نو
ستاسو په سر پیسې نۀ وې ورکړے شوې، او چې کله تاسو
آزادولے شئ نو ستاسو په سر به پیسې نۀ شی ورکولے.“
(٤) مالِک خُدائ تعالىٰ فرمائی، ”ډېره موده وړاندې زما خلق
مِصر ته د څۀ مودې دپاره لاړل، خو اوس اسوریان بغیر د
څۀ وجې په هغوئ باندې ظلم زیاتے کوی.“ (٥) مالِک
خُدائ فرمائی، ”او په بابل کښې هم هغه کار شوے دے یعنې،
زما خلق قېدیان دی او د هغوئ په سر هیڅ پیسې نۀ دی
ورکړے شوې. څوک چې په هغوئ حکومت کوی نو هغوئ
هر وخت زما د نوم سپکاوے کوی. (٦) نو داسې به زما
خلقو ته زما د نوم پته وی، او داسې به هم په هغه ورځ هغوئ
ته پته ولګی چې هم زۀ کلام کوم او زۀ حاضر یم.“ (٧) د
هغوئ قدمونه څومره ښکلې دی چې په غرونو باندې روان
دی او زېرے راوړی. ځکه چې هغه به د امن و امان پېغام او
د خلاصون اعلان کوی، او صیون ته به وائی، ”ستا خُدائ
پاک بادشاه دے.“ (٨) څوک چې د ښار حفاظت کوی نو
هغوئ د خوشحالۍ چغې وهی، هغوئ په خپلو سترګو باندې
ګوری چې مالِک خُدائ صیون ته واپس راروان دے. (٩)

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے د یروشلم کنډرو، په یو ځائ د خوشحالئ سندرې ووایئ.
مالِک خُدائ به خپل ښار بچ کړی او خپلو خلقو له به تسلی
ورکړی. ۱۰ مالِک خُدائ به د خپل مقدس طاقت نه کار
واخلی، خُدائ پاک به خپل خلق بچ کړی، او ټول قومونه او
ټوله دُنیا به په خپلو سترګو دا وګوری. ۱۱ ځئ، ځئ، د دغه
ځائ نه ځئ. چې یو ناپاک څیز له هم لاس ورنهٔ وړئ، څوک
چې د مالِک خُدائ د کور سامان وړی تاسو خپل ځانونه
پاک وساتئ او لاړ شئ. ۱۲ ضروری نهٔ ده چې تاسو په منډه
لاړ شئ، او نهٔ تاسو ته اچانک د تیښتې ضرورت شته، ولې
چې مالِک خُدائ به ستاسو نه وړاندې ځی، د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک به د وروستو نه ستاسو حِفاظت کوی.

## کړېدلے خِدمت کوونکے

۱۳ ګورئ، زما خِدمت کوونکے به په خپل کار کښې
کامیاب شی، د هغهٔ به ډېر زیات عزت کیږی. ۱۴ خو کله
چې یې هغه ولیدو نو ډېر خلق حیران شول، د هغهٔ شکل
صورت داسې خراب وو چې هغه د نورو انسانانو په شان نهٔ
ښکارېدو. ۱۵ اوس به ډېر قومونه هغهٔ ته حیران شی، او د
هغهٔ په وړاندې به د بادشاهانو د خولې نه خبرې نهٔ وځی.
ځکه چې هغوئ به هغه څهٔ وګوری چې د څهٔ ورته وئیلے
شوی نهٔ وی، او هغوئ به په هغه څهٔ پوهه شی د څهٔ چې یې
اورېدلی نهٔ وی.

۵۳ ۱ زمونږ په پیغام چا یقین کړے دے؟ مالِک خُدائ
خپل قوت په چا ظاهر کړے دے؟ ۲ د مالِک خُدائ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې زما خِدمت کوونکی داسې وده وکړه لکه څنګه چې
يو نرم تيغ په زمکه جرړې نيسی. هغهٔ څهٔ شان شوکت او
حُسن نهٔ لرلو چې د هغې په وجه مونږ ورباندې پام کړے
وے. او نهٔ په کښې څهٔ داسې کشش وو چې مونږ يې متاثره
کړې وے. ۳ خلقو هغهٔ ته سپک وکتل او هغه يې رد کړو،
هغه د درد او کړاؤ سره مخ شو. او خلقو به هغهٔ ته دومره
سپک کتل چې مخ به يې ترينه اړولو. مونږ د هغهٔ هيڅ قدر نهٔ
کولو. ۴ خو بېشکه چې هغهٔ زمونږ بيمارئ او کمزورئ
اوچتې کړې. خو بيا هم زمونږ دا خيال وو چې هغهٔ له سزا
ورکړے شوه، او دا چې خُدائ پاک هغه ووهلو او د هغهٔ د
ګناهونو سزا يې ورکړه. ۵ خو زمونږ د ګناه په وجه هغه
زخمی شو، زمونږ د بغاوت په وجه هغه چخنی کړے شو.
چې کومه سزا ورکړے شوه نو د هغې په وجه مونږ ته شفا
مِلاو شوه، هغهٔ چې کوم وهل وخوړل نو د هغې په وجه مونږ
روغ شُو. ۶ مونږ ټول د ورکو ګډو په شان يُو، مونږ د
خُدائ پاک د لارې نه اوړېدلی يُو. هر يو کس په خپله مخه
روان دے. خو بيا هم مالِک خُدائ زمونږ د ټولو ګناهونه په
هغهٔ باندې واچول. ۷ هغهٔ باندې ظلم زياتے وشو، خو هغهٔ
په خولهٔ باندې هيڅ هم ونهٔ وئيل. لکه چې يو ګډُورے د
حلالولو دپاره بوتلے شی، لکه چې يوه ګډه د ورئ کلولو والا
په مخکښې خاموش وی، نو هم هغه شان هغهٔ د خولې نه يوه
خبره هم نهٔ ويستله. ۸ هغه په دروغه مجرم وګرځولے شو
او بوتلے شو. او هيچا د دې پرواه ونهٔ ساتله چې هغه
بېاولاده مړ شو، او هغه د ژوندو د زمکې نه لرې کړے شو.
خو هغه زما د خلقو د ګناه په وجه ووژلے شو. ۹ د هغوئ
اراده وه چې د بدعمله خلقو سره يې ښخ کړی، خو هغه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالداره سړی په قبر کښې کېښودلے شو، خو هغهٔ هيڅ جرم
هم نهٔ وو کړے او نهٔ يې څوک دوکه کړی وُو. ١٠ خو دا د
مالِک خُدائ رضا وه چې هغه ووهلے شی، او درد ورته مِلاو
شی. کله چې د هغهٔ ژوند د ګناه دپاره کفاره شی، د هغهٔ به
ډېر اولاد وی. هغه به يو اوږد عُمر تېر کړی، او د هغهٔ په
ذريعه به د مالِک خُدائ مقصد پوره شی. ١١ کله چې هغه
وګوری چې د هغهٔ د مصيبت اوچتولو په وجه هغهٔ څهٔ
حاصل کړی دی، نو هغه به مطمئن شی. زما صادق خِدمت
کوونکے به ډېر خلق صادقان کړی، ځکه چې هغه به د
هغوئ ګناهونه اوچت کړی. ١٢ نو زهٔ به هغهٔ له د عزت
مقام ورکړم، او زهٔ به د زورَورو سره مالِ غنيمت تقسيم
کړم، ځکه چې هغهٔ خپل ځان مرګ ته حواله کړو او هغه په
باغيانو کښې حساب کړے شو. د ډېرو خلقو ګناه يې
واخستله او د بدعملو د ګناه معافی يې وغوښتله.

## د امن و امان ابدی لوظ

۵۴ ١ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے شنډې ښځې د چا چې
اولاد نشته. د خوشحالۍ نه چغې ووهه، د خوشحالۍ نه
سندرې ووايه، ولې چې تا د ماشوم د راوړو درد نهٔ دے تېر
کړے. ولې چې د شنډې ښځې بچی اوس د وادهٔ شوې ښځې
نه زيات دی. ٢ تاسو چې په کومه خيمه کښې اوسېږئ
هغه لويه کړئ او پردې يې خورې کړئ، بچت مهٔ کوئ، د
خيمې پړی اوږدهٔ کړئ او موږی يې کلک کړئ. ٣ ځکه
چې تاسو به خپل سرحدونه هر طرف ته خوارهٔ کړئ، ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولاد به قومونه فتح کړی او چې کوم ښارونه خوشی دی نو
هغه به دوباره آباد کړی. ۴ يرېږئ مۀ، تاسو به نور د شرم
سره نۀ مخ کېږئ. شرمېږئ مۀ، تاسو به نۀ بې‌عزته کېږئ. تۀ
به خپل د ځوانئ شرم هېر کړې او د کونډېدو رسوائی به ستا
د ذهن نه ختمه شی. ۵ ځکه چې ستاسو خالِق به ستاسو
خاوند وی، د هغۀ نوم مالِک خُدائ ربُ الافواج دے. د بنی
اِسرائيلو مقدس ذات ستاسو خلاصونکے دے، هغه د ټولې
دُنيا خُدائ پاک دے. ۶ مالِک خُدائ به تاسو بيا
راوغواړی داسې لکه چې خاوند ښځه پرېښې وی او سخته
پرېشانه وی. تاسو د داسې ښځې په شان يئ چې ځوانه وادۀ
شوی وی او خاوند رد کړې وی. ستاسو خُدائ پاک داسې
فرمائی، ۷ د يوې لحظې دپاره ما تاسو پرېښودلئ، خو
اوس ډېر لوئ رحم سره به تاسو بيا راجمع کړم. ۸ ما د
غصې په تاو کښې د لږ ساعت دپاره ستاسو نه مخ واړولو،
خو زۀ به تل په مينې سره په تاسو رحم کوم.“ ستاسو
خلاصونکے مالِک خُدائ داسې فرمائی. ۹ ”لکه څنګه چې
د نوح په وخت کښې ما وعده کړې وه چې بيا به هيڅکله په
زمکه داسې سېلاب نۀ راځی. نو هغسې ما قسم کړے دے
چې زۀ به بيا تاسو ته نۀ غصه کېږم، او نۀ به تاسو رټم. ۱۰
اګر کۀ غرونه لرې کړے شی او غونډۍ غيبې شی، خو زما
وفاداره مينه به ستاسو سره هيڅکله نۀ ختميږی، او زما د
امن لوظ به هيڅکله تاسو سره نۀ ختميږی.“ هغه مالِک خُدائ
داسې فرمائی څوک چې په تاسو رحم کوی.

## نوے يروشلم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ مالِک خُدائ فرمائی، ”اے یروشلمه، په تا سخت طوفان
تېر شو او هیچا هم تسلی درنۀ کړے شوه. زۀ به تا د قیمتی
کاڼو نه بیا آباد کړم او ستا بنیادونه به د نیلم کاڼو نه بیا جوړ
کړم. ١٢ ستا منارې به زۀ د ځلېدونکو عقیقو نه جوړې
کړم، ستا دروازې به د پړقېدونکو لعلونو نه جوړې کړم، او
ستا دېوالونه به د قیمتی کاڼو نه جوړ کړم. ١٣ زۀ به خپله به
ستاسو ټولو بچو ته ښودنه کوم، او هغوئ به خېر خېریت
سره وی. ١٤ ستا د بادشاهت بنیاد به په اِنصاف باندې وی،
د ظلم زیاتی نه به په امان یې، نۀ به تۀ یرېږې، او نۀ به یره تا
ته نزدې راځی. ١٥ کۀ څوک په تاسو باندې حمله کوی نو دا
به زما د طرف نه نۀ وی. نو هر څوک چې ستاسو خِلاف
جنګ کوی هغه به شکست خوری. ١٦ ما لوهار پېدا کړے
دے، څوک چې د هوا په ذریعه سکارۀ ګرموی او وسله
جوړوی. د تباهۍ دپاره ما تباه کار هم پېدا کړی دی. ١٧
داسې وسله به نۀ وی چې تاسو ته ضرر ورسوی، او څوک
چې په تاسو اِلزام لګوی نو تاسو به د هغوئ خولې بندې
کړئ. د مالِک خُدائ خادِمان به د دې فائدو نه خوند اخلی،
زۀ به د هغوئ حق ثرګند کړم.“ مالِک خُدائ داسې فرمائی.

## د خُدائ پاک د رحم دعوت

**۵۵** ١ مالِک خُدائ فرمائی، ”هر څوک چې تږی وی،
راشئ اوبۀ وڅښئ. څوک چې مال دولت نۀ لری، نو راشئ،
واخلئ او وې خورئ. راشئ، مے او پئ واخلئ، دا مفت دی.
٢ چې په څۀ باندې تاسو نۀ مړېږئ نو په هغې باندې پېسې
ولې خرچ کوئ؟ چې فائده نۀ درکوی نو په هغه خوراک پېسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولې ورکوئ؟ غور سره ما ته غوږ شئ او ښهٔ خوراک کوئ.
تاسو به د ډېرو مزيدارو خوراکونو نه خوند واخلئ. ٣
اوس غوږ ونيسئ او ما له راشئ، نو تاسو به ژوندی اوسئ.
زهٔ به تاسو سره يو نهٔ ختمېدونکے لوظ وکړم او زهٔ به تاسو
له هغه نهٔ ختمېدونکې مينه درکړم چې ما يې د داؤد سره لوظ
کړے وو. ٤ ګوره، ما هغه د قومونو ګواه جوړ کړو، ما
هغه د قومونو مشر او فوجی آفسر جوړ کړو. ٥ اوس به
تاسو د بل مُلک هغه قومونه راوغواړئ، چې په يو وخت کښې
هغوئ تاسو نهٔ پېژندئ، خو اوس به هغوئ په منډه منډه تاسو
له راشی. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک، د بنی اِسرائيلو
مقدس ذات به دا هر څهٔ وکړم، او تاسو له به عزت درکړم.
٦ د مالِک خُدائ لټون وکړئ کله چې هغه موندے شئ،
هغهٔ ته آواز وکړئ کله چې هغه نزدې دے. ٧ بدعمله خلق
دې خپلې د ژوند طريقې بدلې کړی او شرپسند دې خپل
خيالونه بدل کړی. او هغوئ دې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ
پاک ته راوګرځی، نو هغه رحم کوونکے دے او کولاو زړهٔ
سره معاف کوی.“ ٨ مالِک خُدائ فرمائی، ”زما خيالونه
ستاسو د خيالونو په شان نهٔ دی، او زما لارې ستاسو نه بدلې
دی. ٩ لکه څنګه چې آسمانونه د زمکې نه اوچت دی، نو
هم دغه شان زما لارې او سوچونه هم ستاسو نه اوچت دی.
١٠ لکه څنګه چې باران او واوره د آسمان نه راوريږی او
هسې واپس نهٔ ځی بلکې زمکه اوبهٔ کوی. دې سره فصلونه
راشنهٔ کيږی زميندار له تخم او اوږی له خوراک ورکوی. ١١
زما کلام هم، هم دغسې دے. چې زما د خولې نه وځی نو
خالی لاس به واپس نهٔ راځی. دا به زما مرضی پوره کوی او
په هغه هر څهٔ کښې به کامياب وی د څهٔ دپاره چې ما لېږلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وی. ۱۲ تاسو به خوشحالۍ سره وځئ، او سلامتۍ سره به
بوتلے شئ. غرونه او د غرونو غونډۍ به په تيز آواز سندرې
وائی، او په پټی کښې ټولې ونې به د خوشحالۍ نه لاسونه
پړقوی. ۱۳ چرته چې اوس د غنو بوټی دی نو هلته به د سبر
ونې راوټوکيږی، او د ازغو په ځائ کښې به د نختر ونې
راوټوکيږی. دې سره به د مالِک خُدائ نوم ته جلال
ملاويږی، دا به د هغهٔ د قدرت او د مينې يو نهٔ ختميدونکې
نښه وی.“

## د ټولو قومونو دپاره برکت

۵۶ ۱ مالِک خُدائ خپلو خلقو ته فرمائی چې، ”هغه څهٔ
کوئ څهٔ چې صحيح او د اِنصاف دی، ولې چې زهٔ زر
راروان يم چې تاسو له خلاصون درکړم، او ستاسو مينځ
کښې خپل صداقت څرګند کړم. ۲ بختور دی هغوئ چې
په صداقت کلک ولاړ وی. بختور دی هغوئ چې د سبت د
ورځې بې‌حرمتی نهٔ کوی بلکې منی يې، او خپل ځانونه د
بدعملۍ نه ساتی.“ ۳ د پردی مُلک کوم خلق چې د مالِک
خُدائ منونکی جوړ شوی دی نو هغوئ دې ونهٔ وائی چې،
”مالِک خُدائ به مونږ خامخا د خپلو خلقو نه جدا کړی.“ او
نهٔ دې خصی وائی چې، ”زهٔ خو اوچ بوټے يم، نهٔ مې بچی
شته او نهٔ مستقبل.“ ۴ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”کوم
خصيان چې د سبت ورځې د منلو په وجه زما درناوے کوی
او هغه کار کوی چې زهٔ وربانديې رضا کيږم او زما په لوظ
ټينګ ولاړ وی، ۵ نو زهٔ به هغوئ له زما په خپل کور او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې چاردیوارۍ کښې يو داسې يادګار او نوم ورکوم چې د
لوېو او زامنو نه به زيات ښۀ وى. او کوم نوم به چې زۀ
هغوئ له ورکوم نو هغه به تل تر تله وى او هيڅکله به
ختميږى نه. ٦ او مالِک خُدائ د پردى مُلک هغه خلقو ته
فرمائى چې کوم د هغۀ منونکى جوړ شوى دى، څوک چې د
هغۀ سره مينه کوى او د هغۀ خِدمت کوى، کوم چې د سبت
ورځ منى او د هغۀ په لوظ ټينګ ولاړ وى، ٧ نو زۀ به
هغوئ خپل مقدس غر صيون ته راولم، او خپل د دُعا کور
کښې به د هغوئ زړونه د خوشحالۍ نه ډک کړم. او زۀ به د
هغوئ سوزېدونکې نذرانې او قربانۍ قبولې کړم. ځکه چې زما
کور به د ټولو قومونو دپاره د دُعا کور بللے شى.“ ٨
مالِک خُدائ تعالىٰ، چا چې خپل خلق بنى اِسرائيليان د
جلاوطنۍ نه راوستى دى هغه فرمائى چې هغه به نور خلق هم
راجمع کړى هغوئ سره څوک چې مخکښې نه راجمع دى.

## د بنى اِسرائيلو د مشرانو بدعملى

٩ اے ټولو بلاګانو. اے د ځنګل ټولو بلاګانو راشئ. او زما
خلق لواړ تېر کړئ. ١٠ زما د خلقو مشران لکه د محافظانو
په شان دى څوک چې په سترګو ړاندۀ دى، او ټول د هيڅ نه
هم نۀ دى خبر. هغوئ ټول د ګونګى سپى په شان دى او
غپلے نۀ شى، هسې پراتۀ وى او خوبونه کوى. د هغوئ خوب
ډېر خوښ دے. ١١ هغوئ د لالچى سپو په شان دى چې
هيڅکله نۀ مړيږى. باوجود د دې چې هغوئ ته شپانۀ وئيلے
شى خو هغوئ په هيڅ هم نۀ پوهيږى. هغوئ ټول په خپله مخه
روان دى او خپلې ګټې پسې ګرځى. ١٢ هغوئ وائى، ”راځئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې مې واخلو او ځانونه پرې ښهٔ په سور کښې کړُو. او سبا
به د نن نه هم زياته خوشحالى کوُو.“

## د بُت پرستئ په حقله خبردارے

۵۷ ۱ صادق سړے مړ شى او هيڅ څوک يې پرواه نهٔ
ساتى. ديانتدار خلق د دُنيا نه اوچت کړے شى، خو هيڅوک
پرې نهٔ پوهيږى. هيڅوک پرې نهٔ پوهيږى چې صادقان د بدئ
نه بچ کېدو دپاره دُنيا نه اوچت کړے شوى دى. ۲ څوک
چې د خُدائ پاک په لارو ژوند تير کړى، او چې کله وفات
شى نو ورته آرام او سکون ملاويږى. ۳ خو اے د کوډګرې
بچو، د زناکارې او کنجرې بچو، ديخوا راشئ. ۴ تاسو چا
پورې ټوقې کوئ؟ چا ته خپل بوتاړ وران کړئ او ژبې ورته
راوياسئ؟ تاسو هم د دوکه بازو او ګناهګارو بچى يئ. ۵
تاسو د بُتانو عبادت داسې کوئ چې د هر شين بوټے او د
څېړئ د مقدسو ونو لاندې زنا کوئ. تاسو د ګټو په غارونو
کښې او واديانو کښې خپل بچى قربانى کوئ. ۶ د واديانو
هوار کاڼى ستاسو معبودان دى. تاسو دې ته د څښلو نذرانې
تويَوئ او د غلې نذرانې ورته پېش کوئ. ستاسو خيال دا دے
څهٔ چې زهٔ په دې هر څهٔ باندې خوشحاليږم؟ ۷ تاسو په هر
اوچت غر د پاسه زنا کړې ده. هلته تاسو بُتانو ته نذرانې پېش
کړى دى او ما سره مو بې‌وفائى کړې ده. ۸ تا د خپل کور
په چوکاټونو او د دروازو شاته د بُتانو نښې ولګولې. زهٔ دې
پريښودم او د نفرت نه ډکو بُتانو سره کټ ته اوختې. تا د
هغوئ سره سودا کړې ده. د هغوئ بربنډو جسمونو ته کتل تا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له خوند درکوی. ۹ تهٔ د زيتُونو تېلو، او ډېرو عطرو سره
مولک بُت له لاړې. د نوی معبودانو پېدا کولو دپاره چې مينه
ورسره وکړې تا خپل پېغام وړُونکی لرې لرې تر دې چې عالمِ
ارواح پورې دې ولېږل. ۱۰ د نورو معبودانو په لټولو کښې
تاسو خپل ځانونه ستړی کړئ، خو تاسو هيڅکله نهٔ وايئ
چې، ”دا فضول دی.“ ستاسو شوق تاسو له طاقت درکوی
نو ځکه تاسو ستړی کېږئ نه. ۱۱ تهٔ د چا نه دومره سخت
يرېدې چې تا ما ته دروغ ووئيل، نهٔ دې زهٔ ياد کړم او نهٔ دې
زما پرواه وکړه؟ زهٔ چې دا دومره موده خاموش وم نو په دې
وجه تهٔ زما نه نهٔ يرېږې څهٔ؟ ۱۲ زهٔ به ستا تش د نامې
صداقت او کارونه خلقو ته څرګند کړم. او دا به ستا هيڅ په
ښه نهٔ راځی. ۱۳ کله چې تاسو د مدد دپاره آواز وکړئ، نو
ستاسو هغه بُتان دې تاسو بچ کړی کنه. هوا به هغوئ اوچت
کړی، د ساه يو پوکے به هغوئ يوسی. خو څوک چې په ما
ايمان لری نو هغه به د مُلک مالِک شی، او زما د مقدس غر
وارث به شی.

## د مدد او د روغولو دپاره د خُدائ پاک لوظ

۱۴ مالِک خُدائ فرمائی، ”لار جوړه کړئ، لار جوړه کړئ.
دا تياره کړئ او زما د خلقو د لارې نه هر خنډ لرې کړئ.
۱۵ زهٔ هغه مقدس خُدائ تعالیٰ يم، چې د هميشه دپاره
ژوندے يم. زهٔ په اوچت او مقدس مقام کښې اوسېږم، خو
زهٔ د هغه خلقو سره هم اوسېږم چې څوک د روح عاجزان او
توبه ګار وی، نو چې داسې زهٔ د هغوئ خوشحالی او حوصله
بحال کړم. ۱۶ زهٔ به هميشه خپلو خلقو سره جنګ نهٔ کوم،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تل تر تله به ترېنه خفه نۀ يم. کۀ ما داسې وکړل نو د خلقو
نه به ساه وځى، هغه ژوندون ورکوونکى ساه چې ما تخليق
کړې ده. ۱۷ د هغوئ د بدترين لالچ په وجه زۀ هغوئ ته په
قهر وم، نو په دې وجه ما هغوئ له سزا ورکړه او هغوئ مې
رد کړل. خو هغوئ ضديان وُو او بيا بيا به خپلو لارو ته
راواپس کېدل. ۱۸ هغوئ چې څۀ کوى ما هغه ليدلى دى،
خو باوجود د دې به زۀ هغوئ ښۀ کړم. زۀ به د هغوئ
رهنمائى کوم او چې څوک غمژن وى نو زۀ به تسلى ورکوم.
۱۹ زۀ به د هغوئ په ژبه باندې د حمد و ثناء الفاظ راولم.
کۀ څوک لرې وى او کۀ نزدې وى، نو زۀ به هغه ټولو ته امن
پېش کوم، او زۀ به ورله شفا ورکوم. ۲۰ خو بدعمله خلق د
چپې وهونکى سمندر په شان دى، چې هيڅکله په آرام کيږى
نه او چپې يې ځان سره ګند ګريل راوړى.“ ۲۱ زما مالِک
خُدائ فرمائى، ”د بدعمله خلقو دپاره امن نشته.“

## حقيقى روژه

۵۸ ۱ ”په زوره چغې ووهئ، ورو ورو خبرې مۀ کوئ. د
بيګل په شان په اوچت آواز سره زما خلقو بنى اِسرائيلو ته د
هغوئ د ګناه او بغاوت په حقله ووايئ. ۲ هغوئ هره ورځ
زما لټون کوى او زما د لارې په پېژندلو خوشحاليږى. داسې
لکه چې هغه يو ډېر صادق قوم وى او د خپل خُدائ پاک
حُکمونه يې رد کړې نۀ وى. هغوئ زما نه د اِنصاف فېصلې
غواړى، او داسې څرګندوى چې خُدائ پاک ته په نزدې راتلو
خوشحاليږى. ۳ هغوئ وائى، ”کله چې مونږ روژې نيسو نو
تۀ پرې ولې نۀ خوشحاليږې؟ مونږ ځانونه دومره عاجز کړُو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تهٔ هېڅ توجو نهٔ کوې.“ ګورئ، حقیقت دا دے چې کله
تاسو روژه نیولې وی نو هم په هغه وخت تاسو په خپلو فائدو
پسې ګرځئ او د خپلو مزدورانو سره ظلم زیاتے کوئ. ۴
د داسې روژې نهٔ څهٔ فائده چې تاسو په کښې جنګ جګړې
کوئ؟ کهٔ تاسو داسې قسمه روژې ساتئ نو د دې توقع هم نهٔ
شئ کولے چې ستاسو آواز به آسمان ته ورسی. ۵ ولې زهٔ
داسې روژه خوښوم څهٔ چې انسان دې په کښې یوې ورځې
دپاره خپل ځان عاجز کړی؟ او د لوخې د پاڼې په شان خپل
سرونه ټیټ کړی او د ټاټ په جامو کښې په ایرو دپاسه
څملی؟ تاسو دې ته روژه وایئ؟ دا ورځ به مالِک خُدائ ته
قبوله وی څهٔ؟ ۶ نه، زهٔ چې څنګه روژه غواړم هغه داسې
ده یعنې، د بې اِنصافۍ په زنځیرونو کښې راګېر خلق آزاد
کړئ، د خپلو ماتحتو بوج کم کړئ. مظلومان آزاد کړئ، هر
جغ مات کړئ. ۷ اوږې خلق په خپل خوراک کښې
شریک کړئ، او بې‌کوره غریبانانو له پناه ورکړئ. چا ته چې
د جامو حاجت وی نو هغوئ له جامې ورکوئ او د خپلو
خپلوانو سره د مدد کولو نه مهٔ پټېږئ. ۸ نو بیا به تاسو لکه
د سحر د نمر په شان ځلېږئ، او ستاسو زخمونه به زر زر
جوړ شی. او ستاسو صداقت به ستاسو نه مخکښې روان
وی، او د مالِک خُدائ جلال به د وروستو نه ستاسو حِفاظت
کوی. ۹ نو بیا به تاسو آواز کوئ او مالِک خُدائ به جواب
درکوی، تاسو به د مدد دپاره سوال کوئ او مالِک خُدائ به
فرمائی، ”زهٔ حاضر یم.“ کهٔ تاسو ظلم زیاتے، بل ته ګوته
نیول او د چُغلۍ خبرې پرېږدئ، ۱۰ کهٔ تاسو اوږو خلقو له
روټۍ ورکړه او د مظلومانو مدد مو وکړو، نو بیا به ستاسو
رڼا په تیارهٔ کښې وځلېږی، او چې ستاسو نه ګېرچاپېره کومه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیارۀ وی نو هغه به د غرمې په رڼا بدله شی. ١١ نو زۀ به
همېشه ستاسو لارښودنه کوم او په اوچ بیابان کښې به هم
ستاسو حاجتونه پوره کوم. او زۀ به ستاسو وجود مضبوط
کړم. تاسو به د یو داسې باغ په شان یئ چې ډېرې تېرې اوبۀ
لری، د هغه چینې په شان چې هیڅکله نۀ اوچیږی. ١٢ او
ستاسو هغه پخوانی کنډرات به دوباره آباد کړے شی. تاسو
به تېرو نسلونو بنیادونه بیا آباد کړئ. او بیا به تاسو دېوالونه
دوباره جوړولو والا، او لارې کوڅې دوباره آبادولو والا
یادیږئ."

## د سبت ورځې د منلو اجر

١٣ "کۀ تاسو د سبت ورځ یعنې زما په مقدسه ورځ کښې
کاروبار نۀ کوئ، او دې ته د خوشحالۍ ورځ وایئ، دا د
مالِک خُدائ مقدسه ورځ گڼئ، د دې ادب کوئ او په دې
ورځ خپل د روزانه کارونه نۀ کوئ او په خپلو فائدو پسې نۀ
گرځئ، او فالتُو خبرې نۀ کوئ، ١٤ نو بیا به تاسو د مالِک
خُدائ سره په تعلق لرلو خوشحاله شئ. او زۀ به تاسو له
لوئ عزت درکړم او په هغه میراث به مو ماړۀ کړم د کوم
لوظ چې ما ستاسو پلار نیکۀ یعقوب سره کړے دے. ما،
مالِک خُدائ دا فرمائیلی دی."

## د گناه خلاف خبردارے

٥٩ ١ واورئ، د مالِک خُدائ لاس دومره وړوکے نۀ
دے چې هغه تاسو بچ کولے نۀ شی او نۀ یې غوږ کُوڼ دے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستاسو آواز نۀ اورى. ﴿٢﴾ خو ستاسو ګناه د خُدائ پاک
او ستاسو تر مينځه دېوال جوړ شوے دے. ستاسو ګناهونو
د هغۀ مخ ستاسو نه پټ کړے دے، نو په دې وجه هغه
ستاسو نۀ اورى. ﴿٣﴾ ځکه چې ستاسو لاسونه خونى، او
ستاسو ګوتې په ګناه ککړې دى. ستا شونډې دروغژنې دى او
خولۀ دې د بدعملۍ پس پس کوى. ﴿٤﴾ په عدالت کښې
څوک هم د اِنصاف مقدمه نۀ چلوى، څوک هم د رښتيا
دليلونه نۀ پېش کوى. خلق حقيقت نه خالى خبرو باندې
اعتبار کوى او دروغ وائى، هغوئ د بدعملۍ نه اُميدواره شى
او بيا ترېنه ګناه پېدا شى. ﴿٥﴾-﴿٦﴾ هغوئ د زهرژنو مارانو په
هګو کښېنى چې بچى ترې راوځى. څوک چې د هغوئ هګۍ
وخورى نو مړۀ شى او چې ماتې شى نو زهرژن مار ترېنه
راوځى. دا خلق د جولا جال جوړوى او داسې کپړه ترې
جوړوى چې هيڅ د کار نۀ وى. هغه کپړه چې هغوئ جوړه
کړه خپل ځان پرې پټولے نۀ شى. د هغوئ عملونه هم د ګناه
دى، او ظلم زياتے د هغوئ کار دے. ﴿٧﴾ بدعملۍ له هغوئ
په منډه ځى، او د بې‌ګناه وينې تويولو دپاره تېزى کوى. د
هغوئ خيالونه د ګناه دى، او هر چرته چې ځى نو تباهى او
بربادى کوى. ﴿٨﴾ نه هغوئ د امن لار پېژنى او نه د هغوئ په
لارو کښې اِنصاف شته. هغوئ خپلې لارې کږې وږې جوړې
کړې دى، نو هر څوک چې په دې لار ځى هغه امن نۀ پېژنى.

## د خلقو د ګناه اِقرار کول

﴿٩﴾ نو ځکه اِنصاف زمونږ نه لرې دے او صداقت مونږ ته
رارسى نه. مونږ د رڼا په انتظار کښې يُو، خو ګوره صرف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیارهٔ راته ښکاری. مونږ د سپینې رڼا په اُمید کښې یُو خو په
تکه توره تیارهٔ کښې ګرځُو. ۱۰ او مونږ د ړندو په شان لاس
په دېوال باندې اېښودلو اېښودلو سره لار معلوموو، د هغه
خلقو په شان چې بلکل سترګې نهٔ لری. مونږ د غرمې هم
داسې تیندکونه خورو لکه چې شپه وی، مونږ په ژوندو کښې
د مړو په شان یُو. ۱۱ مونږ ټول لکه د مېلوګانو غوریږُو، لکه
د کونترو غورغور کوُو، مونږ د اِنصاف په انتظار کښې یُو
خو شته دے نه، مونږ د خلاصون په انتظار کښې یُو خو دا
زمونږ نه لرې دے. ۱۲ زمونږ جرمونه ستا په وړاندې انبار
دی، او زمونږ ګناهونه زمونږ خلاف ګواهی کوی. مونږ ته د
خپل بغاوت احساس شته او مونږ ته پته ده چې مونږ څومره
ګناهګار یُو. ۱۳ مونږ د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت کړے
دے او د هغهٔ مو اِنکار کړے دے، مونږ خپل خُدائ پاک ته
شا کړې ده. زمونږ خبرې د ظلم او بغاوت نه ډکې دی. مونږ
په دروغ جوړول او بیا به مو دغه دروغ په عمل کښې
راوستل. ۱۴ اِنصاف وروستو شوے دے او صداقت لرې
ولاړ دے. رښتیا د ښار په چوک کښې تیندک خوړلو سره
راپرېوته، او دیانتداری ورته ورداخلېدے نهٔ شی. ۱۵ رښتیا
هیڅوک هم نهٔ وائی، او څوک چې غلط کار نه لاس اخلی هغه
لوټ کیږی. مالِک خُدائ دا ولیدل او هغه په دې نارضا وو
چې اِنصاف نشته. ۱۶ هغهٔ وکتل چې هیڅوک هم نهٔ وو، هغه
حیران شو چې د خلاصی والا څوک هم نهٔ وو چې د مظلوم
مدد وکړی. خو بیا د هغهٔ خپل لاس هغهٔ له خلاصون ورکړو،
او د هغهٔ صداقت د هغهٔ مدد کولو. ۱۷ هغهٔ صداقت د
زغرې په شان واغوستو او د خلاصون ټوپۍ یې په سر کړه.
د بدل جامې یې واغوستې او د غیرت څادر یې ځان نه تاو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړو. ۱۸ هغه به خپلو دشمنانو له د هغوئ د بدو عملونو
سزا ورکړی. د هغهٔ غضب به د هغهٔ په مخالفینو راګزار شی.
هغه به د دُنیا تر آخری سره پورې دوئ له سزا ورکړی. ۱۹
نو بیا به د نمرپرېواتهٔ په طرف خلق د مالِک خُدائ د نوم نه
یرېږی او نمرخاتهٔ په طرف خلق به د هغهٔ د نوم جلال بیانوی.
ځکه چې هغه به د یو تېز سېلاب په شان په هغوئ راشی لکه
چې د مالِک خُدائ باد راروان کړے وی. ۲۰ مالِک خُدائ
فرمائی چې، ”یو خلاصونکے به صیون ته راځی، د یعقوب
هغه اولاد له چې د خپلو ګناهونو نه اوړی. ۲۱ او ترڅو چې
زما خبره ده نو زهٔ به هغوئ سره یو لوظ وکړم. زما روح چې
په تاسو دے او زما کلام چې ما ستاسو په خولهٔ کښې
اچولے دے، هغه به هیڅکله ستاسو د خولې نه، ستاسو د
اولاد د خولې نه او د هغوئ د اولاد د خولې نه لرې نهٔ شی. دا
د مالِک خُدائ وینا ده او تر همېشه همېشه پورې به هم داسې
وی.“

## د یروشلم د راتلونکی وخت شان او شوکت

۶۰ ۱ پاڅه، وځلېږه. ځکه چې ستا نُور راغلے دے، او
د مالِک خُدائ جلال په تا ځلېدلے دے. ۲ ګورئ، داسې
لکه چې په زمکه تیارهٔ خوره وی او قومونه تکې تورې تیارهٔ
لاندې پټ وی، خو په تا باندې به د مالِک خُدائ نُور ځلېږی
او د هغهٔ جلال به ستا دپاسه ښکاری. ۳ قومونه به ستا نُور
له راشی، او بادشاهان به ستا د سحر راختونکې رڼا له راشی.
۴ خپل ځان نه ګېرچاپېره نظر واچوه او وګوره، هغوئ
ټول راغونډېږی او تا له راځی. ستا زامن به د لرې نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راشي، او ستا لوڼه به په غېږ کښې راوستلے شی. ۵ بيا به
تهٔ دا وګورې او خوشحاله به شې، ستا زړهٔ به غټ شی او د
خوشحالئ نه به درزيږی. ځکه چې د لرې مُلکونو خزانې به تا
له راوړے شی، او د قومونو دولت به تا له راشی. ۶ د
اوښانو غټې قافلې به تا له راشی، د ميديان او عيفه نه به
اوښان راشی. هغوئ به د شيبا نه راشی او سرهٔ زر او
خوشبودارې مصالحې به راوړی او د مالِک خُدائ ثناء
صِفت به کوی. ۷ د قيدار ټولې ګډې چېلئ به تا له
راوستے شی، او د نبايوت ټول ګډان به ستا خِدمت دپاره
حاضر کړے شی. زهٔ به په قربان ګاه د هغوئ قربانيانې
قبولې کړم او خپلې عبادتخانې له به شان او شوکت ورکړم.
۸ دا څوک دی چې د وريځې په شان رالوځی، لکه چې
ګوګوشتکې جالې ته راروانې وی؟ ۹ دا د ترسيس سمندری
جهازُونه دی چې تا له راروان دی. ځکه چې دا جزيرې په ما
يقين ساتی. دا سمندری جهازونه ستا اولاد سره د هغوئ د
سرو زرو او سپينو زرو د لرې لرې مُلکونو نه راولی، او
داسې به ستا د مالِک خُدائ د نوم درناوے وشی، کوم چې د
بنی اِسرائيلو مقدس ذات دے، ځکه چې هغهٔ تا له شان او
شوکت درکړے دے. ۱۰ د پردی مُلک خلق به ستا ديوالونه
بيا جوړ کړی، او د هغوئ بادشاهان به ستا خِدمت کوی. ما
په غصه کښې تا له سزا درکړه، خو اوس به زهٔ خپل فضل
سره په تا رحم وکړم. ۱۱ ستا دروازې به تل کولاو وی، شپه
او ورځ به دا نهٔ بنديږی، ځکه چې د قومونو مال دولت او د
هغوئ ګرفتار شوی بادشاهان به د فتحې په جلوس کښې ښار
ته دننه راوستل شی. ۱۲ خو چې کوم قوم او بادشاهی ستا
خِدمت نهٔ کوی نو هغوئ به برباد شی، هغوئ به په مکمل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طور تباه شی. ١٣ د لبنان شان او شوکت به تا له راشی. د
نختر، د صُندل او د سبر ونې به تا له راشی چې زما کور
ښائسته کړے شی او داسې به زۀ خپل کور له جلال ورکوم.
١٤ کومو خلقو چې به په تا ظلم زياتے کولو نو د هغوئ
اولاد به راځی او د عزت نه به تا ته ټيټيږی. هر چا چې ستا
سپکاوے کړے دے نو هغه به ستا پښو ته ټيټيږی. هغوئ به
تا ته "د مالِک خُدائ ښار" يا "د بنی اِسرائيلو د مقدس ذات
صيون" نوم اخلی. ١٥ اول تۀ رد کړے شوے وې او خلقو
به تا نه نفرت کولو، او نۀ به څوک په تا کښې تېرېدل. خو
اوس به زۀ تا د همېشه دپاره ښائسته کړم او د ټولو نسلونو
دپاره به د خوشحالۍ ځائ يې. ١٦ طاقتور بادشاهان او
زورَور قومونه به ستا هر ضرورت پوره کړی، داسې لکه چې
تۀ يو ماشوم يې او د مَلِکې سينه روې. بيا به تا ته پته ولګی
چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خلاصونکے، حفاظت کوونکے
د بنی اِسرائيلو طاقتور حکمران يم. ١٧ زۀ به ستا زېړ په
سرو زرو، اوسپنه په سپينو زرو، لرګی په زېړو او کاڼے په
اوسپنه بدل کړم. امن به ستا رهنما او صداقت به ستا
حکمران جوړ کړم. ١٨ ستا په مُلک کښې به نور د ظلم
زياتی، تباهۍ او بربادۍ ذکر قدرې نۀ کيږی. تۀ به خپلو
دېوالونو ته خلاصون او دروازو ته حمدوثناء نوم اخلې. ١٩
تا ته به نور د ورځې د نمر ضرورت نۀ وی او د شپې به درته
د سپوږمۍ ضرورت نۀ وی، ځکه چې مالِک خُدائ به ستاسو
نۀ ختمېدونکے رڼا وی او خُدائ پاک به ستاسو جلال وی.
٢٠ ستا نمر به هيڅکله نۀ پرېوځی او نۀ به دې کله سپوږمۍ
کوزيږی. ځکه چې مالِک خُدائ به ستا ابدی نُور وی، او ستا
د غم ورځې به ختمې شی. ٢١ ستا د قوم ټول خلق به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صادقان وی، او هغه مُلک به د همېشه دپاره د هغوئ په
قبضه کښې وی. ما هغوئ په خپلو لاسونو لکه د ونو په شان
کَرلی دی، ترڅو خپله لوئی او جلال ښکاره کړم. (۲۲)
ستا ټولو نه وړه او کمزورې خاندان به هم د يو طاقتور قوم
په شان لويه شی. په مقرر وخت به زهٔ داسې وکړم. زهٔ مالِک
خُدائ يم.

## د بچ کېدو زېرے

۶۱ (۱) د مالِک خُدائ روح په ما نازل دے ځکه چې زهٔ
هغهٔ مسح کړے يم، او دې له يې رالېږلے يم چې غريبانانو ته
زېرے ورکړم، مات شوی زړونه روغ کړم، د خلاصون
اعلان وکړم او غلامانو ته آزادی ورکړم. (۲) هغهٔ زهٔ د دې
دپاره رالېږلے يم چې د مالِک خُدائ د برکت نه ډک کال
اعلان وکړم، او د خُدائ پاک د بدل اخستلو ورځ راغلې ده
چې ټولو ماتم کوونکو ته تسلی ورکړم. (۳) څوک چې په
صيون کښې ماتم کوی نو هغوئ له به د ايرو په ځائ ښائسته
تاج ورکړم، او د غم په ځائ به خوشحالی ورکړم، او د
پرېشانئ په ځائ به حمدوثناء ورکړم. هغوئ به په خپل
صداقت کښې د خېرئ د داسې ونو په شان وی چې مالِک
خُدائ په خپله د خپل جلال دپاره کَرلی وی. (۴) هغوئ به
پخوانی کنډرات بيا آباد کړی او د هغه ځايونو مرمت به
وکړی کوم چې ډېره موده مخکښې تباه شوی وُو. هغوئ به
هغه تباه شوی ښارونه بيا قائم کړی کوم چې تر ډېرو نسلونو
پورې غير آباد وُو. (۵) د نورو مُلکونو خلق به ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خِدمت کوی. هغوئ به ستاسو د رَمو خيال ساتی، ستاسو پټو
کښې به يوه کوی او ستاسو د انګورو د باغونو خيال به
ساتی. ۶ په هغه وخت به تاسو د مالِک خُدائ اِمامان
يادېږئ، او خلق به تاسو ته د خُدائ پاک خادِمان وائی. تاسو
به د نورو قومونو د مال دولت نه خوند واخلئ او د هغوئ نه
چې کوم مال حال تاسو ته ملاوېږی په هغې به لافې وهئ. ۷
د بې‌عزتئ او سپکاوی په ځائ به تاسو ته يو په دوه عزت
درکړے شی. په خپل مُلک کښې به تاسو د مال دولت يو په
دوه حِصه دار يئ، او ستاسو خوشحالی به د همېشه دپاره
وی. ۸ مالِک خُدائ فرمائی، ”زهٔ د اِنصاف سره مينه کوم
او زهٔ د غلا او بدئ نه نفرت کوم. زهٔ به وفادارئ سره خپلو
خلقو له د هغوئ اجر ورکړم او د هغوئ سره به د همېشه
دپاره يو لوظ وکړم. ۹ د هغوئ نسل به په قومونو کښې او
د هغوئ اولاد به په اُمتونو کښې مشهور شی، هر څوک چې
هغوئ وګوری نو پته به ورته لګی چې دا هغه خلق دی چا له
چې مالِک خُدائ برکت ورکړے دے.“ ۱۰ زهٔ په مالِک
خُدائ کښې ډېر خوشحاله يم. زما ځان د خُدائ پاک په
تعريف کښې د خوشحالئ سندرې وائی. ځکه لکه څنګه چې
د وادهٔ زلمے د وادهٔ په جوړه کښې او ناوې په کالو ځان
سنګار کړے وی داسې مالِک خُدائ زهٔ د خلاصون په لباس
او د صداقت په څادر کښې رانغښتے يم. ۱۱ لکه څنګه چې
زمکه شينکے راټوکوی او باغ خپل تخم زرغونوی، نو داسې
به خُدائ تعالیٰ خلق صداقت ته جوړ کړی او دوئ به د ټولو
قومونو په مخکښې د هغهٔ ثناء او صِفت وکړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د صيون خلاصون

۶۲ ۱ د صيون د خاطره به زۀ غلے نۀ کښېنم، د
يروشلم د خاطره به زۀ تر هغې پورې آرام نۀ کوم چې د هغې
صداقت د سحر د رڼا په شان ونۀ ځلېږى او د هغې
خلاصون د مشعل په شان ونۀ ځلېږى. ۲ قومونه به ستا
صداقت ووينى، او ټول بادشاهان به ستا شان او شوکت
وګورى. او تا ته به يو نوے نوم درکړے شى، يو داسې نوم
چې مالِک خُدائ به په خپله خولۀ دربانديې اېښے وى. ۳
نو تۀ به د مالِک خُدائ په لاس کښې د شاندار تاج په شان يې
او د خپل خُدائ پاک په لاس کښې به د شاهى پټکى په شان
يې. ۴ تا ته به بيا هيڅکله ”پرېښودلے شوے ښار“ نوم نۀ
شى اخستلے، او نۀ به ستا زمکې ته ”خوشے مُلک“ نوم
اخستلے شى. ستا نوے نوم به ”د خُدائ پاک د خوشحالۍ
ښار“ او ”د خُدائ پاک ناوې“ وى، ځکه چې مالِک خُدائ
ستا نه خوشحال دے او ستا نه به خپله ناوې جوړه کړى.
۵ لکه څنګه چې يو زلمے يوې پېغلې سره وادۀ کوى، نو
داسې به ستا زامن تا سره لوظ وکړى. لکه څنګه چې د وادۀ
زلمے د خپلې ناوې سره خوشحاله وى، نو داسې خُدائ
پاک به ستا نه خوشحاله وى. ۶ اے يروشلمه، ستا په
دېوالونو ما څوکيداران ودرولى دى، هغوئ به شپه او ورځ
مسلسل دُعا کوى. تاسو چې څوک مالِک خُدائ ته دُعا کوئ
هيڅ آرام مۀ کوئ. ۷ او مۀ مالِک خُدائ آرام ته پرېږدئ
ترڅو چې هغۀ يروشلم قائم کړى نۀ وى او د دُنيا دپاره يې د
فخر باعث جوړ کړى نۀ وى. ۸ مالِک خُدائ په خپل ښى
لاس او زورَور متې بانديې قسم خوړلے دے او لوظ يې کړے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چې، ”زۀ به بیا ستا غله ستا په دشمنانو نۀ خوروم، او نۀ
به محنت سره جوړ شوی ستا مے د پردی مُلک خلقو باندې
څښوم. ۹ خو چا چې دا غله ریبلې وی نو هغوئ به دا
خوری او د مالِک خُدائ ثناء صِفت به کوی. او چا چې دا
انګور راټول کړی وی نو هغوئ به په خپله د دې شراب د
مالِک خُدائ د کور په دربار کښې وڅښی.“ ۱۰ بهر لاړ شئ،
د ښار دروازو نه بهر لاړ شئ. او چې کوم خلق واپس راځی
نو د هغوئ دپاره یو سړک جوړ کړئ. یو لوئ سړک تیار
کړئ، د دې نه کاڼی لرې کړئ. یوه جنډا ولګوئ چې قومونو
ته پته لګی. ۱۱ ګورئ، مالِک خُدائ ټولې دُنیا ته دا اعلان
کوی، ”د صیون لور ته ووایئ چې ګورئ، ستاسو خلاصون
راتلونکے دے. ګورئ، د هغۀ اجر د هغۀ سره دے، او د هغۀ
انعام د هغۀ نه مخکښې مخکښې روان دے.“ ۱۲ هغوئ ته به
”مقدس خلق“ او ”د مالِک خُدائ بچ کړے شوی خلق“ نوم
اخستلے شی. او یروشلم ته به ”غوره کړے شوے ښار،“
”هغه ښار چې پرېښودے شوے نۀ وی“ نوم اخستلے شی.

## په قومونو باندې د مالِک خُدائ فتح

۶۳ ۱ دا څوک دے چې د ادوم نه راروان دے، سرې
جامې یې اغوستې دی او د بُصره ښار نه راروان دے؟ دا
څوک دے چا چې د رُعب شاهی لباس اغوستے دے او
قوت سره روان دے؟ ”هم زۀ یم، چې د صداقت اعلان کوم،
او د بچ کولو طاقت لرم.“ ۲ ستا جامې ولې دومره سرې
دی؟ داسې لکه چې ستا جامې د انګورو نچوړولو سره سرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوې وی. ۳ ”ما يواځې انګور نچوړ کړی دی، په قومونو
کښې هيڅ څوک هم ما سره نۀ وو. ما په غصه کښې هغوئ
نچوړ کړی دی او د قهر نه پرې ګرځېدلے يم. د هغوئ د
وينې دارې زما په کپړو پرېوتې دی او زما جامې په وينو
سرې شوې دی. ۴ ځکه چې هغه وخت راغلے دے چې د
خپلو خلقو دپاره بدل واخلم. او هغه کال راغلے دے چې
هغوئ په بيعه واخلم. ۵ زۀ حېران شوم چې هيڅوک نۀ وو
چې خلاصے يې کړے وے او د مظلومانو مدد يې کړے
وے. نو زۀ پخپله وړاندې شوم چې هغوئ د خپل مضبوط
لاس سره بچ کړم. او زما غصې زما مدد وکړو. ۶ ما په
خپله غصه کښې قومونه چخنې او نشه کړل او د هغوئ وينه
مې په زمکه توئ کړه.“

## په آزادېدو د مالِک خُدائ ثناء صِفت

۷ زۀ به د مالِک خُدائ د نۀ ختمېدونکې مينې بيان وکړم،
هر څۀ چې هغۀ زمونږ دپاره کړی دی نو د هغې دپاره به زۀ د
هغۀ ثناء صِفت کوم. هغۀ چې بنی اِسرائيلو سره بې‌شمېره
ښېګړې کړې دی په هغې به خوشحالی کوم، کومې چې هغۀ د
خپل رحم او مينې په مطابق کړی دی. ۸ هغۀ وفرمائيل،
”دوئ زما خپل خلق دی، يقيناً چې هغوئ به ما سره دوکه نۀ
کوی.“ او هغه د هغوئ خلاصونکے جوړ شو. ۹ هغه د
هغوئ په ټولو تکليفونو کښې شريک شو. او هغوئ هغه
فرښتې بچ کړل کومه چې د خُدائ پاک د حضور نه ورغلې
وه. د خپلې مينې او زړۀ سواندی له وجې يې هغوئ په بيعه
واخستل، او ټوله پخوانۍ زمانه کښې يې هغوئ اوچت کړی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وُو او ګرځول يې. ١٠ خو هغوئ د هغهٔ خِلاف سرکشی
وکړه او د هغهٔ مقدس روح يې خفه کړو. نو مالِک خُدائ د
هغوئ دشمن شو او د هغوئ خِلاف يې جنګ وکړو. ١١ بيا
هغوئ ته هغه تېره زمانه راياده شوه کله چې موسیٰ د خپلو
خلقو د مِصر نه راوتو کښې رهنمائی کوله. هغوئ چغه کړه،
”هغه چرته دے چا چې بنی اِسرائيل د سمندر نه پورې
ويستل، چې موسیٰ د هغوئ شپون وو؟ هغه چرته دے چا
چې خپل مقدس روح راوليږلو چې د هغهٔ د خلقو په مينځ
کښې وی؟ ١٢ هغه چرته دے چا چې خپل طاقت څرګند
کړو کله چې موسیٰ خپل لاس اوچت کړو، هغه چرته دے چا
چې د هغوئ په وړاندې سمندر تقسيم کړو او خپل ځان يې د
همېشه دپاره مشهور کړو؟ ١٣ هغه چرته دے چا چې د
سمندر ببخ کښې د دوئ په تېرېدو کښې رهنمائی وکړه؟“
هغوئ لکه د ښو آسونو په شان وُو چې په صحرا کښې تېز
روان وُو او هيڅ تيندکونه يې نهٔ خوړل. ١٤ لکه څنګه چې
څاروی د آرام وادۍ ته کوزيږی، داسې د مالِک خُدائ روح
هغوئ له آرام ورکړو. مالِک خُدائ خپل خلق بوتلل او د هغهٔ
د نوم درناوے وشو.

## د رحم او د توبې دُعا

١٥ اے مالِکه خُدايه، د آسمان نه په مونږ نظر وکړه، چرته
چې تهٔ د پاکوالی او جلال سره اوسېږې. ستا غيرت او ستا
طاقت چرته دے؟ مونږ ستا د رحم او همدردۍ نه محروم
پاتې شُو. ١٦ هم تهٔ زمونږه پلار يې. اګر کهٔ اِبراهيم او يعقوب
مونږ خپل نهٔ ګڼی، خو بيا هم مالِکه خُدايه، هم تهٔ زمونږه پلار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یې، د پخوا نه تهٔ زمونږ بچ کوونکے یې. ۱۷ اے مالِکه
خُدایه، تا ولې مونږ دې ته مجبور کړو چې ستا لارې نه
واوړُو؟ او زمونږ زړونه دې ولې دومره سخت کړل چې ستا
نه نهٔ یریږو؟ د خپلو خِدمت کوونکو د خاطره راوګرځه، د
هغه قبیلو د خاطره چې ستا میراث دے. ۱۸ ستا مقدس
ځائ د لږ وخت دپاره ستا مقدسو خلقو سره وو، خو اوس
زمونږ دشمنانو هغه تباه کړے دے. ۱۹ کله کله خو داسې
ښکاری لکه چې مونږ هډو ستا خلق نهٔ وُو او نهٔ کله ستا د
خلقو د نوم پورې تړلې یُو.

# ۶۴

۱ اے، چې تهٔ آسمان وشلوې او راکوز شې، نو
غرونه به تا وګوری او ستا په وړاندې به په ریږدېدو شی. ۲
لکه څنګه چې اور لرګی سیزی او اوبهٔ خوټکوی، نو ستا
راتګ به قومونه ولړزوی. بیا به ستا دشمنانو ته ستا د
مشهورتیا پته ولګی. ۳ پخوا کله چې تا یروونکی کارونه
وکړل چې مونږ یې هیڅ توقع نهٔ کوله، نو تهٔ داسې راکوز
شوې چې غرونه ستا په وړاندې په لړزان شول. ۴ د پخوا
نه نهٔ ستا په شان خُدائ پاک چا لیدلے دے او نهٔ یې
اورېدلې دی، صرف تهٔ هغه خُدائ یې چې د هغوئ مدد کوې
څوک چې ستا په انتظار کښې وی. ۵ تهٔ هغه خلقو ته
هرکلے وائې څوک چې په خوشحالۍ سره د صداقت کارونه
کوی او ستا په لار ځی. ګوره، تهٔ مونږ ته غصه وې، خو
مونږ ګناه نهٔ پرېښودله، چې د ډېرې زمانې نه مونږ په ګناه
کښې بوخت یُو، نو څنګه به بچ شُو؟ ۶ مونږ ټول د هغه
سړی په شان یُو څوک چې ناپاک وی، او زمونږ ټول ښهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عملونه د پليتې کپړې په شان دی. مونږ د خزان د پاڼو په
شان مړاوی شُو او راپړيوځُو، او زمونږ ګناهونه مونږ لکه د
هوا په شان جارُو کړی. (٧) هيڅ څوک هم ستا نوم نۀ اخلی
او نۀ تا ته د رحم سوال کوی. تا زمونږ نه مخ اړولے دے او
مونږ دې زمونږ د ګناه په حواله کړې يُو. (٨) خو اے مالِکه
خُدايه، تۀ زمونږ پلار يې. مونږ د خټې په شان يُو او تۀ د کُلال
په شان يې. تا مونږ جوړ کړی يُو، (٩) مونږ ته سخت مۀ
غصه کيږه او زمونږ ګناه د هميشه دپاره ياده مۀ ساته. مونږ
ته وګوره، مونږ تا ته مِنت کوُو، او ګوره مونږ ټول هم ستا
خلق يُو. (١٠) ستا مقدس ښارونه تباه شوی دی، د صيون نه
بيابان جوړ شوے دے، او د يروشلم نه کنډر جوړ شوے
دے. (١١) او ستا هغه ښائسته او مقدس کور، چرته چې
زمونږ پلار نيکۀ ستا ثناء صِفت کولو، اور سيزلے دے. او
زمونږ د خوښې ټول ځايونه نه کنډر جوړ شوے دے. (١٢)
اے مالِکه خُدايه، د دې هر څۀ باوجود به تۀ زمونږ مدد نه
اِنکار کوې څۀ؟ خاموش به يې او بې‌انتها سزا به راکوې؟

## د سرکشۍ دپاره د خُدائ پاک سزا

**٦٥** (١) مالِک خُدائ فرمائی، ”ما خپل ځان هغوئ ته
څرګند کړو چا چې زما تپوس نۀ کولو، او په هغوئ مې ځان
پيدا کړو چا چې زما لټون نۀ کولو. ما وئيل چې، زۀ حاضر
يم، زۀ حاضر يم. خو بيا هم دې قوم زما نوم نۀ اخستلو. (٢)
ما ټوله ورځ سرکشه خلقو ته لاسونه کولاو نيولی وُو. خو
هغوئ په خپلو غلطو لارو ځی او ګډو وډو خيالونو پسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګرځي. ۳ هغوئ مسلسل زما په وړاندې زما بې‌ادبي کوی.
هغوئ په مقدسو باغونو کښې قربانيانې پېش کوی او د غېرو
قومونو په قربان‌ګاه باندې خوشبويۍ سوزوی. ۴ هغوئ په
قبرستان کښې کښېنی او په پټو ځايونو کښې شپې تېروی.
هغوئ د خنزير غوښه خوری، او د حرام خوراک ښوروا د
هغوئ په لوښو کښې وی. ۵ او بيا دوئ يو بل ته وائی، ”ما
ته مۀ رانزدې کېږه ګنې ما به پليت کړې. زۀ ستا نه زيات
مقدس يم.“ داسې خلق زما په سپېږمو کښې د بدبوئ په شان
دی، د داسې خراب بوئ په شان چې هيڅکله نۀ ختمېږی.
۶ ګورئ، دا زما په وړاندې ليکلے شوی دی، زۀ به غلے
نۀ پاتې کېږم او هغوئ له به پوره پوره سزا ورکوم. آو،
بې‌شکه زۀ به هغوئ نه بدله اخلم.“ ۷ مالِک خُدائ فرمائی،
”هغوئ ته به نۀ صرف د خپلو ګناهونو بلکې د پلار نيکۀ د
ګناهونو سزا به هم ورته ملاوېږی. ځکه چې هغوئ په غرونو
کښې خوشبويانې سوزولې دی او زما بې‌ادبي يې کړې ده. نو
ځکه به هغوئ له پوره پوره سزا ورکړم.“ ۸ مالِک خُدائ
فرمائی، ”ترڅو پورې چې په انګورو کښې لږ رس پاتې وی نو
خلق وائی، چې دا مۀ ضائع کوئ، ځکه چې په دې کښې څۀ
نه څۀ شته چې باعثِ برکت دی. زۀ به بنی اِسرائيلو سره هم
داسې کوم. د خپلو خادِمانو د خاطره به زۀ ټول نۀ تباه کوم.
۹ زۀ به يعقوب او يهوداه له داسې اولاد ورکړم چې زما
غرونه به قبضه کړی. زما غوره کړے شوی به د دې وارثان
شی او زما خِدمت کوونکی به هلته اوسېږی. ۱۰ د شارون
په مېدان کښې به ګډې چېلۍ څری او د مصيبت په وادۍ
کښې به غاروی آرام کوی. دا به زما د هغه خلقو دپاره وی
چې ځوک زما لټون کوی. ۱۱ خو تاسو چا چې مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ ته شا کړه او زما مقدس غر مو هېر کړو، چا چې د
قِسمت معبود ته دسترخوان ويړ کړو او د بخت معبود ته مو
د ميو جامونه ډک کړل، ۱۲ اوس به زۀ تُوره ستاسو په
قِسمت کړم. تاسو ټول به د حلالونکی په وړاندې ټيټ شئ،
ځکه چې کله ما آواز درکړو، نو تاسو جواب رانۀ کړو، او
چې کله مې درسره کلام کولو، نو تاسو نۀ اورېدو. او زما د
سترګو په وړاندې تاسو قصداً ګناه کوله او هغه څۀ به مو
کول د څۀ چې تاسو ته پته ده چې زۀ ترې نفرت کوم.“ ۱۳
نو ځکه مالِک خُدائ تعالىٰ فرمائی، ”زما خادِمان به خوراک
کوی خو تاسو به اوږی يئ. زما خادِمان به څښل کوی خو
تاسو به تږی يئ. زما خادِمان به خوشحالی کوی خو تاسو به
غمژن او په شرم پټ يئ. ۱۴ زما خادِمان به د خوشحالئ
سندرې وائی، خو تاسو به په مايوسئ او غمژن زړۀ سره ژړا
کوئ. ۱۵ زما د غوره کړے شوو خلقو په مينځ کښې به
ستاسو نوم لعنتی وی، ځکه چې مالِک خُدائ به تاسو تباه
کړی. او خپلو حقيقی خادِمانو له به يو بل نوم ورکړی، ۱۶
نو چې په مُلک کښې هر څوک هم د برکت دُعا غواړی نو
هغه به د رښتياو خُدائ پاک په نوم برکت غواړی. هر څوک
هم چې قسم کوی نو هغه به د رښتياو خُدائ پاک په نوم قسم
خوری. ځکه چې د تېرې زمانې تکليفونه به هېر کړے شی. او
زما د سترګو نه به پناه شی.“

## نوے مخلوق

۱۷ ”ګورئ، زۀ نوی آسمانونه او نوې زمکه جوړوم. د تېرې
زمانې څيزونه به نۀ شی يادولے، او نۀ به په خيال خاطر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې راځی. ۱۸ خوشحاله شئ. او زهٔ چې څهٔ پیدا کوم نو
په هغې همېشه خوشحالی کوئ. ګورئ، زهٔ به یروشلم د
خوشحالئ ځائ جوړ کړم، او د هغې خلق به د خوشحالئ
سبب وی. ۱۹ زهٔ پخپله به په یروشلم خوشحالی کوم، او د
هغې په خلقو به خوشحاله یم. په هغې کښې به نور د ژړا شور
او د پرېشانئ چغې نهٔ شی اورېدے. ۲۰ واړهٔ ماشومان به
نور په کم عُمر کښې نهٔ مری او ټول خلق به اوږدهٔ عُمرونه
تېروی. د چا عُمر چې صرف سل کاله وی نو هغه به هم
ځوان ګڼلے شی. او څوک چې د سلو کالو نه مخکښې مړ
شی نو هغه به لعنتی ګڼلے شی. ۲۱ خلق به کورونه جوړوی
او په خپله به په کښې اوسیږی، د انګورو باغونه به کَری او په
خپله به یې خوری. ۲۲ بیا به داسې نهٔ وی چې د کور
جوړولو نه پس به بل څوک پکښې اوسیږی، او د باغ لګولو نه
پس به بل څوک د دې مېوه خوری. زما د خلقو عُمرونه به د
ونو په شان اوږدهٔ وی. او زما غوره کړے شوی به د خپل
محنت څیزونو نه ښهٔ خوند اخلی. ۲۳ د هغوئ خواری به
بېځایه نهٔ وی او د هغوئ بچی به د افت سره نهٔ مخ کیږی.
ځکه چې هغوئ به د مالِک خُدائ بختور خلق وی، هغوئ او
د هغوئ اولاد به برکتناک وی. ۲۴ د دې نه مخکښې چې
هغوئ ما له آواز راکړی زهٔ به جواب ورکړم. هغوئ به لا د
خپلو حاجتونو په حقله خبرې کوی چې ما به د هغوئ
دُعاګانې قبولې کړې وی. ۲۵ شرمخان او ګېدړ به یو ځائ
خوراک کوی، زمریان به د څاروو په شان بوس خوری او
ماران به خاورې خوری. زما په مقدس غر، صیون باندې به
نهٔ څهٔ غلط کار کیږی او نهٔ به چا ته څهٔ نقصان رسی. ما،
مالِک خُدائ دا فرمائیلی دی."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ د قوم عدالت کول

۶۶ ۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”آسمان زما تخت دے او
زمکه زما د پښو چوکۍ ده. نو بیا هغه کور چرته دے چې
تاسو یې زما دپاره جوړوئ؟ هغه ځائ کوم دے چرته به چې
زهٔ آرام کوم؟“ ۲ مالِک خُدائ فرمائی، ”ما په خپل لاس دا
هر څهٔ جوړ کړل، نو بیا دا په وجود کښې راغلل. زهٔ د هغه
خلقو خیال ساتم څوک چې عاجزان او توبه کوونکی دی، او
زما د کلام په وړاندې د یرې نه ریږدی. ۳ خو څوک چې
غوَیے حلال کړی هغه داسې دے لکه چې انسان حلال کړی،
څوک چې یو ګډُورے حلال کړی هغه داسې دے لکه چې د
یو سپی څټ مات کړی، څوک چې د غلې نذرانه پېش کړی
هغه داسې دے لکه چې د خنزیر وینه پېش کړی، څوک چې
خوشبوئی پېش کړی هغه داسې دے لکه چې بُت پرستی
وکړی. دې خلقو خپلې غلطې لارې خوښې کړې دی، او د
دوئ ځان په خپلو حرامو څیزونو خوشحالیږی. ۴ زهٔ به په
هغوئ باندې لوئ مصیبت راولم، هغه ټول څیزونه چې دوئ
ترې نه یریدل. ځکه چې کله ما آواز ورکړو، نو هغوئ جواب
رانهٔ کړو، او چې کله مې ورسره کلام کولو، نو هغوئ اوریدو
نه. او زما د سترګو په وړاندې هغوئ قصداً ګناه کوله او هغه
څهٔ به یې کول د څهٔ چې هغوئ ته پته ده چې زهٔ ترې نفرت
کوم.“ ۵ اے تاسو ټول څوک چې د مالِک خُدائ د کلام
په وړاندې ریږدئ، د هغهٔ کلام واورئ، ”ستاسو خپل خلق
ستاسو نه نفرت کوی او زما د نوم له وجې تاسو د خپلوالۍ
نه وباسی. هغوئ به تاسو پورې خندا کوی او وائی، مالِک
خُدائ دې خپله لوئی ښکاره کړی چې مونږ ستاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالي ووينو. خو هغوئ به په خپله د شرم سره مخ شي.
٦ واورئ. په ښار کښې شور او غوغا، د خُدائ پاک په
کور کښې آواز ته غوږ ونيسئ، دا د مالِک خُدائ آواز دے،
خپلو دشمنانو له سزا ورکوی. ٧ د ماشوم د پېدا کېدو درد
نه مخکښې د يروشلم ماشوم وشو، د پېدايښت درد نه
مخکښې د هغهٔ زوئ پېدا شو. ٨ چا داسې خبره اورېدلې
ده؟ يا يې داسې څيز ليدلے دے؟ يو مُلک په يوه ورځ کښې
پېدا کېدے شی؟ يا يو قوم په يوه لحظه کښې پېدا کېدے شی
څهٔ؟ خو صيون سره هم داسې شوی دی. د ماشوم د پېدا
کېدو درد نه مخکښې د هغهٔ ماشومان پېدا شول.“ ٩ مالِک
خُدائ فرمائی، ”ولې زهٔ به دا قوم د پېدا کېدو حد ته راولم او
بيا به يې پېدا کېدو ته نهٔ پرېږدم؟ نه، هيڅکله نه.“ ستاسو
خُدائ پاک فرمائی، ”زهٔ به دا قوم هيڅکله د پېدا کېدو نه نهٔ
پاتې کوم. ١٠ اے هغه ټولو خلقو چې خوک د دې ښار سره
مينه کوئ، د يروشلم سره خندا او خوشحالي وکړئ. اے
هغه ټولو خلقو چې په دې باندې غمژن وئ، نو اوس ورسره
خوشحالئ وکړئ. ١١ اوس به تاسو د هغې تسلئ ورکولو
والا سينې نه ښهٔ په مړه ګېډه پئ وڅښئ، تاسو به د هغې
ښائسته ډېرو پيو نه ښهٔ خوند واخلئ.“ ١٢ مالِک خُدائ
فرمائی، ”ګورئ، زهٔ به د درياب په شان د يروشلم سلامتی
زياته کړم، او د قومونو دولت به پرې لکه د سېلاب په شان
راروان وی. بيا به تاسو د هغې سينه روئ، او هغه به تاسو په
ډوډی ګرځوی، او په خپل غېږ کښې به مو ځنګوی. ١٣ لکه
چې يوه مور خپل بچی له تسلی ورکوی، نو زهٔ به په يروشلم
کښې تاسو له داسې آرام درکړم. ١٤ کله چې تاسو دا
څيزونه وګورئ نو ستاسو زړونه به خوشحاله شي، او د تازه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شینکی په شان به زور کښې شئ. او هر څوک به ووینی چې
د مالِک خُدائ لاس د هغۀ د خادِمانو سره دے، او د هغۀ
غصه د هغۀ د دشمنانو خلاف ده. ۱۵ ګورئ، مالِک خُدائ
د اور په صورت کښې راروان دے، او د هغۀ جنګی ګاډی
لکه د طوفان په شان غړمبیږی. هغه به سخت قهر سره او د
اور د شغلو په شان سخت رټلو سره سزا ورکړی. ۱۶
مالِک خُدائ به اور او خپلې تُورې سره د دُنیا عدالت وکړی،
او ډیر خلق به د هغۀ د لاسه ووژلے شی." ۱۷ مالِک خُدائ
فرمائی، "د هغه خلقو ختمیدل رانزدې دی څوک چې خپل
ځانونه مقدس کوی او صفا کوی چې مقدسو باغونو ته لاړ
شی او د هغې په مینځ کښې د بُتانو پیروی وکړی، د خنزیر
غوښه، ناولی څیزونه او منږکان وخوری. ۱۸ ما ته د هغوئ
د خیالونو او عملونو پته ده. زۀ ټول قومونه او جدا جدا ژبو
وئیلو والا راغونډوم. هغوئ به راشی او زما جلال به ووینی.
۱۹ زۀ به د هغوئ په مینځ کښې یوه نښه قائمه کړم. او په
هغوئ کښې چې کوم ژوندی پاتې وی نو څۀ به ترې نورو
قومونو ته ولیږم. هغوئ به ترسیس، لیبیا او لِدیه چې په غشو
او لیندو استعمالولو کښې تکړه دی، او توبل او یونان ته
ولیږم. او هغه لرې مُلکونو ته به یې ولیږم چې هغوئ زما د
شُهرت نه نۀ دی خبر او چې زما جلال یې هم نۀ دے لیدلے.
هغوئ به دغه قومونو ته زما د لوئ اعلان وکړی. ۲۰ هغوئ
به ستاسو باقی پاتې خلق د هر یو قوم نه واپس راولی. هغوئ
به یې په یروشلم کښې زما مقدس غر ته مالِک خُدائ ته د
نذرانې په توګه راولی. مالِک خُدائ فرمائی، هغوئ به یې په
آسونو، قچرو، اوښانو، جنګی ګاډو، نورو ګاډو داسې راولی
لکه څنګه چې بنی اِسرائیلیان په پاکو لوښو کښې زما کور ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د غلې نذرانې راوړی. ۲۱ زۀ به د هغوئ نه څۀ کسان اِمامان
او ليويان جوړ کړم. دا د مالِک خُدائ وينا ده.“ ۲۲ مالِک
خُدائ فرمائی، ”لکه څنګه به چې زما نوی آسمانونه او نوې
زمکه زما په وړاندې قائمه وی، نو هم داسې به ستاسو اولاد
او ستاسو نوم تر همېشه پورې قائم وی.“ ۲۳ مالِک خُدائ
فرمائی، ”د هرې نوې مياشتې په راختو او د هر سبت په ورځ
به ټول خلق ما له راځی او زما عبادت به کوی. ۲۴ کله چې
هغوئ د ښار نه بهر ځی نو هغوئ به د هغه خلقو لاشونه
ووينی چا چې زما خِلاف سرکشی کړې وه. کوم چينجی چې
دغه لاشونه خوری نو هغه به هيڅکله نۀ مری او کوم اور چې
هغوئ سوزوی نو هغه به نۀ مړ کيږی. د هغوئ دا منظر به د
ټولو انسانانو دپاره يرووونکے وی.“

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.